# پوهاند رښتین نظریې
# د هغه د مرکو په هینداره کې



پوهاند صدیق الله رښتین

Ketabton.com

ذکریا ملاتړ

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهاند رښتين نظريې

## (د مرکو په هنداره کې)

ليکوال:

**زکريا ملاتړ**

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د پوهاند رښتین نظریې (د مرکو په هېنداره کې)

لیکـــوال: زکریا ملاتړ

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانگه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینگر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۴۴)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلاربنود استاد نظر

د ښاغلي زکريا ملاتړ د ماسترۍ تېزس (د پوهاند صديق الله رښتين نظريې د هغه د مرکو په هنداره کې) په درې برخو کې ليکل شوی او بشپړ شوی دی.

په مخنيو خبرو او سريزه کې د دې رسالې دليکنې اهداف او د منځپانګې موضوعات په ښه توګه څرګند او روښانه شوي دي.

همدارنګه په لومړۍ برخه کې د پوهاند رښتين ژوند ليک ، يعنې د هغه د ژوند ټول اړخونه ، ادبي او فرهنګي مصروفيتونه ، رسمي دندې او د آثارو مکمل فهرست او نور اړوند موضوعات په کرونولوژيک ډول بيان شوي دي. په دې څېرکي کې د څېړنې د پرتليز او تشريحي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

په دويمه برخه کې د پوهاند رښتين مرکې راغلې دي، ليکوال په دې برخه کې زيات زيار ويستلی او د پوهاند رښتين په مرکو پسې ګرځېدلی ، هغه يې راټولې کړې دي ، د تکراري مرکو له راوړلو څخه يې ډډه کړې او اته مرکې يې د لاسوهنې پرته کټ مټ رانقل کړې دي. هغه مرکې چې لاس ته نه دي ورغلې د هغو يادونه يې هم کړې ده. د دې رسالې د ليکلو هدف همدا دويمه برخه جوړوي ، ځکه دا روا ښاد پوهاند رښتين ټول نظريات ، د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې دادبي يون او پرمختګ پړاوونه ، ځوان او راتلونکي نسل ته دهغوی لارښوونې او مشورې ددې برخې عمده منځپانګه جوړوي.

دريمه برخه دپوهاند رښتين په اړه دنورو پوهانو نظرياتو ته ځانګړې شوې دی ، ددې برخې موضوع ډېره لويه او پراخه ده ، ځکه دپوهاند رښتين دادبي او علمي شخصيت په اړه دهغه په ژوند او تر وفات وروسته ډېرو لويو لويو پوهانو ، عالمانو ، څېړونکو ، قومي او سياسي مشرانو خپل نظريات ، اندونه او دعقيدت پېرزونې څرګندې کړې دي.

دتېزس ليکوال په دې اړه ډير زيات زيار ويستلی مهم او ګټور نظريات يې راټول کړي او په دې برخه کې يې ځای کړې دي.

دتېزس په پای کې نتيجه، وړانديزونه، مناقشه او دمأخذونو فهرست، چې دالفبا په ډول ترتيب او ليکل شوی ،راغلی دی.

زه دښاغلي زکريا ملاتړ دماسترۍ تېزس بريالی او دهراړخه پوره او ګټور ارزوم او نوموړي ددغه زيار او زحمت په بدله کې دماسترۍ دتحصيلي درجې وړ او مستحق ګڼم.

په درنښت

پوهاند ډاکتر زېورالدين زېور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخنۍ خبرې

دعلامه پوهاند رښتین بابا له درانه نامه سره له ډیرپخوا نه اشنا وم، ځکه دهغوی دکورنۍ ځینې غړې به دژمي په موسم کې د پوهاند ډاکترزیورځای (کوټ) ته راتلل.

خود پوهاند صاحب سره زما کتل هغه وخت وشول چې کله زه دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځي په لومړي ټولګي کې محصل وم داد (۱۳۵۳) لمریزکال پیل و.

مونږ د پښتو څانګې محصلینو به هغه وخت د پوهاند صاحب ټولې لیکنې اوکره کتنې په شوق او مینه سره لوستلې.

په دې دوران کې به مونږ کله کله دهغوی کورته هم تللو. هغه هیڅ وخت مونږ یوازې او ځانته نه ولیدلی ډله ډله سپین ږیري مشران او لیکوالان به یې هروخت میلمانه وو، مونږ به یوازې هلته دمشرانو خبرې اوریدې اوبیا به ترې رخصت شو.

کله چې په افغانستان کې دداخلي اوخپلمنځي جنګونو اور بل شو اوخلک دکورونو په پریښودلو مجبورشول نوپوهاند صاحب هم لومړی ننګرهاراو بیا پیښورته هجرت وکړ. دمهاجرت په کلونو کې به زه په هفته کې یوځلې حتمي د پوهاند صاحب لیدلو ته تلم او دروانو پیښو او ادبي غونډو ګذارش به مې ورته ورکاوه هغه به زما په راتګ ډیرخوشالیدو، ترډیروخت پورې به ورسره په خبرو اترو بوخت وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته به يې دا خبره تل کوله چې که ته يو ځلې په هفته کې زمونږ کورته رانه شې نوزه به درنه خفه يم.

کله چې پوهاند صاحب د پيښورپه ليډي ريډينګ روغتون کې بسترو.زه او استاد محمد اصف صميم دواړه په يو وخت پوښتنې ته برابرشو ، نوردوستان هم راغلي وو.دهغه ډيره زياته تبه وه خبرې يې ښې نه شوې کولې، پرکاله پروت و.

په ډيرتکليف سره يې داوويل (زه ډيرناروغ يم څه به کيږي تاسو به څه کوئ ) صميم صاحب په ځواب کې ورته وويل چې مونږ به درته دعاکوو او شيرخان به درته دوا (دارو ) کوي مونږ رخصت شو اوشيرخان هم مونږ سره تريوځايه راغی. په دې ورځوکې دپوهاند صاحب دپښتوادبياتو تاريخ دويم ځلې له چاپه راوتی و ، ددې کتاب بيا چاپول دپوهاند صاحب ډيرارمان و ،هغه ورته ډيرخوشحاله و اوپه لاس کې به يې کلک نيولی وا وکتلو به يې.

پوهاند صاحب دژوند په وروستيولسوکلونوکې چې روغتيايي حالت يې د ډاډ وړنه و ، دزړه تکليف او تشويش يې دواړه درلودل نوزياته غوښتنه او هيله يې وه چې دمطبوعاتو اوخپرونوله لارې خپل نظريات ، تجربې او د پښتوژبې د ترقۍ او پرمختګ لارې چارې راتلونکي نسل ته په ګوته کړي، چې ددې رسالې دويمه برخه دهمدې موضوع په اړه ده. په دې برخه کې دپوهاند رښتين اته مرکې چې په مختلفو وختونوکې يې دمختلفوورځپاڼو ،جريدو ، او مجلوسره کړي بې له کوم تغييراو لاس وهنې پرته کټ مټ په تاريخ وارډول راغلي دي.

همدارنګه دعلامه رښتين بابا په ژوند ،فن او ټولو ادبي خدمتونو باندې څه ليکل په يوه رساله يايو کتاب کې نه ځايږي بلکې څوکتابونه وربانده ليکل کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسالې په پای کې پایله او وړاندیزونه او د ماٰخذونو فهرست هم د الفبا په ترتیب سره وړاندې شوی دی، د اوه ددې رسالې د موضوعاتو او ځانګړنو په اړه یوه لنډه یادونه ، چې په پورته توګه وړاندې شوه.

پته دې پاتې نه وي ، چې د دې رسالې په تکمیل او بشپړونه کې مې د خپل لارښود استاد ښاغلي پوهاند ډاکټر زبورالدین زبور له لارښوونو څخه پوره ګټه اخیستې او زه یې د لارښوونو مننه کوم.

په پای کې د خپلې استادې پوهندوی ډاکټر زرغونې او عبدالظاهر شکیب څخه مننه کوم، چې د دې تیزس د ماخذونو په برابرولو کې یې زما سره پوره مرسته کړې ده.

په درنښت

زکریا ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


سرلیک ..... مخ

سریزه ..... ۱

د پوهاند رښتين پيژندليک (زوکړه او زده کړه) ..... ۷

د رسمي ماموريت دوره ..... ۱۲

په علمي غونډو او کانفرانسونو کې ګډون ..... ۱۸

ستاينليکونه او نښانونه ..... ۲۰

آثار او ليکنې ..... ۲۱

مړينه او مزار ..... ۲۷

د پوهاند رښتين مرکې ..... ۳۰

د جرګې مجلې سره مرکه ..... ۳۰

د شهادت (اردو) ورځپاڼې سره مرکه ..... ۳۵

د سپيدې مجلې سره مرکه ..... ۴۲

د ليکوال مجلې سره مرکه ..... ۴۸

مخ په مخ رسالې سره مرکه ..... ۶۹

د وفا جريدې سره مرکه ..... ۷۴

مرکه نامه رسالې سره مرکه ..... ۷۷

د خاورې جريدې سره مرکه ..... ۸۱

پوهاند رښتين د بهرنيو پوهانو په نظر ..... ۸۵

پوهاند رښتين د افغانستان او کوزې پښتونخوا د پوهانو ..... ۹۴

پايله او لنډيز ..... ۱۵۲

وړانديزونه ..... ۱۲۳

مناقشه ..... ۱۲۵

اخځليکونه ..... ۱۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

اروابناد پوهاند رښتین دڅه دپاسه نیمه پېړۍ دپښتو ژبې او ادب خدمت په ډېر اخلاص سره کړی دی ، هغه په پښتو ژبه ډېر مئین و ، دپښتنو او دپښتو ژبې په نقصان خفه کېدلو ، دخپل یو اثر( پښتو نثر هنداره ) په سریزه کې یې داسې لیکلي دي:

که مې دا خدمت پښتو لره پکار شي
پښتانه پرې هم له خوبه رابیدار شي
نو هله به مې خدمت ونیسي ځای څه
څه ناڅه به مې زړګی هم په قرار شي

لومړی تر هرڅه وړاندې ، چې ددې تېزس په موضوعاتو باندې رڼا واچول شي ، بې ځایه به نه وي ، چې دمرکو په اړه هم څه ناڅه وغږېږو .

مرکه: هغه ژورنالستیک صنف دی ، چې دبیلابیلو هدفونو له پاره تر سره کیږي ، خو اساسي هدف په کې دمعلوماتو راټولول دي.

مرکه په لغت کې هم صحبتۍ او ګډې ناستې ته وايي.

او په اصطلاح کې هغه خبرې اترې ، چې دیوه ټاکلي هدف په رڼا کې دسمو او باوري معلوماتو دراټولولو له پاره دیو یاډېرو کسانو سره دهغوي دفن ، مسلک او تخصص په ساحه کې تر سره کیږي ، مرکه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکه ډیر اوږد تاریخ لري ، چې لرغونتیا یې پخواني یونان ته رسیږي ، دغه فن په ابتدایي بڼه دلرغوني یونان دمشهور عالم او فیلسوف سقراط له خوا رامنځته شوی دی.
نوموړي به تل داهڅه کوله ، چې مقابل لوری (حریف ) له دې لارې نه مات او په دې وپوهوي ، چې په هیڅ نه پوهیږي.
مرکه دپوښتنو او ځوابونو په بڼه په ډله ییزو رسنیو کې کټ مټ خپریږي.
 څرنگه ، چې یو ژورنالست یا خبریال هر وخت نه شي کولای ، چې هره پیښه په خپله ووینې یا هرې غونډې او مجلس ته ورشي ، نو له همدې امله هغه دې ته اړ کیږي ، چې د پیښې یا موضوع په اړه مؤثق او باوري معلومات له عیني شاهدانو او یا له هغه چا چې په دې اړه بشپړ او دقیق معلومات لري ، دمرکې په وسیله ترلاسه کړي او بیا یې درسنیو له لارې نورو ته وړاندې کړي.
کله داسې هم کیږي ، چې دراپورتاژ تهیه کوونکی لو مړی دمرکې له لارې معلومات تر لاسه کوي او بیا دهغه معلوماتو له مخې راپورتاژ برابروي. او کله داسې هم کیږي ، چې یو خبریال دعلمي او تحقیقي مسایلو په څیړنه کې دې ته اړ کیږي ، چې داختصاصي او مسلکي موضوعاتو په اړه دمسلکي او تجربه لرونکو کسانو سره مرکې تر سره کړي او په دې توگه خپله معلوماتي پانگه زیاته او څیړنیزه دنده ترسره کړي.
نو پردې اساس ویلای شو ، چې دمعلوماتو دراټولولو له پاره مرکه ترټولو ښه او اغېزمنه وسیله ده. (۲۲: ۱۳۱، ۱۳۲)
دمرکې دتاریخچې په اړه ددې لنډې یادونې وروسته بیرته خپلې اصلي موضوع ته راځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهاند رښتین نظریې د هغه د مرکو په هنداره کې رساله په درې برخو کې لیکل شوې ده.
په لومړۍ برخه کې داروانباد پوهاند رښتین ژوند لیک راغلی دی، په دې برخه کې داروانباد دژوند پوره حال احوال د پیدائش څخه تر وفات پورې ټول په مفصل ډول بیان شوی دی ، دنثر او نظم بېلګې یې وړندې شوي او دټولو آثارو فهرست یې راغلی دی.
په دوهمه برخه کې د پوهاند رښتین اته ادبي او سیاسي مرکې بې له کوم تغییر او لاسوهنې پرته کټ مټ په تاریخ وار ډول راغلي دي.
په دې مرکو کې له تکراري مرکو څخه یوازې یوه مرکه انتخاب شوې او تکرار مرکه یې نه ده راوړل شوې ، خو دا څرګنده شوې چې دا مرکه په کومو کومو ځایونو کې نشر شوې دی. دامرکې د تېزس اصلي او اساسي موضوع جوړوي ، ځکه چې د پوهاند صیب نظریات او افکار په کې په مفصل ډول راغلي دي.
ددې رسالې دریمه برخه پوهاند رښتین دنورو پوهانو په نظر سر لیک ته ځانګړې شوې دی. په دې برخه کې یوازې دلویو او نامتو لیکوالانو نظریات او دعقیدت څرګندونې راغلي او په دوه برخو ویشل شوی دی ، لومړۍ برخه یې دبهرنیو پوهانو نظریات دي ، چې دانظریات زیاتره نوموړي ته دهغه په ژوند دلیکونو او پیغامونو په وسیله څرګند شوي دي.
ددې څپرکي په دوهمه برخه کې دهېواد او لرې پښتونخوا دنامتو لیکوالانو ، سیاسي او قومي مشرانو نظریات او دعقیدت څرګندونې د پوهاند رښتین په ژوند او تر وفات وروسته ډالۍ شوي دي.
دموضوع شالید :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهاند رښتین مرکې تر او سه پورې هیڅ چا نه وې راټولې کړې دا مرکې هغوی زیاتره دژوند په وروستیو کلونو کې کړې وې ، استاد دزړه تکلیف او تشویش دواړه درلودل ، هیله یې داوه ، چې دمرکو له لارې دخپلو ټولو معلوماتو او نظریاتو څخه ځوان او راتلونکې نسل خبر کړي.

څرنګه چې په دې مرکو کې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ ټول بهیر په مکمل ډول تشریح شوی ، نو له دې امله اړین وو ، چې دا ګټور کار ترسره شي.

د پوهاند رښتین په ژوند ، فن او نورو ادبي خدمتونو باندې هم ډېرو پوهانو کار کړی دی ، په لومړي ځل استاد بېنوا داوسني لیکوال په لومړي ټوک ۴۷۳ - ۴۹۳ مخونو کې په تفصیل سره معرفي کړی دی.

دهغه تر وفات وروسته دلرې او برې پښتونخوا ډېرو لیکوالانو دا استاد رښتین په باره کې خپل نظریات او دعقیدت پېرزوینې په نظم اوړ نثر دواړو کې وړاندې کړې دي او بیا داټولې لیکنې (دلوی استاد پوهاند رښتین یاد ) په ټولګه کې چې (۴۹۰ ) مخونه لري.

همدغه شان یوه بله ټولګه ، چې (دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد )نومیږي او (۲۹۷ ) مخونه لري ، همدارنګه( دپوهاند رښتین ژوند هنداره )اثر ، چې (۱۸۲ ) مخونه لري.

په پورتنیو درې واړو آثارو کې چې دپوهاند رښتین تر وفات وروسته لیکل شوي دي ، ما په خپل دې تیزس کې دیادو شویو درې واړو ماخذونو څخه استفاده کړې ده او پاتې نور معلومات مې دسبا ستوري مجلې د ۱۳۷۹څخه تر ۱۳۸۱کلونو دکلکسونونو څخه راخیستي دي ، پاتې دې نه وي ، چې دپوهاند رښتین دیو ناچاپ اثر( دربنتین ژوند پېښې ) اثر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په دې تيزس کې ګټه اخيستل شوې ده او د پوهاند رښتين مرکې مې له مختلفو ورځپاڼو ، جريدو ، مجلو او ځانګړو رسالو څخه راټولې کړې دي.

دليکنې مواد او لارې چارې:

څرنګه چې ما د ماسترۍ د تيزس دا موضوع دارو ابناد پوهاند رښتين تر وفات وروسته ليکلې ، نو د پوهاند صيب تر وفات وروسته د هغه د ادبي فرهنګي او علمي خدمتونو په درناوي کې ډېرې لوې لويې يادغونډې او سيمينارونه د هېواد دننه او بهر جوړ شوي او په وياړ يې فوق العاده خپرونې ، علمي او ادبي کتابونه چاپ شوي دي ، چې د هغو ټولو څخه په دې رساله کې استفاده شوې ده ، بله خبره ، چې دلته يې يادونه ضروري ګڼم دارو ابناد پوهاند رښتين دا مرکې ديوې ورځپاڼې ، جريدې ، مجلې او يا يوې رسالې سره په يو وخت نه دي تر شوي ، بلکې دا مرکې ورسره په مختلفو وختونو کې شوي دي ، ما په دې برخه کې ډېر زيار ګاللی ، چې دورځپاڼو ، جريدو او مجلو د ټولو کلونو کلکسونونه تر نظر تېر کړم او دا مرکې ورڅخه راوباسم ، دارو ابناد پوهاند رښتين له خپلو اثارو څخه هم په کې استفاده شوې ، او سني ليکوال ، د رښتين ژوند هنداره ، دلوی استاد پوهاند رښتين ياد ، د علامه پوهاند رښتين بابا ياد او نورو ګڼو ليکوالو او پوهانو دليکنو او څېړنو څخه استفاده شوې ده ، چې د دې رسالې په پای کې د ماخذونو په فهرست کې يې يادونه راغلې ده.

د دې رسالې په ليکلو کې زياته هڅه شوې ، چې د لومړي لاس منابعو څخه کټ مټ پرته له کومې لاس وهنې د غه مرکې رانقل شي او د څېړنې د تشريحي او پرتليز ميتود څخه په کې زياته استفاده شوې ده ، ځکه موضوع د نوعيت او کره توب له مخې له همدې ميتود سره تړاو درلود.

دليکنې موخه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارواښاد پوهاند صدیق الله رښتین په ژوند د اسې تصمیم نیول شوی و ، چې په ۱۳۷۷ ل کال د اوړي په موسم کې د هغه په ژوند د مرحوم د علمي او فرهنګي او ادبي خدمتونو په ویاړ یو علمي – څېړنیز سیمینار د افغان نشراتي مرکز له خوا د ښاغلي حاجي سید داود په نوښت جوړ شي ، مګر په اوړي کې د زیاتې ګرمۍ او د پوهاند صیب د ناروغتیا له کبله د غه سیمینار د همدې کال د ژمي موسم ته وځنډېده ، په دې سیمینار کې ما ته د پوهاند رښتین د مرکو موضوع وټاکل شوه ، هغه وخت چې ما د امرکې کتلې وې ، نو ډېرې ګټورې او د معلوماتو څخه ډکې وې ، نو تصمیم په دې ونیول شو ، چې یو وخت به دا مرکې راټولوم ، چې له یوې خوا به د امرکې له ورکېدو څخه خوندي شي او له بلې خوا به د پښتو ژبې د ترقۍ او پرمختګ مختلفو پړاوونو څخه راتلونکی نسل خبر او ګټه واخلي ، نو په همدې موخه مې د خپلې ماسترۍ د تیزس لپاره همدا موضوع د پوهاند ډاکټر زبور په لارښوونه د ماسترۍ بورد ته وړاندې کړه او د محترم بورد تر تائید وروسته مې د هغې په لیکنه او سپړنه پیل وکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهاند رښتين پېژند ليک

## الف: زوکړه او زده کړه:

ارواښاد پوهاند صديق الله رښتين د پښتوژبې او ادب سترليکوال محقق، اديب او نقاد، له پنځو ادبي ستوروڅخه يوځلاند ستوری چې شپېته کاله يې د پښتوژبې او ادب دا سمان لمن پخپلو روښانه وړانګو سره ښايسته کړې وه.

ارواښاد په ۱۳۹۸ ل کال دمومندو په ازاده علاقه غازي آباد کې زيږيدلی دی. دمولوی تاج محمد خان چې په مهتمم صيب مشهوررو زوی دمير احمد خان لمسی د محمد اکبرخان کړوسی او د شاه جهان خان کودی او په خټه سليما نخيل دی.

هغه وخت چې دهند آزادي غوښتونکو دمولانامحمود الحسن په فتوی دهجرت سلسله شروع کړه ،نو مولوی تاج محمد خان دترنګزو حاجي صاحب سره ملګری شو او دمومندو ازادې علاقې ته راغی.

پوهاند صاحب لومړی زده کړی په غازي آباد کې طورو مولوی محمد ايوب او قاری عبدالمستعان څخه ترسره کړی ده په ۱۳۱۱ ل کال دهډې په نجم المدارس کې داخل شو.

په ۱۳۱۵ ل کال دکابل په دارالعلوم کې شامل شو.

د دارالعلوم له فراعت وروسته يې په ۱۳۱۸ ل کال دسنبلې په مياشت کې يې د پښتو ټولنې څخه درسمي ماموريت دوره پيل شوي ده.(۴: ۴۷۳ ، ۴۹۴ )

دا سترا ديب او فرهنګي شخصيت دخپل ژوند په باره داسې ليکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(زما ژوندانه کې چې ماته کوم په زړه پورې شی ښکاري هغه زما د تعلیم دوره او زما بې اسرې ژوند دی. زه د شپږو اوو کالو له پلار پاتې شوم، چې له دوو ماشومانو ورونړو او یوې مور نه بغیر مې څوک نه لرل، پلار مې مولوی تاج محمد نومید او په مهتمم صیب مشهورو. دې په پخواني صوبه سرحد کې د ټولو اسلامي مدرسو رئیس او مهتمم و، دده تعلیمي معیار ډیر اوچت و، او د انګریزۍ او عربي ژبې لوی فاضل و.
په نویو علوموکې یې (B,A) درجه اخیستې وه.
لس کاله یې په هند کې د عربي علومو په زده کړه تیر کړل ،او په اخر کې ترې د خپل وخت یو زبردست سیاسي عالم، مبلغ، مجاهد، مدرس او زاهد جوړ شو. زمونږ په نژدې کورنۍ کې نور څوک پوهان او عالمان نه دي تیر شوی یوازې زما د پلار نه وروسته دا سلسله شروع شوې ده.
ده په خپل وخت کې د نورو عالمانو او ملګرو په مرسته ډیر دیني او مذهبي تبلیغونه کړی او د ملک او قام له پاره یې ډیر لوړ خدمتونه کړی دي. زما پلار د مومندو په (سره کمر) کې استوګنه لرله، او څه زمانه په (کمانګرۍ) کې هم اوسیده، په ازاد سرحد کې هم دده دیني، مذهبي او قومي خدمتونه تر لمر ښکاره دي.
مهتمم صاحب د منګلو د بغاوت په کال (۱۳۰۳) ل د ترنګزو حاجی سره هلته تللی و، د غورږله درده په خوست کې وفات او هلته د عسکري چاونۍ ترخنګ په یو باغچه کې خاوروته وسپارل شو.(۱۹: ۳۵، ۴۳)
پښتو ژبه چې اوس کوم مقام او نوم لری دا ټول د پوهاند صاحب او د هغه د ملګرو د کوښښونو برکت دی، هغه په عملي او نظري دواړو برخو کې پښتو ته خدمت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند صاحب تر (۸۰) زيات اثار د پښتوژبې په هره برخه کې مونږ ته ميراث پريښي دي په پښتو او دری ژبو سربيره په عربي او اردو ژبو هم پوهيده مقالې او مضامين ورباندې ليکل او ترجمې ورڅخه کړی دی.

د پښتوژبې د ترقۍ او پرمختګ اساس چې په دولتي او سياسي سطحه وزير محمد ګل خان ايښی و د دوام او پرمختګ چارې يې د دغه پنځو ادبي ستورو پوهاند عبدالحی حبيبي، استاد قيام الدين خادم، استاد ګل پاچا الفت ، عبدالروف بينوا او پوهاند رښتين په غاړه وې. (۱۸: ۸۷)

پوهاند رښتين د خپل رسمي ماموريت په لومړنيو کلونو يعنی (۱۳۱۸ نه تر ۱۳۳۲) پورې د وطن دوستی او د پښتون قوم ديووالی په روحيه اشعار هم ويلی دي چې يوه ورکوټی مجموعه يې د (خوږې وږمې) په نوم (۱۱۱) مخونو کې په ۱۳۲۱ کال چاپ شوې چې دلته يې مونږ يو څو شعره رانقلوو.

پاکه هغه خاوره ده اوسي چې پښتون پکې
خوند له حده زيات لري مرګ وي که ژوندون پکې
واړه پښتون يو ګڼو ، وي چې په هرځای کې دوی
ګوتې دې يولاس دي ټول، نشته دی بيلتون پکې

په دې شعري مجموعه کې ځينې عشقي شعرونه هم ترسترګو کيږي لکه:

چې مې عشق رهنما د دين د نيا شو
نور حاجت مې د لاربنود او رهبر نشته

*******

که مې ستا خمارې سترګې وی ليدلې
د رښتين په زړه به پاتې ارمان نه وی

خوږې وږمې (۵) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاداچې:

ستاد سترګو په جهان نشته ساهو
خلک خوشې صفت کاندې د آهو
سپین رخسار دې هسې چارې په ما وکړې
چې دعشق په دریاب یې کړم لاهو
له غیرته مې سور اور په تن بلیږي
چې دلیچو همنشین دی وي باهو
چې نسبت یې ستا د شونډو سره شته دی
ځکه خورم نازکې پاڼې د کاهو
په کوم ځای کې چې دحسن جلوه ګرشي
له تعجبه خلک جوړ کاندي هاهو

دمیړانې او همت داسې ستاینه کوي:

دهمت توره ترملا کړه ډیربه ښه وي
پرې حاصله مدعا کړه ډیربه ښه وي
دهمت په وسله ځان پوره سمبال کړه
دوطن محبوب اشنا کړه ډیربه ښه وي
پردی کټ ترنیمو شپو وي درته وایم
داستوګنې ځای پیدا کړه ډیربه ښه وي

خوږې وږمې (۱۸) مخ

اروابناد پوهاند رښتین دنظم څخه دنثرو خواته ډیرتوجه درلوده دخپل یو غوره ادبي نثر دکتاب په مقدمه کې داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(... نثرد يوې ژبې له پاره ډيرضروري دی ځکه چې بې له نثره يوه ژبه پرمخ نه شي تلای ، په نظم سره دژبې خوند او کيف زياتيږي مګرپه نثرسره دژبې پانګه او ذخيره زياتيږي.
همدا سبب دی چې پرمختللی ژبې دنثرمرغلرې زياتې لري..... )
اروانباد نثرډيرپوخ معياری او دنثرليکنی په برخه کې دکمال بريد ته رسيدلی و.
اروانباد استاد پوهاند صديق الله رشتين دخپل ادبي ژوند په اوږدو کې ګڼ شميرمنثورآثارکښلي دي چې دځومره والي اوځرنګوالي (کميت اوکيفيت ) دواړوله پلوه دپوره پاملرنې وړدي.
الف ) سفرنامی:
پوهاند رښتين دخپل ژوند په اوږدوکې يوزيات شميرسفرنامې کښلې دي. دغه سفرنامې که له يوې خوا زموږ دلوستونکيولپاره دبيلابيلو سيمواو ځايونواوهيوادونوپه پيژندنه کې ارزښتمن ګڼل کيږي، داستاد رښتين د روان او خواږه نثردبيلګوپه توګه هم خپل ارزښت ساتي. داستاد په ليکليوسفرناموکې دغه يې موږ ته ځرګندې دي
۱- دننګرهارننداره ،۲- دهند سفر ،۳- دکتغن سفر ،۴- دخوست ليدنه، **۵**- دبدخشان ننداره ،۶- داليشنګ او الينګارننداره ،۷- دعشق آباد سفر ، ۸- دشوروي اتحاد سفر ،۹- دمصرسفر ،۱۰- دپيښورسفر.
له دغوځخه يې ځينې سفرنامې دهيواد په مطبوعاتوکې خپرې شوې دي اوځينې دهغه دآثارو په بيلابيلو فهرستونوکې راغلې دي.
ب - ادبي ژباړې:
پوهاند رښتين دآثاروپه فهرستونوکې ديوشميرادبي منثورو آثارو دژباړويادونه هم شوې ده ، لکه: دمينوهنداره او دزلموظيفې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(دمینو هنداره) په عربي ژبه دابراهیم ذکی الساعی، لیکنه ده ، چې استاد رښتین په پښتو نثرژباړلې او په ۱۳۳۴ لمریز کال کې په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

ج- ډرامی:

اروابناد استاد رشتین یو شمیر ډرامې اوننداري هم لیکلې دي او په دې توګه یې د پښتو ډراموپه تاریخي بهیر کې هم خپل نوم ثبت کړی دی. موږ ته یې په آثاروکې د پښتنې میرمنې (په نوم د یوې ډرامې څرک لګیدلی دی.)

د- ادبي نثرونه:

پوهاند رښتین یوزیات شمیرادبي نثرونه لیکلي دي. دهغه زیاتره ادبي نثرونه دخواږه او په زړه پوری روان پښتو نثرغوره بیلګې دي. دهیواد په مطبوعاتو کې یې ګڼ شمیرادبي نثرونه د ادبي ټوټو او بیلابیلو تاریخي، اجتماعي، انتقادي نثرونو په بڼه خپاره شوي دي. دغه رازیې دادبي نثرونو دغه ځانګړې ټولګی (مجموعې) هم خپرې شوې دي:

۱- دژوند پلوشي،۲- دښکلا وږمه.

هـ- ادبي لیکونه:

پوهاند رښتین دځانګړیوادبي لیکونوټولګه ده. نوموړې مجموعه ، اروابناد رشتین په ۱۳۶۱ لمریز کال کې چاپ ته چمتوکړې وه. دیوشمیرکورنیو او بهرنیو پوهانو هغه لیکونه په کې راغلې چې استاد رشتین ته یې لیکلي وو. دغه راز، په پای کې استاد بینواته د استاد رشتین یو اوږد لیک په کې راغلی دی. دغه اثرپه ۱۳۷۳ لمریز کال کې په پیښورکې د دانش کتابتون له لوري چاپ او خپورشوی دی.

داروابناد استاد رشتین نثردیولړځانګړنولرونکی دی. لکه:

- دغه نثرخوږ، روان او ساده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تاريخي او ټولنيز مسايل هم دموضوعاتو له درونـد والي سره سره په روانه ژبه مطرح شوي او کښل شوي دي.
- جملې يې لنډې لنډې دي او مطلب په غوڅه توګه په کې بيان شوى دى.

دهيري استعارو اوکنايوخواته ډيره پاملرنه نه ده په کې شوې.
ددغو نثرونوموضوعګانې ژورتاريخي، ټولنيز، اخلاقي اوحتى سياسي ارزښتونه لري.

خپله پوهاند رشتين دخپلونثرونوځانګړنوته اشاره لري او يوځاى دخپل يونثرپه اړه ليکي: (دانثرخو څه قدرادبي رنګ اوخوند لري، مګرزما نورنثرونـه دژبنيوخيړونـو دپـاره اسـان او سـاده شـکل لـري اودکنـايواو استعاروارخ په کې کمزورى دى. وجه يې داده چې علمي شيان په اسانه ژبه ليکل سودمنه
خبره ده. زه کله کله دتوروا و کلموپـه سـپيڅلتيا کې دومره ګيرشم، چې معنـى خپـل اهميـت بـايلي اوفکـر دلفظونوپـه لومـه کـې ونښـلي.)پوهاند رشـــتين اودهغـــې دورې ديوشـــميرنوروليکوالودنثرهمدغه مخـــکښ ارزښـتونه دي چـې دپښـتو نثـر دتـاريخي بهيرڅيړونکـودوى د نثـر د جـلا سبکونوايجادوونکي اومخکښـان ګڼلي چې پرراتلونکيـويې خپـل اثـرات لرلي دي.(۲: ۲۴۷ )
اوس به دموضوع په اړه دهغوى دنثريوه نمونه هم دلته راوړو.
څوک ګرم دي ؟
هغه څوک چې په يوه موضوع کې دليل اومنطق ته غوږ نه نيسي
هغه څوک چې دڅوکۍ په زوردبل ملامتولو کوښښ کوي
هغه څوک چې پردۍ پنې په پښوکوي او سترګې پټوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوک چې حلال حرام یو شان رانغاړي.
هغه څوک چې حق په زور ثابتوي.
هغه څوک چې غریب او مظلوم ځوروي.
هغه څوک چې دیار اشنا سره هم په ټګۍ روان وي.
هغه څوک چې هم دغله ملګری وي هم دمله.
هغه څوک چې په دوو بیړیو پښې ږدي.
هغه څوک چې اوښان په بډه وهي.
هغه څوک چې پیلان ساتي او دروازې نګې نه جوړو ي.
هغه څوک چې د پښتنو سره په چل ول او ټګۍ چلیږي.
هغه څوک چې یو ته وایې ستایم او بل ته وایې ستا.
هغه څوک چې سرونو خوشتوي او یو هم نه خریي.
هغه څوک چې وایې یو څه او کوي بل څه.
هغه څوک چې دین په دنیا ، ملت او قوم په پردو خرڅوي.
هغه څوک چې غوږونه لري او سترګې نه لري.
هغه څوک چې دځان په ګټه کې دقوم ضرر لټوي.
هغه څوک چې ملت خفه کوي او څوتنه خوشحالوي
هغه څوک چې په رسمي کارونو کې دوستي او اشنایې چلوي
هغه څوک چې دمیزاوچوکې ناوړه استفاده کوي.
هغه څوک چې پښتون جګیدو او وینښیدو ته نه پریږدي (۱۲: ۳)

دپوهاند صاحب دنثرپه اړه ډاکترښاغلی راج ولی شاه خټک د پیښور د پښتو اکیډیمی پخوانی مشرداسې وایې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(...کوم بنيادي کارچې دې مشرانو کړی دی.هغې پښتو ددې جوګه کړه چې د يوملت قامي، سرکاري او دفتري ژبه وګرځي.
دا کتاب (دښکلا وږمه) د رښتين صاحب د تخليقي او فني نثر د مضامينو مجموعه ده، د تکل او انشايي انداز په دې نثرکې که يو خوا د مضمون ښکلا بريښي نو ورسره د فني نثر يوه ښکلې پسته او خوږه ژبه هم ده ..... )
(دښکلا وږمه ) (۱۰) مخ.
انځور صاحب د پوهاند رښتين د نثر د ښيګڼو په اړه ليکي:
(... د استاد رښتين نثر د هغه مهال د ادبي يون او پرمختګ په پام کې سا تلو سره خوږ، ساده او روان ادبي نثر دی د همد غو استادانو لومړنی ارزښتمنې هڅې د دې سبب شوې چې زمونږ ادبي يون د ښايست په نويو وريښمينو لارو روان شي او لا په زړه پورې او اغيزمنه بڼه غوره کړی. )
د علامه پوهاند رښتين بابا ياد **۲۵۴** مخ
پوهاند صاحب په شخصي لحاظ ښه ميلمه پالونکی ،صادق او بې ريا سړی و.
په عقيده کې ډيرټينګ او سخت انسان و، د خپلې وظيفې تل پابند او په ملګرتوب کې غښتلی او کلک و، څه يې چې لرل هغه به يې د ملګرو سره يوځای خوړل ،خبرې يې کمې کولې، خو عمل يې زيات کاوه.
نوموړي به تل خپلو وېناو کې د پښتنی خويونو او صفتونو يادونه کوله چې پخپله يې هم د غه ټول خويونه او صفتونه درلودل.(۱۴: **۳۳۷** )
پوهاند صاحب د پښتو ژبې د علمي کيدو، ملي کيدو او رسمي کيدو له پاره بې سارې هلې ځلې کړی او ويل به يې:
پښتو ووايې، پښتو وليکئ او پښتو وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رسمي ماموریت دوره

پوهاند صدیق الله رښتین دلومړي ځل لپاره په ۱۳۱۸ لمریز کال د سنبلې په میاشت کې د ماموریت دوره پیل کړه چې تردې وروسته یې جلا جلا چارې په دې ډول دي.

په ۱۳۱۸ ل کال په سنبله کې د کابل ادبي انجمن (پښتو ټولنې) غړی.

په ۱۳۲۰ ل کال د پښتو ټولنې د قواعدو د څانګې مدیر.

په ۱۳۲۱ ل کال په ثور کې د پښتو ټولنې د معاون کفیل او د لغاتو او قواعدو څانګې مدیر.

په ۱۳۲۲ ل کال په سنبله کې د پښتو دایرت المعارف د څانګې آمر.

په ۱۳۲۵ ل کال په اسد کې د مطبوعاتو د ریاست د نشراتو د لومړۍ څانګې مدیر.

په ۱۳۲۷ ل کال په سنبله کې د پښتو ټولنې عمومي معاون او د پښتو دایرت المعارف آمر.

د ۱۳۲۵ ل کال څخه تر ۱۳۲۹ ل کال تراخره پورې سربیره په پورتینو وظایفو د ادبیاتو په پوهنځي کې د استادۍ دنده هم سرته رسوله.

په ۱۳۳۰ ل کال د حمل میاشت کې د پښتو ټولنې عمومي مدیر شو.

په ۱۳۳۴ ل کال د حمل په میاشت کې د پښتو ټولنې رئیس و ټاکل شو.

په ۱۳۳۵ ل کال په جوزا کې د ادبیاتو د پوهنځي رسمي استاد او د پوهنې وزارت د مشاور په توګه وټاکل شو.

په ۱۴۳۲ ل کال د پوهنوال په علمي رتبې ومنل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۳۴۰ ل کال يې د پوهاند علمي رتبې ته ترفيع وکړه.
په ۱۳۴۲ل کال د سرطان په مياشت کې په دويم ځل د پښتوټولنې رئيس وټاکل شو، چې دا دوره يې لس کاله وه.
په ۱۳۵۲ل کال د سنبلې په مياشت کې تقاعد ورکړی شو.
په پورتنيو دندو سربيره يې له ۱۳۲۸ل کال څخه تر ۱۳۲۹ل کال پورې په کابل راډيو کې ديو خصوصي پروګرام چلوونکی و.
په ۱۳۲۹ل کال کې دهيواد ورځپاڼې چلوونکی.
په ۱۳۳۳ل کال څخه تر ۱۳۳۷ل پورې د مازديګرله خوا په کابل راډيو کې ديو مخصوص پروګرام (پښتونستان) دکميټې غړی و.
د ۱۳۳۶ دميزان له مياشت څخه تر ۱۳۴۰ل کال پورې دکابل راډيو درنګارنګ پروګرام چلوونکی و.
په ۱۳۳۱ل کال کې دزيري جريدې ددويمې دورې مؤسس.
د ۱۳۴۳ل کال څخه تر ۱۳۴۸ل کال پورې دکابل راډيو دادب وږمو چلوونکی و.
د ۱۳۴۰–۱۳۴۴ل کال پورې دوږمې مجلې دکتونکی ډلې غړی.
د ۱۳۳۷ل کال څخه تر ۱۳۴۲ل کال پورې د پوهنتون دعالي شوراغړی.
۱۳۲۱ل کال د پکتيا دوړانګې جريدې مؤسس.
۱۳۲۲ل کال کې دفراه سيستان دجريدی مؤسس او لومړی چلوونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په علمي غونډو او کنفرانسونو کې ګډون

پوهاند رښتين په ډيرو داخلي او خارجي غونډو او کنفرانسونو کې برخه اخيستې ده، په دې لړکې پخواني شوروي اتحاد ، ايران ، مصر، هند او پيښور ته تللی .
او په دې هيوادونو کې علمي ويناوې کړې دي چې په وروسته ډول ښودل کيږي .
۱- ۱۳۲۹ ل کال د هند د پښتون په لويې جرګې کې په دهلی او جمشيد پور کې ويناوي کړې دې.
۲- په ۱۳۳۱ ل کال په اسد مياشت کې د پښتونولی په باب د مطبوعاتو په سالونو کې وينا کړې ده.
۳- په ۱۳۳۲ کال د پښتوليک دود په باب د پيښور په پښتو اکاډيمی کې وينا کړې ده .
۴- په ۱۳۳۲ ل کال په عقرب کې د يو کلتوري هئيت د مشر په توګه شوري اتحاد سفر کړی او د پوشکين په باب يې په مسکو کې وينا کړې ده .
۵- په۱۳۳۷ل کال د دلو په مياشت کې مصر ته تللی او د اسکندرې د ادب په پوهنځي کې د پښتو په باب وينا کړې ده .
۶- په۱۳۳۸ل کال کې د مسکو د ختيځ پيژندنې په انستيتوت کې د پښتو په باب يو اوږد کنفرانس ورکړی دی.
۷- په ۱۳۴۲ ل کال په ميزان کې د خواجه عبد الله انصاری په نړيوال سيمينار کې چې په کابل کې جوړشوی و ، د تصوف په باب وينا کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- په ۱۳۴۳ ل کال په عقرب کې د جامي په کاليزه کې د جامي او پښتانه اديبان په نامه وينا کړې.
۹- په ۱۳۴۴ ل کال په اسد کې د پيښور پوهنتون په سيمينار کې د پښتو د نثر او ګرامر په باب وينا کړې.
۱۰- په ۱۳۴۴ ل کال د حوت په مياشت کې د ډهلي پوهنتون د پارسي ادبياتو په څانګه کې د پښتو ادبياتو په باب وينا کړې ده.
۱۱- په ۱۳۴۵ ل کال په اسد کې د خوشحال خان په سيمينار کې د خوشحال خان د نثر په باب يو کنفرانس ورکړی دی.
۱۲- ۱۳۴۶ ل کال په جوزا کې چې د قلمي نسخو يو نړيوال سيمينار جوړ شوی و د پښتو د قلمي نسخو په باب يو اوږد کنفرانس ورکړی دی.
۱۳- په ۱۳۴۸ل کال په جوزا مياشت کې د تاشکند د ختيځ پيژندنې په انستيتوت کې د پښتو ادب په باب وينا کړې.
۱۴- په ۱۳۴۹ ل کال په اسد مياشت کې د خوشحال خان ختک په دويم نړيوال سيمينار کې د خوشحال د نثر په باب وينا کړې.
۱۵- په ۱۳۵۱ ل کال په ميزان مياشت کې د مرکزي اسيا د کلتور په غونډه کې د پښتو او پارسي د ارتباط په باب وينا کړې.
۱۶- په۱۳۵۲ل کال د جوزا په مياشت کې د البيرونی د زرم تلين په غونډه کې دده د ژبپوهنې په باب وينا کړې.
۱۷- په ۱۳۵۴ ل کال د قوس په مياشت کې د پښتو څېړنو په نړيوال کنفرانس کې وينا کړې.
۱۸- په ۱۳۵۶ ل کال د اسد په مياشت کې د پښتو د چاپي اثارو په سيمينار کې وينا کړې.(۱۱: ۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستاینلیکونه او نښانونه

پوهاند رښتین د خپلو علمي او ادبي لیکنو د کښنلو پر اساس په یو لړ ستاینلیکونو او نښانو باندې هم لمانځل شوی دی.
په ۱۳۲۷ ل کال د صدارت له خوا دوهمه درجه ستاینلیک ورکړی شوی.
په ۱۳۳۳ ل کال د مطبوعاتو له خوا دریمه درجه ستاینلیک ورکړی شوی.
په ۱۳۳۸ ل کال د پوهنې وزارت له خوا د پوهنې مډال ورکړی شوی.
په ۱۳۴۵ ل کال د پوهنې وزارت له خوا د رښتین طلایي نښان ورکړی شوی.
په ۱۳۴۹ ل کال ورته د پوهنې وزارت له خوا د نمانځنې پاڼه او دوه میاشتې بخشش ورکړی شوی.
په ۱۳۴۳ ل کال ورته د لویې جرګې د غړیتوب نښان ورکړی شوی دی.
په ۱۳۲۷ ل کال یې یو ادبي نثر (نوی کال نوی زیری) ترعنوان لاندې د پښتو او پارسی مقالو په ډله کې لومړی درجه مطبوعاتي جایزه ګټلې ده، د قضاوت د هئیت غړي- شهید محمد هاشم میوندوال، ارواښاد عبدالرحمن پژواک او مرحوم سید شمس الدین مجروح وو.
په ۱۳۴۰ ل کال د ننګرهار ورځپاڼې له خوا یو ستاینلیک ورکول شوی.
په ۱۳۴۲ ل کال د انیس ورځپاڼې له خوا ستاینلیک ورکول شوی.
په ۱۳۷۵ ل کال د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا ستاینلیک او هم د ځلیدونکی لمراداري له خوا هم ورته ستاینلیک ډالی شوی دی. (۱۱: ۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهاند رښتین اثار

داروانښاد پوهاند رښتین د ټولو اثارو په اړه پوهاند ډاکترزیور (دلوی استاد پوهاند رښتین یاد )کتاب کې د (۴۵۵ ) مخونو کې یوه اوږده علمی مقاله دلوی استاد پوهاند رښتین ادبي هلې ځلې ترعنوان لاندې لیکلی او دهغه په اثارویې تحلیلي څیړنه کړی ده. همداشان ښاغلي ازمون هم (د پوهاند رښتین ژوند هنداره ) لومړی څپرکې د پوهاند رښتین ژوند او ادبي هلې ځلې ترعنوان لاندې داموضوع ښه په تفصیل سره څیړلی ده ،ښاغلي سرمحقق زلمی هیوادمل صاحب هم دازاد افغانستان مجلې لومړی کال دویمه ګڼه کې داموضوع په تفصیل سره څیړلی ده.

دلته یې اوس مونږ یوازې داثارو دنومونو فهرست وړاندې کوو.

لومړی چاپ شوي اثار:

۱- پښتانه شعراء دوهم ټوک ۱۳۲۱ ل کال

۲- پښتو ادب تاریخ -------- ۱۳۲۵ ل کال

۳- پښتوژبې د شپږم سمسترکلي...... ۱۳۳۳ ل کال

۴- د پښتو کلی لومړی لیار ښوونکی...... ۱۳۲۲ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه........ ۱۳۲۶ ل کال
۶- پښتو گرامر اول ټوک ......... ۱۳۲۷ ل کال
۷- د عبدالحمید مومند دیوان تدوین او مقدمه .. ۱۳۳۱ ل کال
۸- د خوشحال خان خټک بازنامه....... ۱۳۳۲ ل کال
۹- د پښتو قیصې...... ۱۳۳۱ ل کال
۱۰– نوی ژوند ....... ۱۳۳۱ ل کال
۱۱- د پښتون یار......... ۱۳۳۱ ل کال
۱۲- د معارف د دویم ټولګي پښتو قرائت ځوځلې چاپ
۱۳- د معارف د دریم ټولګي پښتو قرائت ځوځلې چاپ
۱۴- د معارف دریم ټولګي دینیات ځوځلې چاپ
۱۵- د معارف د شپږم ټولګي دینیات ځوځلې چاپ
۱۶- د معارف د دولسم ټولګي پښتو ځوځلې چا پ
۱۷- د پښتو مصدرونو لارښود ....... ۱۳۴۴ ل کال
۱۸- د هند سفر.......... ۱۳۳۴ ل کال
۱۹- د مینو هنداره......... ۱۳۳۴ ل کال
۲۰ – دژوند سندره ...... ۱۳۳۸ ل کال لومړی چاپ او دویم چاپ ۱۳۸۵ ل
۲۱ – د پښتو نخوا پیښې ....... ۱۳۳۰ ل کال
۲۲- ژبښودنه . ....... ۱۳۴۲ ل کال
۲۳ – پښتو عروض....... ۱۳۴۴ ل کال
۲۴ – د خوشحال طب نامه........ ۱۳۴۴ ل کال
۲۵- د جلال الدین تذکره ........ ۱۳۱۸ ل کال
۲۶- ننني لیکوال......... ۱۳۱۸ ل کال
۲۹- د پښتو ادبیات تاریخ ۱۳۱۸ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۰ – د پښتو ادب دری ادبي کورنۍ ....... ۱۳۲۲ ل کال
۳۱ - د پښتو او سانسکریت نیږدیوالی ...... ۱۳۲۵ ل کال
۳۲ - شیرشاه سوري ........ ۱۳۳۴ ل کال
۳۳ - تاریخچه ادب پښتو......... ۱۳۳۳ ل کال
۳۴ – د فراه پېژندنه ........ ۱۳۳۶ ل کا ل
۳۵ - دعلیخان پېژندنه ...... ۱۳۳۶ ل کال
۳۶ - د پښتو قلمي نسخې ....... ۱۳۴۷ ل کال
۳۷ - پښتو پېژندنه ........ ۱۳۵۶ ل کال
۳۸ - د الماتا سفر ...... ۱۳۵۱ ل کال
۳۹ - داریانا دایرت المعارف پښتوژباړه
۴۰ - پښتو نثر........ ۱۳۲۰ ل کال
۴۱ - د پښتو قلمي نسخو څیړنې لارښود .... ۱۳۴۷ ل کال
۴۲ - د کتغن سفر........ ۱۳۳۰ ل کال
۴۳ - پښتني لارښود ..... ۱۳۵۶ ل کال
۴۵ - روښان ستوری.... ۱۹۸۷ م کال
۴۶ - نومیالي پوهان او غازیان.... ۱۹۸۸ م کال
۴۷ - د پښتو تاریخي سیمینار ....... ۱۹۸۷ م کال
۴۹ - د پښتو نثرهنداره ...... ۱۳۴۲ ل کال
۵۰ - نوې څیړنه ........ ۱۳۵۸ ل کال
۵۱ - ادبي او تاریخي سمونې ......... ۱۹۹۲ م کال
۵۲ - د پښتو ادبي مکتبونه ........ ۱۳۶۲ ل کال
۵۳ - ادبي لیکونه ........ ۱۳۷۳ ل کال
۵۴ - د مهتمم ژوند ....... ۱۹۹۸ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۵**- پیاوړي شاعران...... **۱۹۹۳**م کال
**۵۶**- دننګرهارننداره........ **۱۳۷۴**ل کال
**۵۷**- لرغوني پښتو......... **۱۳۷۳**ل کال
**۵۸**- پښتو ګرامرلومړی او دویم ټوک
**۵۹**- دژوند پلوشې........ **۱۹۹۵**م کال
**۶۰**- نومیالي شاعران........ **۱۳۷۰**ل کا ل
**۶۱**- داشعاروډولونه....... **۱۳۷۴**ل کال
**۶۲**- خوږې وږمې....... **۱۳۶۱**ل کا ل
**۶۳**- دښکلا وږمه.. **۱۹۹۲**م کال
**۶۴**- غوره کتنه اونوی کتنه........ **۱۳۸۳**ل کال
یادونه: نوی کتنه او غوره کتنه دوه اثره په یوټوک کې چاپ شوی.
دویم ناچاپ آثار:
۱- پښتنې میرمنې (ډرامه)
۲- دژوند پلوشې دوهم ټوک
۳- په هند کې پښتوکتابونه
۴- خپلواک ژوند
۵- نړیوال کنفرانسونه
۶- دشوروي سفر
۷- دمصرسفر
۸- زما ژوند اوهلې ځلې
۹- انوک اردن
۱۰- دهیواد ننداري
۱۱- دزلموو ظیفې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲- د رښتین ژوند پیښې.
۱۳- د بدخشان ننداره کابل مجله کې چاپ
۱۴- د الینګار او الیشنګ ننداره کابل مجله کې چاپ
۱۵- د خوست لیدنه کابل مجله کې چاپ
۱۲- د عشق آباد سفر کابل مجله کې چاپ
یادونه: د پورته څلورو سفرنامو یادونه ښاغلي سرمحقق زلمی هیوادمل صاحب د آزاد افغانستان مجلې په دویمه ګڼه (۷۹) مخ کې راوړی ده.
همدارنګه پوهاند رښتین د اثارو یوه زیاته برخه د هیواد په مطبوعاتو کې د مقالو او مضامینو په بڼه خپاره شوې چې ځینو مضامینو ته یې کتابی شکل ورکول شوی خو داسې مضامین یې هم پاتې دي چې په دې کتابونو کې نه دی راغلی که هغه مضامین راټول شی نو کیدای شي چې د پوهاند صیب په کتابونو او اثارو کې به نوره اضافه هم وشی.(*)
هغه کتابونه چې جایزې اخیستی دي په لاندې ډول ښودل کیږي:
۱- پښتنې تورسرې: ۱۳۱۸ل کال د اقتصاد دریمه درجه جایزه.
۲- د حمید دیوان تدوین او مقدمه: ۱۳۲۰ل کال د اقتصاد اوله درجه جایزه.
۳- خوږې قیصې: ۱۳۲۲ل کال د اقتصاد څلورمه درجه جایزه.
۴- د پښتو ادب تاریخ: ۱۳۲۳ل کال د خوشحال اوله درجه جایزه.
۵- د پښتو لومړی لیارښوونکی: ۱۳۲۴ل کال د اقتصاد اوله درجه جایزه.
۶- د پښتو اشتقاقونه: ۱۳۲۵ل کال د اقتصاد دوهمه درجه جایزه.
۷- د زلمو وظیفی: ۱۳۲۵ل کال د اقتصاد دریمه درجه جایزه.

---

*د پوهاند صاحب په اثاروکې په دې نوم دکوم اثرذکرنشته خودژوند پلوشې په نوم لومړی او دویم ټوک لری چې لومړی ټوک یې په ۱۹۹۵ع کال په پیښورکې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- د پښتو نثر: ۱۳۲۲ ل کال د اقتصاد څلورمه درجه جایزه.
۹- ځلاندې پلوشې: ۱۳۲۲ ل کال د اقتصاد دریمه درجه جایزه.
۱۰- د پښتنو مجاهدې: ۱۳۲۷ ل کال د خوشحال دریمه درجه جایزه.
۱۱- نوی ژوند: ۱۳۳۱ ل کال د خوشحال لومړی درجه جایزه.
۱۲- هند سفر: ۱۳۳۲ ل کال د رحمان بابا لومړی درجه جایزه.
۱۳- پښتو خیړنه(پښتو پیژندنه): ۱۳۳۳ ل کال د خوشحال دریمه درجه جایزه.
۱۴- د اشعارو ډولونه: ۱۳۳۴ ل کال د خوشحال څلورمه درجه جایزه.
۱۵- د پښتو نثر هنداره: ۱۳۴۲ ل کال د سید جمال الدین دوهمه درجه جایزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهاند رښتین مړینه او مزار

اروانباد پوهاند رښتین دژوند وروستي کلونو دهیواد په روان ناورین کې دناروغتیا په حال کې تیرکړل، چې ددې ناروغۍ څولاملونه ووچې یولامل یې تنظیمي او خپلمنځي جنګونه اوزیاتې مرګ ژوبلې وې.
بل لامل یې دهیواد څخه په مهاجرت مجبورکیدل و.
اودریم لامل یې دهغه وخت ددوولسیزو دچارواکوبې کفایتي اوناپوهي وه.
دهمدې ناخوالوپراساس ورته دزړه ناروغي پیدا شوه اوبالاخره د ۱۳۷۷ ل کال دلیندۍ دمیاشتې په پنځمه نیټه دپنجشنبې په ورځ دولس نیمې بجې دپېښورپه جرنیلي (R,H) روغتون کې د (۷۹) کالو په عمرپه حق ورسید. (اناالله وانا الیه راجعون)
دمرحوم دجمعې مبارکه شپه په خپل کور حیات آبادکې راغله اودجنازې لمونځ یې دجمعې په ورځ (۹) بجې دلیندۍ دمیاشتې په شپږمه نیټه دحیات آباد په ځلورم فیزکې دکوزې اوبرې پښتونخوا دګڼو لیکوالوادیبانو ،قومي مشرانو، دوستانو اوخپلوانوپه ګډون کولو سره اداشو.
دجنازې لمانځه وروسته نومیالي لیکوال اوقومي مشراجمل خټک اوپوهاند محمدرحیم الهام داروانباد په ژوند او ادبي هلوځلوباندې رڼا واچوله ورپسې دپوهاند صاحب دوو زامنو، الحاج فضل الله رښتین او پوهنمل شیرخان رښتین لنډې خبرې وکړې له (۹) بجو وروسته داروانباد جنازه پورته او دخپل وصیت سره سم دننګرهارولایت دبهسودو په ولسوالۍ کې خاوروته وسپارل شود جنازې دښخولو په مراسموکې یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننګرهارولایت زیات شمیرمنورینو ، دننګرهارپوهنتون استادانو محصلینواوګڼ شمیرفرهنګیانو ،دوستانواوخپلوانو ګډون کړی و .
داروانښاد فاتحه دلیندۍ دمیاشتې په (۱۲) نیټه ۱۳۷۷ل کال دپیښورپه سپین جومات کې واخیستل شوه چې دکوزې اوبرې پښتونخوالوی لوی دولتي اوقومي مشرانوپکې برخه اخیستې وه.
دفاتحې په پای کې دافغانستان دمطالعاتو د مرکز مشر پروفیسر رسول امین او جهادي مشرقاضي محمد امین وقاد داروانښاد په خدمتونوباندې رڼا واچوله.
همدارنګه داروانښاد فاتحه دننګرهارولایت په سپین جومات اودکابل پوهنتون اوعلوموااکاډمۍ له خوا دکابل دشیرپورپه جومات کې واخیستل شوه.
همداشان دهیواد څخه بهر اوداخل په نورو ولایتونو کې هم داروانښاد د ادبي، فرهنګي اوعلمي خدمتونو په اړه درنې تعزیتي غونډې او کنفرانسونه جوړ شوی دي.
پوهاند رښتین دوه زامن او درې لوڼه لری چې مشرزوی یې الحاج فضل الله رښتین او کشرزوی یې پوهنمل شیرخان رښتین چې په یوه ترافیکی پیښه کې شهید شوی دی او نوراولادونه یې دخدای په فضل تراوسه حیات دي.
دپوهاند رښتین مرکې
اروانښاد پوهاند رښتین دخپل ژوند په ادبي بهیرکې یوشمیرادبي اوسیاسي مرکې د رادیو ، تلویزون او مختلفو ورځپاڼوجریدو اومجلوسره دژوند په وروستیولسوکلونوکې کړی دي دامرکې تولې ګټورې او دمعلوماتو څخه ډکې دي ځکه چې دیوې خوا پکې دپښتوژبې ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیرخیړل شوی اوله بلې خوا دځوان نسل لپاره دپښتوژبې دپرمختګ په اړه مهمې سپارښتنې شوی دي.
پوهاند صاحب له ډیرپخوانه دکابل رادیو سره همکاري لرله ،هلته یې په مختلفو وختوکې مختلف پروګرامونه چلولی دي، کیدای شي چې په هغه وخت کې یې هم کومه یوه مرکه کړی وي.
په وروستیو وختونو کې یې د (بي، بي ،سي) راډیو سره هم مرکه کړې وه.
دننګرهاردشاعرانو او لیکوالو له خوا ورسره په ۱۳۷۴ل کال دثور په میاشت کې دپوښتنواو ځوابونو په بڼه یو ادبي بندارجوړشوی و چې دننګرهاردتلویزون له لارې خپور شوی.
دهمدې تلویزون له لارې یوبل ادبي پروګرام هم په ۱۳۷۵ل کال دحمل په میاشت کې دپوهاند رښتین دپیژندنې په نامه دوه ساعته ادبي خپرونه خپره شوی چې لومړی برخه یې دپوهاند رښتین سره ناسته ولاړه دخاطرو په بڼه چې خیړنپوه عبدالله بختاني ، پوهاند ډاکترزیور، محمد آصف صمیم ، روغمن صاحب او داود شهید دپوهاند صاحب په اړه د خپلو خاطراتو څرګندونې کولی.ددې پروګرام دویمه برخه دپوهاند صاحب سره مرکې ته ځانګړې شوې وه.
ماکوښښ وکړچې ددغه مرکوویدویي کاپي ترلاسه کړم، خودځینو ستونزو له امله په دې کاربریالی نشوم.
کومې مرکې چې پوهاند صاحب داخبارونو ، جریدواو مجلوسره کړې وې هغه مې اکثره راټولې کړی چې تعداد یې ترلسو پورې رسیږي – په دې مرکو کې یوه مرکه دری ځلې تکراري خپره شوې چې مونږ له هغه تکراري مرکو څخه یوازې یوه مرکه دلته رانقل کړی ده.
نوپردې اساس په دې فصل کې یوازې اته مرکې په تاریخ وارډول وړاندې شوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهاند رښتين مرکې

## له جرګې مجلې سره د پوهاند صديق الله رښتين مرکه

د پښتو ژبې او ادب ځلانده ځيره
مرکه کوونکې: سارا بيابانی
نوميالی فرهنګي او علمي شخصيت پوهاند استاد صديق الله رښتين زمونږ د پښتو ژبې او ادب د آسمان هغه ځلانده ستوری دی چې په ملي اونړيوال ډګر کې يې خپل دريځ ثرګند کړی دی.
استاد د پښتو ژبې ليکوال، څېړونکي، ژبپوه، ادبپوه او ژورناليست دی، چې د پښتو ژبې د پالنې، روزنې، پياوړتيا او عملي کولو په لارکې يې خپل افکار په بيلابيلو ډګرونو او ساحو کې په کارا چولی او خپلې عملي څېړنې او هڅې يې په عالمانه توګه سرته رسولی دي.
د استاد افکار او جذبات دده له ليکنو څخه پوره ثرګند يږي. دی د ملي جذباتو ترجمان، د قوم، وطن او خپلې ژبې د خدمت پاکه جذبه او تعليمي مفکوره په خپلو اثاروکې ځايوي چې په دې لارکې دده اراده د پولادو د ديوال حيثيت لري.
استاد عقيده لري چې په دنيا کې پرته له ټينګ غزم او سمې لارې يو کارهم بريالی پای ته نه رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محترم استاد صدیق الله رښتین د ښاغلي مولوی تاج محمد خان زوی دی چې د مومندو د سرکمرپه غازي آباد کې زیږیدلی دی. لومړی زده کړې یې په خپل کورکې د ځانګړو استادانو څخه کړی دي. دی په (۱۳۱۱) ش کال د جلال آباد د هډې په نجم المدارس کې شامل شو، بیا په (۱۳۱۵) ش کال د کابل عربي دارالعلوم ته راغی. په (۱۳۱۸) ش کال یې له عربي دارالعلوم نه د منځنۍ دورې اعلی درجه شهادت نامه واخیسته او په دې ډول یې د زده کړې دوره ختمه کړه.

په (۱۳۱۸) ش کال د سنبلې له میاشتې په کار وګمارل شو.

چې د ماموریت جلا جلا چارې یې په دې ډول دي:

په (۱۳۱۸) ش کال د کابل د ادبي انجمن یعنی د پښتو ټولنې د غړي په توګه.

په (۱۳۲۰) ش کال د پښتو ټولنې د قواعدو د څانګې مدیر.

په (۱۳۲۱) ش کال د پکتیا ولایت دوړانګې جریدې بنسټ ایښودونکی.

په (۱۳۲۱) ش کال د ثور په میاشت کې د پښتو ټولنې معاون او د لغاتو د قواعدو مدیر.

په (۱۳۲۲) ش کال د پښتو دایرة المعارف د څانګې آمر.

په (۱۳۲۵) ش کال مطبوعاتو ریاست د خپرونو د لومړی څانګې مدیر.

په (۱۳۲۲) ش کال، فراه، سیستان د جریدې مؤسس او لومړی چلوونکی.

په (۱۳۲۷) ش کال کې د پښتو ټولنې عمومي مرستیال او د پښتو دایرة المعارف آمر.

په (۱۳۲۹) ش کال کې سربیره پر غودندو د هیواد د جریدې مدیر او چلوونکی.

په (۱۳۳۰) ش کال د پښتو ټولنې عمومي مدیر.

په (۱۳۳۱) ش کال کې د زیري جریدې د دوهمې دورې بنسټ ایښودونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په (۱۳۳۴) ش کال کې دادبیاتو د پوهنځي استاد او د پوهنې وزارت مشاور.
په (۱۳۴۰) ش کال د پوهانو علمي رتبې ته لوړ کړای شو.
په (۱۳۴۲) ش کال کې یې د دوهم ځل له پاره د پښتو ټولنې درئیس په توګه چې لس کاله یې خپل علمي او اداري خدمت سرته ورساوه او په (۱۳۵۲) ش کال په سنبله کې جبري تقاعد ورکړی شو.
په دری ژبه هم مسلط دی. او په خارجي ژبو هم ښه پوه او ځینې اثاریې ژباړلی او لیکلی دي، او ځینې مسلکي دندې یې هم په ښه توګه اجرا کړې دي. خارجي سفرونه یې هم کړي دي چې په (۱۳۲۹) ش کال یې د هند د پښتون جرګې په غونډه کې د افغانستان د مطبوعاتو د هئیت د غړي په توګه ګډون کړی دی.
همدارازیې پېښور ته د رحمان بابا د مقبرې له پاره مرمري ډبرې وړې دي.
محترم پوهاند رښتین ډیر ستاینلیکونه، نښانونه او جایزې د لوړو مقامونو څخه ترلاسه کړې دي چې د پوهنې وزارت له خوا طلایې نښان هم پکې شامل دی.
د محترم پوهاند رښتین په هکله بهرنیو او داخلي پوهانو هم بیلابیل نظرونه درلودلی چې په لنډه توګه یې یادونه کیږي:
اسلانوف روسي پوهاند لیکي:
رښتین یو مشهور لیکوال او نومیالی ژبپوهاند دی. دده یو تازه اثر(د هند سفر) د ادب په دنیا کې یو مهم وړ اثر ګڼل کیږي.
یوبل روسي پوهاند ګیرس په خپل کتاب، پښتو ادبیاتو کې لیکی:
رښتین یو ښه نثرلیکونکی او په نثر کې د بدیعی اثارو خاوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژبې او تاریخ په برخه کې زیاته څېړنه لري، دده (دهند سفر) یو په زړه پورې منلې اثر دی او په پښتو نثر کې یو غوره او تازه اثر باله شي.
ښاغلی عبدالحمید د مصر په المشاء اخبار کې لیکي:
رښتین د پښتو ادب استاد او یو مشهور عالم شاعر او لیکوال دی.
د افغانستان د لیکوالو د انجمن پخوانی مشر عبدالحمید محمود په لیک کې داسې لیکي:
تاسې د پښتو ادب د پراختیا په لار کې پخوا هم ډیر قدرور خدمتونه کړی دي، خوبا ور لرم چې د پښتو ټولنې په ریاست کې ستاسې مقرري د پښتو ادب او کلتور دغه مرکز ته یو نوې او تازه رنګ وښیي او زمونږ د ملي ژبې انکشاف له پاره به فایده من ثابت شي زه د لیکوالو د ټولنې له خوا تاسې ته مبارکي وایم او ستاسې بری او کامیابي غواړم.
محترم رښتین صاحب زمونږ د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل:
زه په عربي دارالعلوم کې وم چې په شعرویلو مې لاس پورې کړ، اول شعر مې د اصلاح په ورځپاڼه کې په (۱۳۱۲) ش کال کې خپور شو، او همدا راز مې نورې ادبي مقالې د هیواد په ټولو خپرونو کې په تیره د کابل په مجله کې ډیرې خپرې شوې دي.
محترم رښتین صاحب د خپلو ادبي کارونو په باب داسې رڼا واچوله:
زما اثار د ژبپوهنې، ادبپوهنې او تاریخ پوهنې په ساحو کې دي.
چې د ټولو کتابونو شمیر اویا وته (۷۰) رسیږي، چې په دې کې به څلویښت (۴۰) چاپ شوي وي او دیرش (۳۰) به یې پاتې وي.
په دې موده کې مې د زرو (۱۰۰۰) په شاوخوا کې مقالې لیکلې دي، چې زیاتې یې چاپ شوي دي.
ځینی کتابونه یې دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادبیاتو تاریخ، پښتانه شعرا دوهم ټوک، پښتو ګرامر دوه ټوکه، پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، نوی ژوند ، نومیالي شاعران، د پښتو نثر هنداره، نومیالي پوهان، دژوند پلوشې دوه ټوکه.

محترم استاد پوهاند رښتین دهیواد موجوده ادبي بهیرد اسې څیړي:

دهیواد موجوده ادبي بهیر د مقدار په لحاظ ښه دی مګر د څرنګوالی له پلوه د اعتراض وړ دی، ځکه تجارتي رنګ پکې غالب دی، او هرچا په خپل سر لیکنه کړې ده.

دهیواد ځوانو لیکوالو ته زما لارښوونه داده چې دوی په خپل سرکارونه ونه کړي او په دې متل عمل وکړي: چې وکاندي سلا - نو یې ورکه شي بلا.

محترم استاد پوهاند صدیق الله رښتین ته د عمر اوږدوالی او لازیات بریالیتوبونه غواړو.(۵: ۲۸، ۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شهادت (اردو) ورځپاڼې سره

د محترم پوهاند رشتین مرکه:

مرکه کوونکی: عبدالله جان عابد:

پوښتنه: کوم وخت چې تاسو پښتوژبې او ادب ته کارشروع کولو، په هغه وخت کې د پښتوژبې په سرکاري او ولسي سطحه څه صورت حال و ؟

ځواب: کوم وخت چې مونږ پښتوژبې ته کارشروع کولو په هغه وخت کې پښتو رسمي نه وه یو نیم سړی ویله ،لیکن عمومي نه وه، په کوڅو کې نه وه په دکان کې نه وه، په کورونو کې نه وه، بیا مونږ شروع وکړه ،محمدګل خان مومند په هغه وخت کې وزیرداخله و، سیاسي پښتو هغه راوستی ده، د پښتوټولنې اولنی عمومی مدیرعبدالحی حبیبی و ،هغه دکندهارو اود وزیرمحمدګل خان له خوا مقررشوی و ،اوزه په هغه وخت کې د پښتوټولنې غړی وم، بیا وروسته مدیر دقواعدوشوم.

په هرصورت زه هغه وخت کابل ته لاړم چې په عربی دارلعلوم کې داخل شوم، کله چې بازارته ووتمه، هیچا پښتوخبرې نه کولی، نودځان سره مې سوچ وکړ، چې داڅنګه ښارته راغلی یې چې څوک پښتونه وایي، دپښتوذکرنشته، نو اول داسې حال و.

دوزیرمحمد ګل خان دهڅوپواسطه پښتودفتري شوه، په کابل کې دپښتوعلمي او ادبي خدمت عبدالحی حبیبی، ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم اوعبدالروف بینوا شروع کړی دی، حبیبی اوبینوا دکندهاروو، اونورد ننګرهاروو ،زه هم دوی سره په دې خدمت کې شریک وم په شروع کې همدا پنځه کسان وچې ادبي اوعلمي خدمت یې کړی دی، مونږ په پښتوژبه کتابونه ولیکل، په پښتوژبه موګرامرولیکه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبیاتو پوهنځي کې مو محصلینو ته درس شروع کړ، نو په کابل کې پښتو په ادبیاتو کې دې حد ته ورسیده، چې پښتو کتابونه د کابل د پارسی کتابونو څخه زیات شول، البته په ایران کې د پارسی کتابونه زیات وو، د دې څخه وروسته د کابل د کوڅو، بازارونو، دکانونو نومونه ورو ورو پښتو کیدل، اخر دې حد ته ورسیده، مونږ پښتوله پاره کورسونه جوړ کړل، هغه په ټول افغانستان کې خپاره شول او پښتو رسمیت وموند.

پوښتنه: دغه کوم دورو چې تاسو یې یادونه وکړه؟

ځواب: دغه څلویښت پنځوس کاله پخوا دورو، په دغه دورکې مکتبونه هم پښتو شول، کتابونه هم په پښتو ولیکل شول، کورسونه هم په پښتو شول.

پوښتنه: تاسو دګرامر په هکله خبره وکړه چې وروسته موبیا ګرامرولیکل ستا په نظر د اسې بشپړه او مکمل ګرامر شته چې څوک ترې استفاده وکړي او که نه وي څه قسم ګرامر پکار دی؟

ځواب: زه خپله په کابل کې مدیر د شعبه قواعد وم، ما ته په دغه وخت کې د پښتو ټولنې عمومی مدیر چې عبد الرحمن پژواک نومیده وویل چې ته ګرامرولیکه، ما ګرامر شروع کړ، او دهغه دلیکلوله پاره مې ډیر زیات زیار وویست، او په دی شعبه قواعد کې ما اول جلد ولیکلو او دغه اول جلد په ۱۹۴۸ م کال کې چاپ شو.

دغه ګرامراوس هم شته، د دې ګرامر دویم جلد ډیر وځنډید، کله چې زه درسمي کار څخه وزګارشوم، نو دویم جلد مې هم ولیکلو، دغه ګرامر په کابل کې چاپ شوی دی، په دی دواړو جلدونو کې پښتو ژبه تکمیل ده، خلاصه دا چې د دې ګرامر څخه مکمل کتاب زما په نظر نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه دغه ګرامرسره دنوو اصلاحاتو لهجې هم پکې ځيرل شوی غربي لهجه، شرقي لهجه ،منځنی لهجه دا ټول بحث پکې راغلی دی، او په دې دويم جلد کې بيا تکميل شوي دي.
پوښتنه: تيرکال په باره ګلۍ کې د پښتوليک لارپه نامه يو سمپوزيم جوړشوی و ،چې په دغه سمپوزيم کې د کوزې او برې پښتونخوا پوهانو ګډون کړی و ،په دغه سمپوزيم کې د پښتو دليک ديووالی په باب فيصلې وشوې څه فکرکوئ چې په افغانستان کې به د دغه فيصلو سره څوک اتفاق وکړی؟
ځواب: دا سمپوزيم چې اوس جوړشوی و ،زه پکې نه وم،مونږ په اول کې ديوليک دود مجلس په کابل کې کړی و ،په ۱۹۴۲ م کال کې،بيا بل مجلس هم په کابل کې شوی وچې د پيښور مشهورو پښتنوليکوالو پکې ګډون هم کړی و ،لکه مولانا عبدالقادرصيب،اميرحمزه شينواری، عبدالخالق خليق او د اسې نورو ،بيا بل مجلس په ۱۹۵۷ م کال په پيښورکې شوی و ،په دغه ټولو مجلسونو کې ،مونږدغه فيصلې کړی وې،او پښتوټولنه کابل او پښتواکاډيمۍ پيښور،ددې فيصلو په عملی کولو مکلف وو.
اوس نورخلک راغلل،دهرچاخپل خپل خيال دی،ځکه په پيښورکې مرکزيت نشته،زه د دغه فيصلوڅخه خبرنه يم او نه مې دغه فيصلې لوستی دي.
پوښتنه: تاسو څه فکرکوئ چې دغه فيصلې ولی عملي نه شولی؟
ځواب: په هغه فيصلوکې خوډيرې عملی شوی دي اوکه يوڅوپکې نه وی شوي نوهغه دخلکو شخصی خيال دی،ځکه دلته خومرکزيت نشته.
پوښتنه : اوس څه ضرروت وچې دا سمپوزيم وشو؟
ځواب: داپوښتنه دهغه چانه پکارده چې ددې سمپوزيم اهتمام يې کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: هغو وایې چې د افغانستان او جنوبي او شمالي پښتونخوا په رسم الخط کې ډیر فرق دی، د دغه فرق د ختمولو له پاره دا سمپوزیم شوی و.

ځواب: دغه فرق خو مونږ ډیر پخوا ایستلی و، او س زه خبرنه یم چې هغه فرق په کوم ځیزکې دی، دامې په یادي چې پخوانۍ فیصله کې چې (ڼ) ثقیله مونږ قبول کړی و، په دې باندې چې دا (ڼ) په مفرد باندی ولیکل شی او لاندې یوه حلقه ورکړی شی، په پیښور کې به خلکو مرکب لیکلو، مونږ دغه ختم کړو.

پوښتنه: د افغانستان، د سویلی او قطبی پښتونخوا په لهجو کی ډیر فرق دی، دا فرق څنګه پیدا شو، او څنګه به ختم شي؟

ځواب: مونږ په پښتو ټولنې کابل کې دا کارکولو چې مونږ بین الافغان ژبه جوړوله، په هغه کې مونږ هر لغت چې هر چیرته و، په کندهار کې په پکتیا کې، په ننګرهار کې او صحیح به و مونږ به اخیست، مونږ د کندهار ډیر لغتونه اخیستی دی، زمونږ په وخت کې دا فرق ورک شوی و، مونږ غوښتل چې دا سې کلمې استعمال شی چې هلته هم پرې خلک و پوهیږي او دلته هم، او س چې پښتو ټولنه له مینځه لاړه، نو دا فرق پیدا شو ځکه چې مرکزیت نشته، لارښوونکی نشته.

پوښتنه: د دې فرق دلږی کولو له پاره څه پکار دی؟

د دې له پاره مرکزیت په کار دی، چې دلته هم یو مرکزوی چې لارښوونه وکړی او کابل کې هم یو مرکزوي چې لارښوونه وکړي.

پوښتنه: کله چې د پښتو ادب د افسانو د ارتقاء په هکله څه لیکل کیږي نو د افغانستان خلک زمونږ د لیکوالو ذکرنه کوي، لکه په افسانه، ناول... او د دې ځای لیکوال د هغه ځای د لیکوالو ذکرنه کوی او همدا سې د بلوچستان و الاهم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب: اول تاریخ ادبیات مالیکلی دی په ۱۹۴۴ م کال چې تقریباً (۴۷) کاله کیږي.په هغه تاریخ ادبیات کې د پېښور دلیکوالو حتی ژوندي خلک هم پکې راغلي وو ،ترپاچاخان پورې یو سړی هم پاتې نه دی نه ددې ځای نه دهغی ځای.بیا وروسته چې خلکو څه کړي دي،هغه د خلکو شخصي خیال دی،هغه پښتني خیال نه دی،ټوله یوه پښتونخوا ده ،مونږ ته پکې هیڅ فرق نشته،پښتو یوه ده ،ادب یو دی،شاعران یو دي، مونږ په پخوا نیو کتابونوکې ،پښتانه شعراء اول جلد ،دویم جلد په هغه کې هم مونږ ددې وطن یعنې د پیښور د شاعرانو ذکر کړی دی. دا نظریه جعلی ده،دا هیڅ اعتبار نه لري،یو څو کسو پیدا کړی ده.

پوښتنه: د پټې خزانې په اهمیت باندې که څه رڼا واچوئ چې په پښتو اد ب کې ددې څه مقام او اهمیت دی؟

ځواب: د پټې خزانې په برکت باندې د پښتو ادب تاریخ دویمی هجری پیړۍ ته رسیدلی دی،امیرکروړ سوری شعرپه پټه خزانه کې راغلی دی،هغه په ۱۳۷ هجری کې ویل شوی ،په دې حساب باندې د پښتو ادب تاریخ دویمې هجري پیړۍ ته رسیږي دا د پټې خزانی برکت دی.

پخوا دومره اسناد مونږ سره نه وو ،په دې کې قصیدې راغلی دي.

دغوریانو او دغوریانو د پاچاهانو ژبه هم هغه وخت پښتو وه.

ښکارندوی په هغه وخت کې تیرشوی دی،د شهاب الدین غوري په وخت کې اسعد سوري له هغه څخه مخکې تیرشوی دی،دوی قصیدی ویلی دی او هغه قصیدی ټولی په پټه خزانه کې راغلی دي،په دی اسنادو سره دغوریانو ژبه پښتو وه،شهاب الدین غوري او غیاث الدین غوری ژبه هم پښتو وه او تایمني هم د غیاث الدین غوری صفت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټه خزانه کې چې کوم پنځوس شاعران راغلي دي، په دې کې ښځې شاعرانې او معاصر شاعران هم راغلي دي.
دبهلول لودي رباعي پکې هم شته، دشيخ رضي لودي شعرهم پکې شته. دا ټول د پټې خزانې برکت دي چې هغه مونږ ته دا پخواني شعرونه ساتلي دي د پټې خزانې يوه نسخه حبيبي صاحب په کويټه کې پيدا کړې وه، دغه دحاجي محمد اکبر خان له پاره ليکل شوې وه ،او بله نسخه دسرادرمهردل خان له پاره ليکل شوې وه. په هرصورت په دې وخت کې يو نسخه ده چې دحبيبي صاحب سره وه ،حبيبي صاحب نه شاعرو او نه يې دشعردعوه کوله، نو دا دهغې دوسې خبره نه وه چې هغه دې ديو پنځوس شاعرانو شعرونه دځانه جوړ کړې وي.
پوښتنه: ځينې خلک د پټې خزانې سنې مشکوکې ګڼي، دې باره کې تاسو څه وايې؟
ځواب: ځينې سنې به پکې صحيح او درستې نه وي، احتمال لري چې هغه غلطي شوې وي، ليکن اصل کتاب پټه خزانه صحيح کتاب دی ځکه په دې (۴۷) کالو کې چاپرې اعتراض نه دی کړی.
پوښتنه: په افغانستان کې د دې څوک مخالفين شته؟
ځواب: بيخي نه.
پوښتنه: قلندرصيب چې د پښتوژبې يو وتلی ليکوال او محقق دی هغوی په دې باب يو کتاب ليکلی دی. (پټه خزانه فی الميزان) په دغه کتاب کې هغوی دنوروخبرونه پرته دا هم ليکلي دي، چې په افغانستان کې ځينې مشرانو د پټې خزانې په باب ماسره شکونه څرګند کړي دی، دی باره کې تاسو څه وايې؟
ځواب: په دې باب مونږ ورسره هيڅ نه دی ويلي او نه مو ورسره بحث کړی دی او نه مو کوم شک ښکاره کړي دی. زه د پښتو ټولنې رئيس وم، ما سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلندرمومند په دې باب هڅه وهيڅ ويلی نه دی .زه د پښتوټولنې په دوو دوروکې رئيس وم.په اوله دوره کې د (١٩٥٢-١٩٥٦) کال پورې ،او په دويمه دوره کې د (١٩٦٣- ١٩٧٣) م کال پورې.
پوښتنه: تاسوراته دخپلو اثارو لنډ شان تذکروکړئ چې څومره چاپ شوي او څومره چاپ ته انتظار باسي؟
ځواب: اثارچې څومره ماليکلی دي هغه ټول(٧٠) ټوکه دي په دې وخت کې زما عمرهم اويا(٧٠) ته رسيدلی دی.
په دې کتابونوکې اکثره چاپ شوی دی،تقريباً شل به يې پاتې وی دلته پيښوركې هم ډيرچاپ شوی دی،يوه زما شعری مجموعه ده (خوږې وږمې )په نامه ،ادبي ليکونه،دادب تاريخ ،دنثرتاريخ- نوميالی شاعران، ژبښودنه،پښتوسندرې اوداسې نور ډيركتابونه دي چې دلته يې تذکرگران دی.
پوښتنه: دځوانو ليکوالو او محققينوله پاره څه پيغام ورکول غواړی؟
ځواب: دځوانو ليکوالو له پاره زما رايه داده چې ځوان ليکوال دی کوښښ وکړی چې هغوی څه ليکي، دکوم پوهاند يا استاد سره دی مشوره وکړي.
ځکه چې داوږدو بحثونو څخه څه نه جوړيږي،خبره لنډه ښه وي خو دمطلب،په عربی کې دامشهوره خبره ده،بهترخبره هغه ده چې لږه وی او دلالت وکړی په مطلب باندې،لږې خبرې کول دا صفت دی.
پوهاند صديق الله رښتين صيب تاسونه ډيره ډيره مننه چې مونږ دپاره مو دخپل قيمتي وخت څخه څه وخت وايستلو چې مونږ سره مو دکاراوګټورې خبرې وکړی.خدای دې نورتاسې ته ډيرعمر درکړی چې دپښتوژبې نورخدمت هم وکړئ.(١٢: ٣ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپيدې مجلې سره مرکه

مرکه کوونکی: محمد اصف صميم

پوهاند رښتين د پښتو په علمي او ادبي دنيا کې پيژندګلوی ته اړ نه دی.
دافغانستان دژبې او ادب په مخکښو څېړنوالو کې شميرد ی.
دنيمې پيړۍ راهيسې دزړه په مينه دژبې او ادب په خدمت لګيا دی.
داوخت له يو اوياکالو اوښتی دی، خواوس يې هم په خپل کړي ادبي خدمت تنده ماته نه ده، مونږورسره د سپيدې د درنولوستونکوله پاره مرکه کړې ده، چې دادې ستاسو په خدمت کې ده. (اداره)

پوښتنه :محترم پوهاند رښتين صاحب تاسې د نيمې پيړۍ راهيسې دپښتوژبې او ادب په خدمت بوخت يې ، په خپل دغه کړی خدمت او دهغه په نتايجوڅومره قانع، يې اياڅه موچې کول اوغوښتل هغه موکړی دي اوکه نه ځينې نور ارمانونه هم داسې شته چې ځوان نسل ته يې دترسره کولوتوصيه کوی؟

پوهاند رښتين: خبره داده چې ديوې ژبې تاريخ اوڅېړنه ډيرلوی کاردی مونږچې کوم کارکړی دی په هغه باندې قانع يوچې په کابل ښار او افغانستان کې موپښتوته وده ورکړې ده ،اوپه ټولو خواو وکې لکه ادب،ګرامر ،ادب تاريخ او نورو برخو کې مو کتابونه ليکلی دي،البته دژبې دترقۍ دوره په دی نه دريږي او نوره څېړنه هم غواړي،دا څېړنه دژوند سره ملګرې ده،ژوند په ټولو خواووکې پراختيا لری،اوپه نوروخواووکې هم چې کومې نيمګړتياوې موجودې وي بايد پوره شی ترمرکه پورې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلسله جاري ده، خلاصيږي نه ،اوس دنوري دنيا ،امريکې، روس ،حتی ایران او نوروهیوادونو راډیوګانی په پښتو نشرات کوي، پښتو دیوې رسمي ژبې په حیث معرفي شوی ده او دا لوی مقصدو چې ترسره شو ،نورچې د پښتو دخدمت سلسله ده،نودا خوترګه پورې جاري ده.

پوښتنه: تاسې د پښتو دلیکني اړخ په تقریباً هرډګرکې د قلم نیلی ځغلولی دی خود ادب تاریخ په باب مو چې کومې څیړنې کړی دی، هغی تاسې په مخکښانوکې درولی یې په خپله ادب تاریخ په باره کې که راته څه معلومات راکړئ چې کوم راز څیړنې ته د ادب تاریخ وایې؟

پوهاند رښتین: په ابتداکې چې مونږ د پښتو ادب په تاریخ لاس پورې کاوه په هغه وخت کې هرڅه نوی وو ،د شاعرانو ، ادبیاتو او لیکوالو او مختلفو دورو په څیړنه کې لومړني معلومات وو ، چې مونږ د پښتو ادب تاریخ کې څیړلی دي، او دورې موښودلی دي، لومړي، دویمه، دریمه او څلورمه دوره ترهغې وروسته بیا پښتانه شعرا ولیکل شو ، په هغه کې هم دغه شاعران زیات معرفی شوی دی چې ترپنځم جلد پورې چاپ شوی دی، البته غلطۍ په ټولو کتابو کې وی، په دویم ،دریم او څلورم کې به غلطۍ وی، چې اصلاح ،سمون او ډیرکارغواړی، اوس هم په ادب تاریخ کې کارډیرپاتې دی، باید چې وشی، چې کومې تذکرې لیکل شوی، هغه دی دیو انجمن او علمي مرکزله خوا چې پوه خلک پکې وی، او دا ټولې تذکرې چې په کابل ،پیښوراو یا د بلوچستان په کویټه کې او یا د پښتونخوا په نورو ځایونو کې لیکل شوی دي، هغه راغونډې شی او یو خلص مطلب ترې راولاړشی .

پاتې شود پښتو ادب تاریخ په باب څه ویل په پښتو ادب تاریخ کې مختلفې دورې، د دورو امتیازات، د دوروعلامې او نښانې چې په دې دوره کې دا قسم نثریا دا نظم رواج و ،یا دا مضمون رواج درلود ، او دا هرڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تریو حده پورې مونږ په پښتو ادب تاریخ کې ښودلی دی ،لیکن په لنډ ډول او مفصل ډول یې پاتې دی.
او سني شاعران او ادیبان ،د پښتو ادب تاریخ د پښتو د دورو تحول ته وایې چې په دې کې څو مره تحول راغلی دی، پخوا ادب څنګه و ،او س څنګه دی، بیا به څنګه وي، او څنګه پکار دی.
البته د هرچا په نظر د ادب تاریخ مختلف توجیهات لري او یا مختلفې لارې، خود یوې ټولنې او پوهانو کار دی چې ویې ګوري او درست یې کړی، او کومه لار چې چا غوره کړی ده هغه و منی او بیله یې کړی، چې دا درسته ده او دا غلطه ده، او نور د ادب په باره کې مختلفی نظریې دی چې د مختلفو لیکوالو له خوا څیړل کیږي.
پوښتنه: تر او سه پورې چې د پښتو ادب تاریخ باندې کوم کار شوی دی هغه ایله تر روښان یا روښانیانو پورې رارسیدلی دی، تر دې را وروسته ادب تاریخ د بشپړونې له پاره څه مشورې او وړاندیزونه کوئ؟
پوهاند رښتین: زما په مخکې خبرو کې هم څه اشاره غوندې وه چې مونږ د پښتو ادب په تاریخ کې ټولې دورې ښودلی دی، او په هره دوره باندې مجمل نظرو ړاندې شوی دی.
پاتې شو په تفصیل سره چې حبیبی صاحب شروع کړی و او د روښانیانو تر دورې یې رارسولی و ،نو دا هم باید تکمیل شی، یو څوک یې ولیکي، یو انجمن یا پښتو ټولنه یې ولیکي یا پښتو اکاډمي چې په پیښور کې ده ،دوی یې ولیکي، او دا کار دی چې لا پاتې دی.
د دې کوښښ په کار دی، چې تکمیل شی، په مجمل صورت باندې په پښتو ادب تاریخ کې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: ستاسې د ادبي ژوند دمطالعې څخه سړی ویلای شي چې تاسی همیشه ترنظم زیات په نثر زور اچولی دی، پوښتنه دا ده چې تاسی دیوې ژبې په پرمختګ کې کوم ډول نثرلیکل او رامنځ ته کیدل لازم ګڼئ ؟

پوهاند رښتین: دیوې ژبې د پرمختګ له پاره نثرزیات مهم دی، نظم هم د پخو شاعرانو لکه خوشال خان خټک، رحمان بابا او نورو ضروری دی.

په کومه ژبه کې چې هرسړی شعروایي، نو هغه څه فایده نه لري، لکه اوس په پیښور کې شاعران ډیردي شاعری د پښتو د پر مختګ له پاره کومه لار نه ده خلاصه کړې، نو د نثرکتابونه ډیر مهم دي.

راغلو دې ته چې د پښتو د پرمختګ له پاره کوم نثرمهم دی، نو د نثرډیرقسمونه دي، ادبي نثردی، علمي نثردی، دخبرواترو نثر دی، دافسانو نثراو داسی نور ډیرقسمونه لری، دا ټول دیوې ژبې له پاره ضرور دي.

ادبي نثرونه هم ضرور دی، چې یولوی لیکوال پیدا شی او ویې لیکي.

اوعادی نثرلکه په موجوده وخت کې چې رواج لری.

عادي نثرونه په مجلو، اخبارونو او صحافت کې چلیږی.

علمي نثرونه هم ضرور دی چې ددې له پاره کاروشی، دنثرونو دټولو موجوده قسمو تکمیل ضرور دی، دنثرپواسطه درسی کتابونه هم جوړیږی، قرائتونه هم جوړیږی، نو بهترده چې اسانه محاورې ته نیږدی نثربانـدې ولیکل شی، داسی نثریا داسې لغات چې ټول پښتانه پرې پوهیږي البته لوی لوی ادیبان او پاخه خلک چې ادبی نثرهم لیکلای شی، باید ویې لیکی، لیکن اوس اکثره هغه خلک مړه شوی دی، خوچې پس له دې یې هم څوک لیکي نو ادبي نثردی ولیکي، فایده یې زیاته ده خو دنثر ټول اقسام باید تکمیل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: ستاسي چا پي اثار او تاليفات شکردي ستاسي په ژوند په ټولو پښتنوکي خپاره دي، خودناچاپو اثارو په باب مو له مونږ سره څه معلومات نشته که په دې باب څه وواييې چي څومره ناچاپه دي؟

پوهاند رښتين: زما ټول چاپ اوناچاپ اثار اويا وته رسيږي، په دې کې اته څلويښتو پورې چاپ شوي دي، اودنورو د چاپ په لټه کې يم.

ځيني مو په پيښوركي چاپ کړي يعني پنځه شپږ اثره، څه مو اوس هم وركړي دي چي يونيورسټي بک ايجنسي يې چاپ کړي، خوکوښښ کوو چي چاپ شي او خلک ترې فايده واخلي، قلمي نسخې هم دا سې يو شل ديرش پاتې دي چي کوښښ کوو چاپ شي.

پوښتنه : پښتوژبې ته چي په افغانستان کې څه شوي دهغي ترڅنګ دلته په کوزه پښتونخوا کې هم دا بهير وروسته نه دي پاتې، دلته دشوي کار دکيفيت په باب تاسو څه نظر لرى، څومره ترې مطمين ياست؟

پوهاندرښتين : دلته هم له کومه وخته چي پښتواکاډمي جوړه شوې ده، دهغې لومړى مشرمولاناعبدالقادر و، هغوى د پښتو له پاره ډيركاركړى دى، بعضي كتابونه يې چاپ كړى دى، ديوانونه يې چاپ كړى دى، ترجمې يې کړي دى، ډيرې د اردو ترجمې خو د پښتوله پاره دومره مفيدې نه دى.

ليکن منظم کار اوپه رسمي ډول کار په کابل کې ډيرشوى دى، دژبې او ادب په باب په افغانستان کې نظري اوعملي دواړه کارشوى دى، په دفترونومکتبونوکې پښتورواج شوې چي دلته شايد دغه کارنه وى شوى، نوپه دې لحاظ دوى په دغه کارکې وروسته دي.

دشعرپه برخه کې دلته ډيرکارشوى، دشعرديوانونه دلته ډيردي او ډيرچاپ شوى هم دي، خوما دمخه وويل چي دشعرڅخه زيات نثرته ضرورت دى نوبايد په دې باره کې هم توجه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافسانواو کیسوپه باره کې هم دلته ډیرکارشوی دی، په دې برخه کې دوی مخکې دي، خوبیا هم کابل او پېښوردا ورته یو شریک کارپه غاړه دی، او هغه شریک کاردژبی خدمت او دژبې تکمیل دی، نو په دی باره کې لانورهم کوښښ کیږي، او ځوانان هم کوښښ کوی، لګیا دی، خومرکزیت پکاردی یوه لارښوونه پکارده ،داسې لارښوونه چې ټول لیکوالان یو مرکز ته رجوع وکړي، داخبره ده چې دلته لږه کمزورتیا لیدل کیږي او باید رفع شی.

پوښتنه: تاسوځوانان یاد کړل، زما وروستی پوښتنه هم لکه چې دهمدې ځوانانو په باب شی او هغه دا چې تاسوکوم ادبي بهیر، تردې وخته پورې رارسولی دی، له موږ ځوانانو سره هم داهیله ده چې په دې برخه کې خپله ژمنه ترسره کړو زموږ قلموالو ته په دی باب او ددې هیلې د ترسره کیدو له پاره کومې توصیې او مشورې کوئ ؟

پوهاند رښتین: توصیه خو داده چې دوی دی همیشه له پاره له یو علمي مرکز سره تړلی او پییلی وي، او دژبې له پوهانو سره دی په تماس کې وی او دهغوی په مشوره او مصلحت دی یو کاروکړی په خپل سریو کتاب لیکل او شاعری کول یا ترجمه کول درست کارنه دی، مشوره په کارده ،چې وکاندي سلا نویې ورکه شی بلا ، یعنی سلا او مشوره (وامرهم شوری بینهم) ډیره ښه ده.

په خپل سر باندې چې څوک څه لیکي نو هغی ته تجارتي ادب وایی تجارتي ادب کمزوری وي، او اصل ادب د تجارتي ادب او سوداګرئ له پاره نه وي، اونه ددې له پاره چې یو سړی پرې ګټه وکړي(۱۵: ۳۲ ، ۳۸ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ليکوال مجلې سره مرکه

ځای: د هماکور بغداده
ملاقات: محمد همايون هما ،نورالبشر نويد ،عظمت هما مجاز.

پوهاند صديق الله رښتين چې په (۱۲۹۸) ل کال زيږيدلی د پښتو ادب يوژوندی تاريخ دی، دهغه نوموړی پلار مولوی تاج محمد – مهتمم صيب (۱۸۷۰- ۱۹۲۵م) دانګريزی اعلی تعليم يافته او ددينې علوم مومنتهی و ،هغه دحاجی صيب ترنګزو (۱۸۴۸- ۱۹۳۷ م ) سره اوږه په اوږه دازادی دستر مقصد له پاره د پيرنګی خلاف دجهاد اوغزا لارغوره کړه.او دهغوی نامتو زوی دادب په محاذ د پښتو او پښتون سرلوړی ته خپل ژوند وسپاره. د پښتو ټولنې پخوانی مدير، سترپوهاند رښتين دخپلو پياوړو ملګرو ، حبيبی، بينوا ،الفت،اوخادم په ملګرتيا او همکاری پښتو په افغانتسان کې ديو درونډ مقام جوګه او ددنيا دژبو سياله کړه.
پوهاند رښتين د پښتو په قواعدو داساسی کارپه ړومبنيو معمارانو کې دی، دتحقيق دلارې روښانه مشال او دادب يومنلی شوی استاد ،نقاد او مؤرخ دی.هغه داويا کتابونو مصنف دی، او په بې شميره ادبي موضوعاتويې کم اوزيات يوزرمقالی ليکلی دی، دا سترپوهاند اوروښان فکره ليکوال چې سينه يې دګڼو تجربو خزينه او قلم يې د پښتو دناموس ضمانت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکار داوه چې نن په خپل کلي کور کې ناست وی، او دهغه نه په ډیر درناوی د خپل وطن دنوی نسل د ذهني تربیت او دفکري روښانتیا کار اخیستی شوی وی، خوله بده مرغه دهغه په خاوره د تیرو پنځلسو کلونو نه دانسانی وینی ارزانی روانه ده اودعالمي سیاست دروایانو سترګې اخیستی قام یې کله دبې دینی په تبرو هلی شی، اوکله ددین په نوم قربانیږی.داهغه حالات وو چې پوهاند رښتین دیوا ویا کالو ضعیفی په عمر کې دخپل وطن نه په کډه مجبوره شو او نن دخپلې خاورې نه ډیرلیری دپښتونخوا په یو ګوټ کې ناست دخپل قام دروښانه مستقبل او په خپله سیمه د آمن او سوکالی خوبونه وینی، لوی څښتن دې دهغوی داخوبونه رښتیا کړي.
مونږ دپوهاند رښتین همت، میړانې او دپښتوژبې او ادب له پاره دهغه درنوخدماتوته په دواړولاسو سلام کوو.

هما: رښتین صیب ! چې پښتو او پښتون سره مینه لری، هغوی سره ستاسو پیژندګلو بیخی یوه رسمي خبره ده. په افغانستان کې دپښتو ادب پنځه ستوري یادیږي، پوهاند عبدالحی حبیبی، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، عبدالروف بینوا او پنځم ستوری تاسویې، دستوروپه دی جونپک کې تاسو په خپله رڼا او ادبی هلوځلو پښتو ته یو مقام ورکړ، مونږ غواړو چې تاسو دخپل ژوند د حالاتو او دخپلی کورنۍ په هکله مونږ سره څه خبرې وکړئ.

رښتین: زما دپلار نوم تاج محمد دی، چې په مهتم صیب مشهورو دی دمیر احمد خان زوی، دمحمد اکبرخان لمسی او د شاجهان کړوسی دی.

زمونږ مشران وایي: چې مونږ په قام سلیمان خیل یو، زمانیکه میراحمد خان دشیرعلی خان یا امیردوست محمد خان چې بیخی په اعتبار سره نه شم ویلای خوکیدای شی چې شیرعلی خان زمانه وه، په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځوکې پېښورته دافغانستان دلوګرنه په کډه راغلی او هلته دوزیرباغ په شاوخوا کې یې استوګنه غوره کړه،بیا زما نیکه میراحمد خان د روزۍ ګټلو او ګذارې په نیت په ګائیډ پلټن کې نوکر شو اودمردان په بغداده کې داوسیدوځای وموند.دغلته یې ځای ځایګی پیداکړو اوپه دایمي توګه ورکې میشته شو زما پلار تاج محمد خان دکال (۱۸۷۰م ) کال په شاوخوا کې زیږیدلی دی،په لاهورکې یې تر (بی ای) انګریزی تعلیم حاصل کړی و ، اوبیا یې داسلامي علومو دوره پوره کړه.

هما : ستاسو پیدایش کوم ځای کې شوی دی ؟

رښتین: زه دمومندو په غازی آباد کې په (۱۲۹۸) ش کال کې پیدا شوی یم زما پلار مهتمم صیب تاج محمد دترنګزو دحاجی صیب سره ملګری شوی و مونږ هلته په کډه تللی وو ،هغه څه موده (زما پلار) دپېښور دحمایت الاسلام په هایی سکول کې داستادۍ وظیفه غوره کړه ،هلته یې د سیاسی تحریک دعالمانو سره اشنایي پیداکړه.زما پلار دمردان په علاقه کې د ګدر په مقام دیو اسلامی مرکز لومړی مشراو مهتمم غوره کړی شو.

په کال (۱۹۱۴) م کې چې دنړۍ لومړی جنګ ونښت، او انګریزانو داسلامی خلافت په خاوره یرغل شروع کړ- نودهند ازادۍ غوښتونکو دشیخ الهند مولانامحمود الحسن په فتوی دهجرت بندوبست شروع کړاودغه شان زما پلار هم ازادی علاقې ته واوړیدو -زما پلار مهتمم صیب دانګریزانو خلاف دغزا او جهاد په لاره کې په ټولو سرحدونو یعنی دبونیرځخه نیولی دمومندو ترسره کمرپوری خپله تبلیغی سلسله په پوره قوت اوهمت ټینګه ساتلی وه. هغه دبونیرپه رومبۍ غزا کې په خپله عملي برخه اخستې وه.

هما : ستاسو نور ورونه شته ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتین: مونږ دری ورونه یو ، یو حبیب الله نو میږي او بل عبد الله، حبیب الله نن سبا په پیښور کې استوګنه لري. او عبد الله په جرمنی کې دی.
هما : بیا تاسو افغانستان ته کله لاړئ ؟
رښتین: ما ړومبی درس په غازی آباد مومندو کې واخست د طورو مولوی محمد ایوب صیب نه،بیا جلال آباد ته لاړم او نجم المدارس کې شامل شوم،داد مولانا نجم الدین چې دهدې صاحب په نوم یادیږي دهغه مدرسه وه – دغلته مې څه دری څلور کاله سبق وویلو- دغه دکال (۱۳۱۱) ش زمانه وه.
بیا په (۱۳۱۵) ش کال کابل ته لاړم او هلته مې په دار العلوم عربی کې داخله واخسته.
هما : تاسو پښتو ټولنې ته کله راغلئ ؟
رښتین: د (۱۳۱۸) ش کال په اخر کې پښتو ټولنې ته راغلم.
هما : د پښتو ټولنې کابل تاریخ که مو بیان کړښه به وي ؟
رښتین: په افغانستان کې د پښتو ټولنې تاریخ داسې دی،چې پښتو ادبي انجمن په (۱۳۱۱) ل کال په کندهار کې دوزیر محمد ګل خان په امر جوړشو- دا پښتو انجمن دکندهار نه کابل ته راغی- دکابل د پښتو انجمن سره په کال ۱۳۱۲ ل کال کې یو ځای شو او پښتو ټولنه منځ ته راغله- ددې وړومبی عمومي مدیر عبد الحی حبیبی و. محمد ګل خان مومند حبیبی سردار محمد نعیم خان ته معرفی کړی و چې هغه وخت دمعارف وزیرو- دی د سردار محمد داود خان ورور و- سردار محمد نعیم خان د محمد ګل خان مومند نه تپوس وکړ- چې څوک د پښتو ټولنې مدیر کړو نو محمد ګل خان مومند ورته د حبیبی نوم واخیست چې په هغه زمانه کې د کندهار د طلوع افغان مدیرؤ. بیا له هغه وروسته عبد الرحمن پژواک مدیر شو- دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته بیا عبدالروف بینوا راغی، زه په هغه وخت کې مدیر د شعبه قواعد وم – زه بیا بینوا سره د پښتو ټولنې معاون شوم په هغه زمانه کې ګل پاچا الفت او خادم صاحب زما څخه د مخه راغلی وو ،زه او بینوا په یو تاریخ پښتو ټولنې ته راغلو- دومره وه چې دا نورخلک ښکته پورته شول او زه تراخره پورې په پښتو ټولنه کې پاتې وم.ما (۳۵ ) کاله د پښتو ټولنې مسلسل خدمت کړی دی، زه بل خوا ته نه یم تللی.

هما : دا پښتو ټولنه هغلته په سرکاري سرپرستۍ کې وه ؟

رښتین: هو ! دا ړومبی د مطبوعاتو د وزارت سره تړلی وه او بیا د وزارت معارف سره وتړل شوه.

هما : د کابل حکومت د پښتو په خورونه کې او د هغې په معارفی کولو کې څه کار کړی دی؟

رښتین: د کابل حکومت پښتو ټولنه جوړه کړه او هغوی ته د پښتو خدمت وسپاره نورکار بیا ټولنې کولو ،حکومت د هغوی په کارکې مانع نه و.

نوید : دا د چا دورو ؟

رښتین: دا د محمد ظاهرشاه دورو.

هما : که چیرې پښتو ټولنې ته د حکومت سرپرستي حاصله نه وی،نو دومره کار د پښتو د خدمت له پاره خوممکن نه و؟

رښتین: خیر حکومت خو ټولنه جوړه کړه،خو نورکار خو هغوی نه کاوه،تنخواه خو حکومت ورکوله دغه یو کارو- بل ځای به یې هم ورکوله ،خو دغه پنځه ستوری کوم چې ما یاد کړه،د هغوی خپله هم د پښتو د خدمت سره یو شوق و ،او ډیر په مینه یې خپله وظیفه ترسره کوله،او دا پنځه کسان چې وو ،دا حکومت نه وو تربیه کړی،دوی خپله تربیه شوی وو حکومت وربانديې یوه پیسه هم نه وه لګولی،نه یې په حبیبی لګولی وه نه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بینوا ، اونه یې په الفت.نه په خادم زه لا په دارالعلوم عربی کې وم،دوی خونه وو.

هما : پښتو ټولنې څومره کارکړی دی ؟

رښتین: پښتو ټولنې ډیرزیات کارکړی دی پنځلس کاله مخکې یې تقریباً دری سوه عنوانه کتابونه چاپ کړی وو.ړومبی اهم کارخویې داوچې په ټولودفترونوکې یې د پښتوکورسونه جوړکړل مونږ د پښتوله پاره سل معلمان درلودل.

ړومبی د پښتو کلی په نامه دولس درسي کتابونه لیکل شوی وو ددې په لیک کې امین الله زمریالی، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت او بینوا برخه اخیستې وه.د شپږم سمسترچې ګرامرو هغه مالیکلی و.

په دویمه دوره کې ما داکتابونه صحیح کړل او د دولسو په ځای مې شپږ کړل،دیو سمسترله پاره یو کتاب.

هما : داکتابونه وروستو دطب او دانجنیرنګ دتعلیم دپاره څنګه پکاریدی شو؟

رښتین: وروستو بیا په وزارت معارف کې د پښتوریاست جوړشو دهغوی د سیوری لاندې درسي کتابونه ولیکل شو ،د سکولونوله پاره د ښوونځیوله پاره، دادبیاتوله پاره پوهنځی جوړشو، چې دهغه لپاره د پښتوادبیاتو تاریخ او بعضی نورکتابونه ولیکل شو.

هما : داخو هغه کارچې د درس او تدریس سره یې تعلق لرلو ،پښتوټولنې څه ادبي کار کړی دی؟

رښتین: پښتوټولنې دیوانونه چاپ کړی دی،دادبیاتو تاریخ یې چاپ کړی دی،اولنی د ادبیاتو تاریخ مالیکلی دی چې په (۱۳۲۳) هـش کال چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هما : تاسو خپل څو مره کتابونه لیکلی دی ؟
رښــتین: مــا اویــا کتابونــه لیکلــی دی، یــو زرمقــالی مــې لیکلــی دی، دمخونو شمیریې له لس زرو څخه زیاتیږي.
هما : په دی اویا کتابونو کې څومره چاپ او څومره ناچاپ دی؟
رښتین: شل پنځه ویشت به ناچاپه وی، نورټول چاپ شوی دي.
پښتو ټولنې چې کوم غټ کارکړی دی. هغه دشبلي نعمانی او سید سلیمان ندوی دسیرت النبی پښتو ترجمه ده ، په شپږو جلدونو کې چاپ شوی ده.
هما : - دا کله چاپ شوی و ؟
رښتین: دا پــه (۱۳۲۳ ) هـ ش کـال کې ،بـل غـټ کـارددایرة المعـارف چـاپول دي.دا په اووه جلدونو کې چاپ شوی دی. وروستی دوه جلدونـه پـه (۱۳۵۴ ) او (۱۳۵۵ ) هـ ش کال کې چاپ شوی دی.
هما : دشبلی نعمانی سیرت النبی خو زمونږ دپښـتو اکادمۍ هم چـاپ کـړی و ؟
رښتین: دوی خو ډیرروسته چاپ کړی دی، مونږ ډیرپخوا چاپ کړی دی.
هما : هسی مونږ چې ګورو ،نوستاسودکار اوپښـتو اکیدمی پـه کـارکې څـه یوشان والـی نـه دی پیـدا شـوی- کـوم کـارچې دوی کـړی هغـه تاسوهم کـړی دی؟
رښــتین: پښــتو اکیدمی خــو ډیــره وروســتوجوړه شــوه.دا ټول کارونــه مــونږ مخکی کړی دي، پښتنی سندرې پـه نـوم پـښتولـنډۍ مونږ پـه ۱۳۳۴ هـ ش کـال کـې چـاپ کـړی دی.پـه دی کـې خالصـې اتـه زره دپښـتولنډۍ دي.ددې دویم جلد دپښتو چاربیتی دی.
پښــتو اکیډمۍ دروهــی ســندرې ټــپې پــه نــوم داکــار ډیرروســتوکړی دي، خوپه هغه کې یې زمونږ دکارهډو څه ذکرنه دی کړی، بل کتاب ملی هندا ره

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد ګل نوري ليکلی و ،چې پخوانی نقلونه پکی دی، پښتو قاموسونه مونږ پخوا ليکلی دی اول او دويم جلد ،د پښتو ګرامرما ليکلی دی ،ژبښودنه، د مصدرونو لارښودنه ،دا ټول کتابونه ما ليکلی دي په پښتوکې د ګرامرټول کارما کړی دی،زما څخه مخکې محمد اعظم ايازي د پښتو ګرامرليکلی و خو هغه په پارسۍ کې و ، اول جلد او دويم جلد زما د ګرامرژبه هم پارسی ده.

هما : پښتوکې يوکتاب دی (پټه خزانه ) ؟

رښتين: (پټه خزانه ) د هغې قلمي نسخه عبد الحی حبيبی پيدا کړی وه او په ۱۳۲۳ هـ ش کال کې چاپ شوه .

هما : په دی هکله ما داخبره کوله چې نن سبا د هغې په برخه کې کوم بحثونه روان دی، نو هغې د نوو ليکوالو په ذهن کې شکوک شبهات پيدا کړی دی تاسو......

رښتين: دا شکوک او شبهات دلته پيدا شوی دی،مونږ په دی لړکې هيڅ شبه نه لرو ،ځکه چې پخوانی کتابونه همدا سې يوه ياد وه نسخې پيدا کيږی،ډيرې نه پيدا کيږی، زمونږ په نظرپټه خزانه د شاه حسين هوتک په زمانه کې محمد هوتک ليکلی ده ، په ۱۱۴۲ قمری کال کې. دا بيخی صحيح ده ،د هغی په برکت باندې د پښتوادب تاريخ دويمې هجری پيړۍ ته رسيدلی دی. د دی کتاب په حواله اميرکروړ ړومبی شعرد پښتو ويلی دی – چې هغه يوه ويارنه ده.

په پټه خزانه کې چې کومې قصيدې راغلی دي،لکه د اسعد سوري او ښکارندوی وغيره ، دا سې قصيدې اوس څوک نه شی ليکلی.

هما: زمونږ يو محقق دی، قلندر مومند صيب ،هغوی په دی کتاب څه علمي بحثونه کړی دي، او ددې کتاب د ځينو ټکو لکه: هيواد ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

استوګنه، اوګروهیدل په هکله وایي چې په پټه خزانه کې داټکې په کومه معنی کې استعمال شوی دي – دغه معنی بیخي اوسنۍ او جدید د اوزمونږ پخوانیو شاعرانو دغه ټکی په دغه معنو کې نه دي استعمال کړی.
دویمه خبره هغوی د کتاب د نوم او د ترتیب په حواله کوی او وایي چې په دی کې د شلمی صدی نفسیات کار کوي- قلندرخودی کتاب ته بالکل جعلی ویلی دی، خود ادب د طالبعلمانو درهنمایی له پاره ستاسو رایه او ریدل غواړو؟
ربنتین: داسې اعتراضونه خو چې څوک غواړي په هر کتاب کید ای شی، اعتراض خو بیل شی دی.مونږ د قلندرمومند سره موافق نه یو- پټه خزانه پخوانی کتاب دی او په دی کې هیڅ اشتباه نشته او محمد هوتک په دې پوره پوره حوالې ورکړی دی لکه د شیخ کټه لرغونی پښتانه، تاریخ سوري او داسې نورټول کتابونه چې دا کتاب یې ترې لیکلی دی ښودلی دي.
هما: دالرغونی پښتانه او تاریخ سوری خو هم نشته او نه پیدا کیږي؟
ربنتین: پټه خزانه کې د دې حوالی شته.
هما : د کتاب د استناد له پاره یو داخلی شهادت وی او بل خارجي شهادت وي. داخلی شهادتونه خو په خپل ځای ،خود پټې خزانی د استناد لکه چې هغوی وایي څه خارجي شهادت مخی ته نه دی راغلی یعنی د نورو کتابونو په حواله د دې ذکر نشته ؟
ربنتین: په هغه وخت کې د مغلو حکومت و ،مغل د پښتنو ازلي دښمنان وو ،هغوی د پښتنو د تاریخ په هکله چې څه اثار بیا موندی دي هغه یې سوزولی دي.
هما : ستاسو دا دلیل په دی سلسه کې واقعی درونـد دی چې په هغه زمانه کې پارسی درباری ژبه وه ،نو د پښتو اهمیت نه و ،او یوه مقابله د دواړو ژبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانه وه.نو دهغه وخت مغلي پاچاهانو نبه پـه اراده اونبـه پـه منصـوبه بندۍ د پښتو دتاريخ او ادب ټولې حوالې ګډې وډې کړې دي.
ربښـــتين: دمغلــو دوره دری ســوه کالــه وه، پښـــتانه دغــې دورې تــه پــه خپلو ادبياتو کې مغلواله وايي، اومغلواله وايي ظلم ته لکه چې حميد بابا وايي:

يو به نه سم مغلواله درقيب ستا      په رښتيا که زيږولی پښتنی يم

مغلواله ظلم ته وايي او داظلم دوی په پښتنو کړی دی.
هما : رښتين صيب: کـه پټـه خزانـه جعلی ثابت شی،نو په پښـتو ادب بـه څـه اثرات مرتب شی؟
رښيتن: پښتو ادب ته به پرې زيان ورسی ځکه چې د پټې خزانې پـه حوالـه د پښتو ادبياتو تاريخ دريمې هجری پيړۍ ته رسيدلی دی.
خبـره داسې ده چې مـا دوه مکتوبـه همـيش ګـل همـيش (همـيش خليـل) او حبيـب الله رفيـع تـه ورکـړی دی،اوپکـې مـې ويلـی دي چـې قلندرصـيب ! حبيبی خونه دعوې کړې دشاعرۍ او نه شاعرو ،نو داپنځوس شعرونه ده لـه ځانه څنګه جوړکړی دي؟اوهغه کې ډيرلغات داسې دي چې هغه اوس نشـته لکه: نرمل –ترمل او برمل او داټول لغات د اسعد سوري په شعرکې راغلـی دي، او اوس نشته چې ده له ځان نه جوړکړی دي.
هما : حبيبی صيب شاعرنه و ؟
رښتين: نه –هغه دعوې نه وه کړی شعرنيم يې ويلی خو شاعرنه و.
هما : قلندر مومند چې کوم کتاب ليکلی دی (پټـه خزانـه فـی الميـزان) هغـه تاسولوستی دی؟
رښتين: ماله يې راکولو قلندرمومند دغه کتاب –خو ما وويـل مالـه يـې مـه راکوه ،زه ددې دکتو توان نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هما : هغه چې ستاسو دکتاب دکتو توان نه لری او تاسو دهغوی دکتاب دکتوتوان نه لری- نودا خوڅه ښه رویه نه ده ،بیا به دا خبره منطقي نتیجې ته څنګه رسي ،مونږ دا مسئله نه ګڼو ؟

رښتین: ما ورته وویل چې دا بی ځایه کاردی،تاچې داخپل عمر په دې تحقیق تیرولو ،نوبل څه غوره کاربه دی کړی و ،اووه ځلویښت کاله کیږي چې داکتاب چاپ شوی دی،تراوسه پورې پرې چا اعتراض نه دی کړی،نوته یې پرې اوس ولی کوې، حبیبی چې کله ژوندی و ،نوهغه وخت دی پرې ولی اعتراض نه کولو ،کړی به دې و.

هما : تاسو یقیناً په دې کتاب خپل ښه پاخه او کوټلي دلایل ورکړه -او خپل نکتنه نظرمو ښه په وضاحت سره بیان کړو ،زما په خیال دابحث کافی و.

اوس به نورې خبری کوو ،تاسو په کابل کې د پښتو دپاره ډیرکارکړی دی او هغه مو یو مقام ته ورسوله، دازما په خیال په کابل کې ستاسو دکړی کارنتیجه ده چې پښتو نن دومره اهم مقام حاصل کړی دی،اوس دلته په دی پښتونخوا کې د پښتو دعام کولو له پاره چې ستاسو په ذهن کې څه تجویزونه وي نو هغه وړاندې کړئ.

رښتین: مانه به پاچاخان (خدای دی وبخښي) تپوس وکړوچې د پښتنو د ترقۍ دپاره څه کول پکار دي نوما به هغه ته دا خبره کوله چې د یو قام د ترقۍ څلور اهم توکي دي- علم،اقتصاد ،کلتور او سیاست ،تاسو په یوه پایه ګاډی چلوی یعنی تش سیاست ته مولاس اچولی دی –په دی پښتون قام ترقی نه شی کولای،دی لپاره دهغوی رومبی علمي ترقی ضرورده بیا دهغوی معاش پلو ته توجه پکارده ،بیا یې ژبه او کلتور وده ومومي دهغې پس به سیاسی اوچتوالی حاصلوی،تاسو چې په اورګاډی دخوشحال ایکسپرس نوم کښیږدئ نودهغی نه پښتون قام ته څه فایده

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسي يا که چوکونو ته د پاچاخان چوک وو ايي نو په دې څه کيږي، ړومبی علم او اقتصاد پکار دی، ستاسو پښتو اکيډمۍ چې کتابونه چاپوي، نو پکار ده چې پوهانو سره پرې مشوره وکړي – دوی بې فايدې کتابونه چاپ کوي- بل مونږ دا کار په کابل کې کړی وچې لارې کوڅې، د کانونه موټول پښتو کړي وو ،دلته هم دا کار و کړي، ولې چې د دې ځای نوم پښتونخوا دی.دوی د پښتو لغات چې پيدا کوي په هغه کې غور نه کوي، عربی او پارسی هرڅه پکې راولی دا صحيح نه دی.
هما : نن سبا په پښتو کې شاعری ډيره په غرب کې روانه ده ،ستاسو څه خيال دی چې د پښتو د ترقی له پاره شاعري اهمه ده که نثر.
رښتين: دا خبره ماخوځله کړې ده چې ډيره شاعری پښتو ژبی ته څه فايده نه رسوی د شعرنه نثرزيات مهم دی،ژبه په نثر ترقی کوي- ډيره شاعری ښه نه ده يو نيم شاعر پکار دی،ليکن ښه شاعرلکه حمزه صيب او نور.....
هما: د پښتو ليک لارديو کولو له پاره څه متفقه فيصلی شوی دې په دې باره کې ستاسو څه خيال دی؟
رښتين: دليک لارخبره دا سې ده چې اول مجلس پښتو ټولنې په کابل کې په ۱۳۲۱ هـ ش کال کې کړی و د پيښور اديبان هم کابل ته راغلی و ،او بيا بل مجلس شايد (۱۳۲۷) هـ ش کال کې و شو ،بيا بل مجلس پيښور کې شوی و دا دری مجلسه مونږ کړی دی او دا ټولې خبرې په هغه کې فيصله شوی دی چې څه پاتې دی هغه ډيرې لږې پاتې وی.يو کتاب دی ادبي جرګه ورته وايي دا پښتو ټولنې کابل چاپ کړی دی، دا ټولی خبرې او فيصلې په هغی کې شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هما : د پښتو اکیډمی د سیوری لاندې په باره ګلی کې دلیک لارکوم سمپوزیم شوی و ،او په هغه کې کومې فیصلې شوی، هغه تاسو لوستی دی په دی فیصلو او په هغو کې کومې تاسو کړی وی څه فرق شته ؟
رښتین: فرق شته پکې دلیک لاراوسنۍ بعضی فیصلې صحیح دی، بعضی نه دی.
هما : تاسو څه وایې چې په هغه کې څه صحیح نه و ؟
رښتین: دی فیصلو کې زورکی له پاره همزه لیکل صحیح نه دی لکه زړهٔ (دل) په دې کې همزه نه وي.مونږ حفیفه(ه) ورته وایو هغه لیکو او زړه (پرانا ) په (هـ) لیکو.
هما : حفیفه به څنګه لیکو ؟
رښتین: داسې به لیکو(رښتین صیب په خپله په کتاب وښودله) ، (ه) اوظاهره به(ه) داسې لیکو.
هما : دخفی (ه) له پاره قلندرصیب چرګۍ (ه) یعنی دا (ه) سیوا کړی ده لکه او بهٔ.
رښیتن: نه نه چرګه (هـ) نشته داسې نه لیکل کیږی ،مثال یې دادی (رښتین صیب پخپله ولیکل ) لکه د زورکی د اواز(ه) دپاره به داسې لیکو لکه مارغه اوښکاره ده (ه )له پاره به داسې لیکو لکه غرمه.
هما : ښه چې د ښکاره او زورکی اواز له پاره دخفی (ه) خبره خو واضحه شوه اوس دامر له پاره (ی) دپاسه همزه اچول کیږي لکه وکړئ.
رښتین: داسې مونږه هم لګوو ،داصحیح ده د تانیث له پاره کش (ۍ) هم صحیح ده لکه جینکۍ ، چوکۍ وغیره.
هما : اوس چې په دی نوی املاکې پنځه (ی) ګانې شاملی دی چې طالبعلمانو له پاره ډیرلوی مصیبت جوړ کړی دی ،لیک دود صرف

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیکوال مسئله نه ده،دی کې ماشوم طالبعلم هم شامل دی ، دا تدریسي معامله ده.
نوید : استاد (معلم) هم پرې نه پوهیږي.
هما : هو ! استاد (معلم) هم پرې نه پوهیږي. په دې معامله نورغورهم پکاردی،اوچې داټکی خصوصاً (ی) ګانې چې رالنډې شی نوښه به وي.
رښتین: پکاردی چې په دی معامله غورجاری وساتلی شي.
نوید : په کابل کې کوم یو دور پښتوته ډیره توجه ورکړی ده ؟
رښتین: دظاهرشاه په دورکې ډیره توجه ورکړی شوې ده ،هغه د پښتود ترقۍ مانع نه و نورمحمد تره کی پښتوټولنه ورانه کړه، اکاډمي علوم نوم یې ورته کېښود ،پارسی یې پکې داخله کړه پښتوټکي یې ترې لرې کړل،پارسبان تکړه وو ،پوهاندان پکې وو ،هغوی پښتوګډه وډه کړه او پښتانه یې وروسته کړل پخوانی پوه خلک چې ووهغه مړه شول،ځوک پاتې نه شو ،هلکان وو ،هغوی کارنه کولو.
نوید : اوس په موجوده دورکې په افغانستان کې د پښتو څه حیثیت دی.
رښیتن: موجوده وخت کې خو پښتو هیڅ حیثیت نه لري پارسی مخکې ده ،حکومت هم دتاجکو دی،
رباني هم تاجک دی مسعودهم تاجک دی،پښتانه نشته.
نوید : داخبره کیږی چې دمجددي په وخت کې د پښتوکتابونه سیزل شوی دي؟
رښتین: زه خپله معلومات نه لرم.خو احتمال لري چې داسې شوی وي ازبکو به کړی وي، هزاره ګانو به کړی وی،نورمحمد تره کی پښتوویله خو پښتوسره یې مینه نه وه،په وزارت معارف کې ماته یوسړی وویل چې نورمحمد تره کي د پښتوکورسونه لرې کړل،ته په دې کې څه وایې،ما ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځواب کې وویل چې کورس خویوشی وی چې دلړې مودې له پاره وی خلکو خو پښتو زده کړی ده اوس پښتو کورسونو ته ضرورت نشته.
هما: کتابونه که اوس لرې هم کړی نو ضرورت نشته خلکو پښتو خپله کړی ده، پښتانه شوی دي.
نوید: خلک پښتانه شوي خو دي، خو هغه موجوده دي، راتلونکی نسل به څه کوي؟
رښتین: هو کنه، پروګرام خویې خراب کړو.
نوید: بهرحال نقصان خو دی د پښتنو له پاره.
رښتین: په دي هر څوک پوهیږي، په زړو کالو کې د تاجکو حکومت نه دی راغلی، اوس تاجک دي په کابل ښار کې د پښتنو اختیار نشته.
نوید: دلته ادب او سیاست یو د بل سره جوړه راروان دي، په افغانسان کې د ادب او سیاست څه بیلتون و، د یو بل څه اثر خویې نه قبلولو؟
رښتین: هغلته ژبې ته د ژبې په حیث کتلی شول، څه سیاسی تړون یې ورسره نه کولو.
نوید: د کابل ریډیو او ټلی ویژن چې د خپل انقلاب کومه پروپیګنډه کوله هغې کې خو هم ادب شامل و؟
رښیتن: د خپل تبلیغ له پاره خویې استعمالوله.
نوید: په کابل کې چې کوم انقلاب راغی، د هغې څه اثرات دي، ستاسو څه خیال دی؟
رښتین: افغانستان خویې خراب کړ، آبادی یې خرابی کړی، وړاندې خود روس پوځ و، هغوی هر څه خراب کړه، او اوس چې دا مجاهدین ځان ته وایې، دوی په خپل منځ کې جنګیږي، دا باقی پاتې به اوس دوی خراب کړی، دوی د چوکۍ د پاره جنګیږي، د خدای له پاره نه جنګیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوید : تاسو خو په دې ټول دور کې هلته پاتې شوی وی؟
رښتین: د نجیب الله په دور کې هلته وم، خود حکومت سره مو همکاري نه کوله- رسول امین راته وویل چې تا عدم تعاون کولو لکه ګاندهی چې عدم تعاون له کولو ،رسول امین دلیکوالو ټولنې مشردی ما ورته وویل، چې هو ما تعاون کولو ،ماته څوځله سلیمان لایق ویلی وو چې راشه مونږ سره کاروکړه، دباچاخان په مخکی یې راته ویلی وو ،چې دوه دری ځلی یې راته وویل چې مونږ سره په اکاډیمی علوم کې کاروکړه .خوماورته په ځواب کې وویل: چې لایق صیب خلک چې نوکري کوی،نودری څیزونو له پاره یې کوي ،شهرت له پاره یې کوی، دموټرله پاره یې کوی، د پیسوله پاره یې کوی.زه شهرت په افغانستان کې دومره لرم چې نورنه ځائیږی دموټرسورلی مې ډیره کړی ده ،نوره یې نه کوم، اوپیسی ماسره دومره شته چې زما کارپرې کیږي ،نورې نه غواړم.
پس له هغی سلیمان لایق له مانه لاس واخیست، ما ورته وویل چې که علمي کارغواړی،نوزه به درته لاروښایم- هغه شان وکړه ،کتاب ماته راولیږه کورته ،قاموس وي، ګرامروي،زه به یې صحیح کوم، خودغه کارهغه نه کولو ،ده مانه په تنظیم کې همکاري غوښته ،هغه مانه کوله.
کله چې زه ناجوړه شوم نو نجیب ماته په اول کال کې پاسپورت نه راکولو چې زه هندوستان ته لاړشم.
هما : دانقلاب په دورکې تاسو هلته دیره وي سره لدې چې تاسو همکاری نه ورسره کوله او هلته وی، اودلته رانغلی اونورملګري راغلل داولی؟
رښتین: زه ناجوړه وم کنه ،دناجوړتیا دلیل و ، سپین ږیری وم بهرته نه وتلم.
نوید : په دې دویم دورکې چې څوک راغله داڅوک وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتین: داخلقیان وویا پرچمیان وو ،دوی ویریدل چې دا ملایان به مونږ په غذابوی،نو دوی د ملایانو نه راوتښتیدل.
نوید: تاسو ته په دې دور کې تکالیف نه وو؟
رښتین: ما څه برخه هم نه اخسته او مریض هم وم.
هما : اوزما په خیال یوه وجه دا هم وه ،چې تاسو ټول عمر علمي کارکړی دی اوسیاست کې مو برخه نه ده اخیستی ؟
رښتین: په یو دورکې زه سیاست کې وم، په ویښ زلمیانو کې وم خولږه موده وه.
هما : داکوم دور و؟
رښتین: دا دشاه محمود خان دصدارت دور و.
هما : داویښ زلمیان څوک وو دحکومت په طرف وو که مخالف وو.
رښتین: دوی اصلاحات غوښتل ،نه دحکومت په طرف وو نه مخالف وو.
هما : دحکومت له طرفه په دوی څه پابندۍ نه وی ؟
رښتین: دشاه محمود خان په دورکې نه وی ،وروسته وربانديي ولګیدی ټول،بیل بیل شو ،غلام احمد صافی او بینوا استعفی ورکړه یوزه اوبل نیک محمد پکتیانی پکې پاتې شو.
نوید : دپاچاخان دکتاب متعلق تاسو څه وایې ؟
رښتین: ښه کتاب دی ،خپل تاریخ یې لیکلی دی،ماکتلی دی،صحیح کړی مودی،باچاخان ماته خط رالیږلی و ،زه په جلال آبادکې وم ویل یې زه یې ستادکتونه بغیرنه چاپ کوم،بیاماوکتو په اخره کې هغه زما نوم هم لیکلی دی،او اصلاحات مې هم پکی کړی دی (دکانګرس بی وفایي) دا عنوان ما ورکړی دی.
نوید : دولي خان کتاب موکتلی دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتین: نه مانه دی کتلی ،باچاخان دپښتون سندره ویله او هغه په هغې باندې د پښتنو خوښ و ،حتی چې د بچه سقاو په کابل کې پاچاهی شوه –او نادرخان پیښور ته راغی نو باچاخان او میا جعفرشاه پاڅیدل او چنده یې ورله وکړه او کومک یې ورسره وکړو ،او د دوی په کومک نادرخان په کابل کې پاچا شو ،اوس هم په کابل کې د بچه سقاو غوندې حال دی تاجک راغلی دي، ازبک راغلی دي،او د پیښور پښتانه هیڅ غږ نه کوي.
هما : دا ستاسو په شاګردانو کې چې کوم لیکوال دي،د هغوی د کار متعلق ستاسو څه خیال دی؟
رښتین: دوی شاعران معرفی کوی،دا کار پخوا شوی دی،او سه پورې پنځه ټوکه پښتانه شاعران کابل کې چاپ شوی دی.هماغه سلسله ده ،البته د سنو غلطۍ پکې لاډیری دی،او زیار صاحب چې کوم لغات جوړوي د ځانه ،ترڅو پورې چې یو مجلس علمي د هغو تصویب ونه کړی،هغی پورې دا صحیح نه دي.
دا زیار زما شاګرد دی ما ورته درس ورکړی دی،ډاکتری یې زما په کتاب د پښتو(اشتقاقونه او ترکیبونه) په مدد اخیستی ده دا زما کتاب په ۱۳۲۷ هـ ش کال کې چاپ شوی دی.
نوید : ستاسو سره چې د دوی اختلاف و ،نو دا سیاسی و ، که ادبي ؟
رښتین: دا حبیبی چې و ،دی زمونږ د ننګرهار د ژبې مخالف و ،دی هلکانو به د هغه قدر کولو - په دې کندهاري او ننګرهاریت باندې ،دې هلکانو به ما ته ویل،چې مونږ څه وایو هغه صحیح دی ما به ورته ویل چې داسې نه ده ،مونږ بین الافغانی ژبه جوړوو چې کومه کلمه په کندهار کې صحیح وی،هغه به د کندهار نه راخلو او چې کومه په ننګرهار کې سمه وی هغه به ترینه اخلو ، زما دوی سره دا اختلاف و- حبیبی ویل چې کندهاری صحیح

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده – دی هلکانو حبیب الله رفیع او زیاربه د حبیبی صفت کولو ، ده ته به یې لوی استاد ویلو ،د داود خان په وخت کې د حبیبی اختیار ډیرؤ او هغه ددې هلکانو کتابونه چاپ کول،نو دوی به د هغه متابعت کولو ،زما به یې نه کولو ، خو دا مخالفت سطحي و اساسي نه و.

زیارصیب به د ځانه لغات جوړول (ما خذونو ) ته به یې (اخذ )ویلو ما به ورته ویل چې دا (اخذ ) غلط دی، زیارصیب چا ته ویلی و ،چې پښتو ټولنه مونږ ته په یو لغت باندې پنځه روپۍ راکوي او رښتین مونږ ته لاربندوی.

هما : خندا وکړه او ویې ویل ښه د پیسو معامله وه ؟

رښتین: زیوردین زما زوم دی هغه ته یې ویلی وو ،چې اوس په ډیلی کې په جواهرلعل نهرو یونیورستۍ کې استاد دی.

هما : د اخذ ،او ماخذ لږ وضاحت وکړئ، د اولی غلط او صحیح دی؟

رښتین: اخذ ځکه صحیح نه دی چې ددی اخرته دا (ذ ) ظرفی توری دی چې د فعلی مادې اخرته راځی یعنی اخستل،اخلی راځي ،نو چې ته اخلیزو وایي نو دا صحیح ده ، دی ماخذ ته (اخذ ) وایې دا غلط دی.

نوید : د افغانستان په دې اوسنی دورکې ګڼ خلک راغله ،هنرمندان ،لیکوالان د افغانستان د موجوده حالاتو د صحیح کیدو او ددې خلکو د واپس تلو څه امکانات شته ؟

رښتین: امکانات شته خو پوهه غواړي ،خلک غواړي، سرغواړي، سرنشته.

هما : حل یې څه دی ؟

رښتین: حل یې دا دی چې ټول خلک د اکثریت تابع شی، پښتانه اکثریت لري،اوس پښتو ته په ښه سترګه نه ګوري – پخوا هم مونږ د پښتوله پاره جګړی کولې، پخوا یوسفیر د ایران ماته وویل چې ته د پارسۍ په ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو غواړي، ما ورته وویل چې دا سې نه ده ،پارسی په خپل ځای ده ، او پښتو په خپل ځای ، پښتو سره چې کوم ظلم شوی دی، مونږ غواړو چې دا ظلم ونه شي، هر پښتون شاعر په خپل دیوان کې د پارسۍ شعرویلی دئ لیکن د پارسی شاعر پښتو شعر نه دی ویلی.

اوس همدغه حال دی، نو ما دایران سفیر قانع کړو په دي خبره چې مونږ دواړه ژبې په خپل خپل ځای غواړو ،خو پښتو د اکثریت ژبه ده .

ملا فیض محمد هزاره په سراج التواریخ کې لیکلی دي.

بالنسبت کثرت وانبوهی مردم افغان کلمه ستان دراخر آن ملحق گردید برتمام مناطق افغان نشین اطلاق گردید.

ترجمه: په دی نسبت چې افغانستان کې افغانان ډیرو ونو کلمه (ستان) دافغانستان سره ونښلول شوه او ټولو مناطقو ته چې افغان پکې وسیږي اطلاق شوه.

نوید : ستاسو زمونږ دصوبې له پاره د پښتونخوا دنوم په هکله څه رایه ده .

ربنتین: ما دامیر محمد په خوله ولی خان ته سوال ځواب لیږلی وچې پښتونخوا که څوک نه مني،نو دې سیمی ته په روهستان یا ګندهارا کې کوم نوم خوښ کړی بلکې روهستان دې علاقی ته د پخوانه وایې ،دانوم زیات مناسب دی.

دشیدا شعرونه دي. خان اساذ دتمام روه دی –دی دانا په هرګروه دی

یا دا : په هندي ادا یې وکړی په ماچارې –زه شیدا په روح ساده دروه افغان یم

اشرف خان هجری وایې: قاصدان له روهه نه راځي مدت شو- سلام باد را رسوي منت یې تم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هما : ښه جې ، رښتین صیب ستا سو ډیره ډیره مننه چې تا سو مونږ ته دومره وخت را کړو او په هره موضوع را سره په دومره تفصیل او په روڼ تندی خبرې وکړی.(۱)

را ته خپل څه کلام عنایت کړی.

رښتین: زه بنیادی طور سره نثرنگاریم شاعری مې ډیره نه ده کړی خو (خندا )یو رباعي وړاندې کوم.

هما : ارشاد.

رښتین:

له مړینې وروسته یو ځل به را شې
قـــبرزما له که وفادارو یې
هـم به نثار کړی گوهرداو ښکو
زمـا دخاورو که رښتین یارو یې(۱۰:۲۰ ، ۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخ په مخ رسالې سره مرکه

## مرکه کوونکی: حنیف خلیل

صدیق الله رښتین د پښتو تاریخ ،تحقیق او تنقید د میدان یولوی نوم دی.
دافغانستان په پنځوستوروکې ددوی نوم هم شامل دی.
دافغانستان د پښتو ټولنې درئیس په حیث یې د پښتو ژبې او ادب ډیرلوی خدمت کړی دی.مقالې او کتابونه یې په ګڼ شمیرکې لیکلی دي.
بنیادي موضوعات یې دزړو او نوو شاعرانو تذکرې، پښتوګرامر،دپښتونثر، تاریخ او متفرقي تحقیقي مسئلې دي.
شاعري یې هم کړې ده ، ډرامه یې هم لیکلې ده،خو بنیادي میدان یې دتحقیق دی، او په دې میدان کې ډیرلوی نوم لري. د پښتو ادب په مستقبل کې د رښتین صاحب دیو محقق په حیث لو یه برخه ده.

پوښتنه: په افغانستان کې د پنځو شپږو کسانو د تحقیق چې تاسو هم پکې شامل یې مخکې له هغې نه د تحقیق لارې مکمل نه وې خلاصې نو تاسو ته په تحقیق کې کوم مشکلات پیښ شوی وو ؟

ځواب: په افغانستان کې چې پښتو ټولنه جوړه شوه نو د تحقیق لارې ترڅه حده خلاصې شوې، په پښتو ټولنه کې مونږ بل کارنه دی کړی، ټول عمرمو په تحقیق کې صرف کړی دی،د پښتو ټولنې له خوا دژور تحقیق شروع عبدالحی حبیبی وکړه، هغه او ما پښتانه شعراء ولیکلو ، خادم، الفت، بینوا او ما د حبیبی سره یوځای تحقیقي چارې جارې وساتلې او په خپله مینه او ذوق مو کارکولو نوځکه راته ډیر مشکلات نه دي پیښ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: دا خبره ترکومه حده صحیح ده چې دافغانستان دغه پنځه شپږ ادیبان، حبیبی صاحب، خادم صیب، الفت صیب، بینوا صیب او تاسو وزیرمحمد ګل خان دریافت کړي وې او په تحقیقي کارېي اچولي وې ؟
ځواب: دا خبره صحیح نه ده ، وزیرمحمد ګل خان چې کله ما ولیدلو نو هغه وخت زما لس کاله د تحقیق او ادب سره علاقه مندی تیره شوی وه، دا خبره صحیح ده، چې وزیرصاحب سپین ږیری و ، مشرو، استاذ و، ولې هغه مونږ نه یو دریافت کړي، ځکه چې هغه په کال ۱۳۲۷ هـ ش کې کابل ته راغلی و ، او مونږ لیدلی وو، ما یو کتاب لیکلی دی ((زما ژوند او هلې ځلې)) په نامه په دغه کتاب کې دا ټولې خبرې شته دکومو چې ته پوښتنه کوی امید دی چې دغه کتاب ژر چاپ شي.په دې بنیاد زه وایم چې زه شخصاً د وزیرصاحب دریافت نه یم، ترکومه حده چې د عبدالحی حبیبي تعلق دی، نو خبره دا سې ده، چې کله پښتو ټولنه جوړه شوه، نو سردارنعیم خان وزیرمحمد ګل خان ته وویل چې پښتوټولنه جوړه شوه نو مدیربه یې څوک وي، وزیرصیب ورته وویل چې عبدالحی حبیبي ، نو دوزیرصیب په خواهش حبیبي صیب دکندهار نه راوغوښتی شو او دپښتوټولنې مدیرشو.
په هغه وخت کې په کندهارکې هغه د ((طلوع افغان)) مدیرو، وزیرصیب یوځل دا هم ویلی وو چې ما حبیبی ته وویل چې ستا دا اخبار خو پارسی دی باید چې پښتو شي، ځکه یې وروسته دغه اخبارپښتو کړ.
پوښتنه: ایا تاسو د تحقیق نه علاوه تخلیق (لنډه کېسه، شعر، ناول وغیره) ته هم توجه کړې ده که نه ؟
ځواب: شعرونه مې ډیرلیکلي دي ،کومه یوه کیسه به مې هم لیکلې وي، ناول مې نه دی لیکلی، البته ډرامه مې لیکلې ده ،د ډرامې نوم مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د پښتنو تور سرې) ايښې دي.خو مونږ صرف شعر، افسانه او ناول ته تخليق نه وايو هرليک تخليق ګڼو.

پوښتنه: تاسو په افغانستان کې د کومې سياسي نظريې مرسته کړې ده ؟

ځواب: مونږ په کوم حزب کې شامل نه وو ،البته نظريه مې پښتنه نظريه وه د پښتو ژوند اوبقامو غوښتنه وه،دا خبرې ماهم په خپل کتاب (زما ژوند اوهلې ځلې )کې ليکلې دي. يوځل په کابل کې دايران سفيرماته وويل،چې ته غواړې چې پښتو د پارسي سره همځنګ شي. ماورته وويل چې ته چا په غلطه پوه کړې يې ،پارسي خپل ځاى لري، پښتو خپل ځاى لري خو پښتو سره لږ غفلت شوى دى ،مونږ غواړو چې د دغه غفلت ازاله وشي.خوشحال خان خټک وايي:

پارسي شعرمې هم زده
سليقه لرم د دواړو
په پښتو کې شعر وايم
نو داخبره چې ژبه خداى پاک پيدا کړې ده.وعلم الاسماء کلها .

پوښتنه: تاسو د مياشرف (پښتو عروض) نومې کتاب باندې تحقيق کړې دى تاسو دا وواېې چې کوم عروض خليل بن احمد دعربى شعرله پاره جوړکړى وو ،ايا دغه عروض په پښتو شعر تطبيق کيداى شي؟

ځواب: خبره داده چې مياشرف دعربى څوارلس بحرونه په پښتو شعرتطبيق کړې دي،خو شعرونه يې ورته پخپله جوړ کړى دي.

پوښتنه: که مونږ د مياشرف څخه علاوه د بل چا په پښتو شعر دغه عروض تطبيق کړو نو کيداى شي که نه ؟

ځواب: په ځينو شعرونو کيداى شي او په ځينو نه شي کيداى،خو په کامله توګه په پښتو شاعرۍ نه تطبيق کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: دغه څوارلس بحرونه یا عروض زحافات دي که نه کامل عروض دی؟
ځواب: زحافات هم پکې شته او کامل هم، خو میا شرف چې په کومو شعرونو ددې اطلاق کړی دی، هغه شعرونه ډیر ښکلی دي او عروض پرې پوره تطبیق شوی دي.
پوښتنه: د قلندر صیب د پټې خزانې فی المیزان او د همیش صیب د تول پارسنګ نه پس د پټې خزانې په هکله ستاسو څه رایه ده ؟
ځواب: د همیش صیب (تول پارسنګ) نه خبر شوی یم ، خو مطالعه کړی می نه دی. خبره داده چې
همیش ګل او حبیب الله رفیع ته ما مکتوب ورکړی وو ، ما لیکلی وو چې پټه خزانه صحیح کتاب دی قلندر مومند زما اشنا دی ، یو ځل یې ماته وویل چې خپل کتاب پټه خزانه فی المیزان به در وړم ، ما ورته وویل چې مه یې راوړه ، حمزه صیب ته مې وویل چې کتاب دی نه راوړی، زه یې حوصله نه لرم، ما قلندر ته ویلی وو چې بل کوم تحقیق به دی کړی و ، نو اهمیت به یې زیات وو ، څلویښت کاله کیږي چې دا کتاب چاپ شوی دی، ته پرې اوس اعتراض کوی، چې حبیبی ژوندی و دا کتاب به دی د هغه په ژوند لیکلی و.
په پټه خزانه کې به معلومات کمزوري وي، خو دا ټول ادیبان دی ماته وایې چې د حمید بابا د پلار نوم څه دی؟ چا ته هم نه دی معلوم، ګنې حمید بابا څومره مشهور سړی دی، نو پټه خزانه کې غلطی کیدی شی. خبره داده چې حبیبی صاحب خو نه شاعرو او نه یې د شعر دعوه کوله نو هغه به څنګه دغه ټول شعرونه له ځانه جوړ کړی وو ، او بیا د ښکارندوی قصیده خو ډیره اعلی ده. دا ټک خبره هم د قلندر مومند غلطه ده ، اټک یا ټک سرحد ته وایې او اباسین د پوځیانو سرحد دی اټک او ټک یوه کلمه ده ، لکه څنګه چې ټال او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اټال یوه کلمه ده ،څرنګه چې اباسین د پوځیانو سرحد یا برید دی،نوځکه د قلندر اعتراضونه غلط دي.

پوښتنه: تاسو خپل یو کتاب کې لیکلی دي چې حبیبی صاحب په پښتانه شعراء کې دځینو شاعرانو معلومات زما څخه اخیستی وو ،خو بغیر د حواله یې لیکلی دي ؟

ځواب: حبیبی صیب ته دلسو شاعرانو په هکله معلومات ما لاس په لاس ورکړی وو ،خو هغه زما حواله نه ده ورکړی ،صرف دومره یې ویلی دي چې ما سره یې همکاری کړی ده. یوځل زه او حبیبی دواړه په ګاډي کې ناست وو حبیبی وویل: چې دا قلندر شاعرڅوک دی،ماورته وویل چې اپریدی دی هغه وویل له څه نه یې معلومه وی، ماوویل: دقلندر ددی شعرنه چې:

ستاد حسن په چمن کې دوه رودونه

د دوو سترګو د ماضی باړه جمرود

دباړې جمرود ذکردا ښایي چې قلندر اپریدی دی.

نو خبره داده چې حبیبی صیب په خیړنه کې ما سره او ما هغه سره ډیره همکاری کړی ده،خو دا خبره یې نه وه واضح کړی چې دغه لس شاعران ما ورکړی دي. (۷: ۱۲،۱۴)

(پای)

یادونه: دغه مرکه دښاغلي حنیف خلیل له خوا دری ځلی نشرشوې ده.

۱- وفا جریده ۱۳۷۴ل کال دغبرګولی (۲۵) نیټه.

۲- وحدت ورځپاڼه ، پوهاند رښتین سره مرکه،دمارچ (۳۰) ګڼه. ۱۹۹۸م کال (۲-۴) مخونه.

۳- (مخ په مخ) رساله دادبي شخصیتونو سره مرکې، ۱۹۹۵م کال داپریل دریمه نیټه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وفا جريدې سياسي مرکه

زما په نظر دافغانستان دروان کړکيچ دحل لار لويه جرګه ده په زور په افغانستان او په افغانانو حکومت کول ناشونى کار دى .

پوهاند صديق الله رښتين زمونږ دهيواد دوتلو ليکوالو څخه دى.مونږ د افغانستان دروانې وضع په باب ورسره مرکه کړې ده چې په دې ګڼه کې يې تاسو ته وړاندې کوو.

پوښتنه: دافغانستان مسله به په څه ډول دحل لار پيدا کړي ؟

ځواب: دافغانستان مسئله بايد ځوکاله دمخه د روسانو دوتلو وروسته حل شوې واى،ښه داوه چې تنظيمونو هماغه وخت يو مشرتابکلى واى چې ددغه کارله پاره يې وړتيا درلوده ،ليکن داکارونه شو ،اوبه له هماغه ورځې خړې شوې دي.

ماتل داويلى او ليکلي دى چې دافغانستان مسئله ډيره زړه شوه ،(اوګره چې سرېږي بلا پرې لګيږي ).

دافغانستان دغه روان کړکيچ خود ضياءالحق نه پيدا شو ،چې اووه تنظيمونه يې جوړکړل،چوکى يوه وه او ده پرې اووه کسان کښينول غوښتل اوس ددغه کړکيچ دحل يوازينۍ لار لويه جرګه کيداى شى چې دغه لويه جرګه په ننګرهار،کندهار ياد امن په کومه بله سيمه کې جوړه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په هغه کې دافغانستان مشهور قومونه برخه واخلی.دغه لویه جرګه باید دافغانستان پخوانی پاچا محمد ظاهرشاه اویا دده په څیرکوم بل خیرخواه انتخاب کړی، نو همدغه لویه جرګه به دافغانستان مسئله دحل لارې ته وباسی.
او داچې اوسني واکمنان یا ددوی په شان کوم بل ځوک په زوره حکومت کول غواړی،نو دا سمه نه ده او دافغانستان مسئله به همداسې ناحله وي.خیر ! دافغانستان مسئله به اخرد حل لارمومي ،خو اصلی خبره داده، لکه څرنګه چې په کویټ کې دالصباح کورنۍ ته بیرته واک وسپارل شو ،نو دملګرو ملتو په ملاتړاو د افغانانو په خوښه دافغانستان واک باید دپخوانی پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه کورنۍ ته وسپارل شي.
پوښتنه: دافغانستان دمسئلې په حل کې به تنظیمونه صالح رول ولوبوي او که نه ؟
ځواب: دتنظیمونو په باب باید ووایم چې دوی اوس هم کولای شی چې اتفاق وکړی، سره یوشی او دافغانستان دپخوانی پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه اویا دده دکورنۍ دغړیو ،یاکوم بل خیرخواه ته بلنه ورکړی چې راشي ،نودابه دوی صالح رول لوبولی وي.
ولی خبره داده چې دوی اوس بل چا لمسولی دي او په زرو باندې حکومت کوی،دوی نه پوهیږي چې په زور یاري نه کیږي.
اودوی باید په دې هم پوه شی،چې یوازې دکابل په ښار حکومت نه کیږي،ځکه ددې نه زیاتره ولایات جدا دی بله دا چې موجوده تش په نامه حکومت ملي مسایلو ته هم لمن ووهله،ځینونورو احساساتي
کسانو هم ملی مسایلو ته لمن ووهله اوهمدارنګه ددوی بهرنیي دوست (روس )په افغانستان کې ملی مسایلو ته لمن ووهله،غلطې احصاییي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځ ته کړی، که تاسې د ظاهرشاه څلویښت کلنې پاچاهی ته نظروا چوئ، نو وبه ګورئ چې د هغه په دوره کې د افغانستان د یوموټي پاتې کیدو له پاره هرقوم بیله بیله برخه درلوده، ځکه د هغه هدف یوازې د افغان د نوم خوندي ساتل او یو متحد افغانستان غوښتل و. د کابل حکومت او د دوی ملګري که ملی مسایلو ته د اسې لمن وهي، نو خدای خبر که د افغانستان نننی کړکیچ د حل لاره و مومي.

پوښتنه: د ښاغلي مستیری د هلوځلو په باب څه وایاست؟

ځواب: د محمود مستیری هلې ځلې ښې دي، ولی دې بې زړه دی، څو چې دې له ګاونډیو هیوادونو سره موافقه ونه کړي، نو دده هلې ځلې به کومه نتیجه ونه لري. بهتره داده چې دی خپله خبره اول له ګاونډیو سره پخه کړي او بیا خپل کار روان کړي.(۹: ۴، ۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (مرکه نامه) سره مرکه

مرکه کوونکی: عارف اظهر او نسیم خان نسیم

پوښتنه: د کابل ادبي انجمن په هکله ،هغه وخت چې ښه فعال و معلومات راکړئ ،او دا هم وواېپ چې پښتو ټولنه څنګه فعاله او ادبي ستوري څوک وو؟

ځواب: د کابل ادبي انجمن په ۱۳۱۰ لمريز کال په پسرلي کې په کار شروع وکړه ،چې په شروع کې يې د (کابل) مجلې په نوم يوه مجله درلوده او ۱۳۱۱ لمريز کال يې (د کابل کالنۍ) په نامه يوه کلنۍ مجله هم خپروله ،ځينې ځانګړې کتابونه يې هم نشر کړي دي.

انجمن د (۱۴) مادو لرونکی پروګرام هم درلود.چې (۲) مادې يې ددې انجمن د کار د څرنګوالی په هکله وې او په (۸) مادو کې ددې انجمن تشکيل تاکل شوی وو.

او پښتو ټولنه په (۱۳۱۲) لمريز کال کې جوړه شوه چې لومړی مديريې عبدالحی حبيبی و.دويم يې عبدالرحمن پژواک ،دريم يې بيا حبيبی صاحب ،او څلورم يې عبدلروف بينوا ،پنځم يې زه وم، شپږم يې ګل پاچا الفت او په اووم ځل زه بيا رئيس شوم،چې دا دوره لس کاله وه.

په پورته يادوشوو کسانو کې ما ډير کار کړی دی،چې (۷۱) کتابونه مې د پښتو د ترقۍ لپاره کښلي دي او ددې ټولنې پنځه ستوری دادی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالحی حبیبی، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، عبدالروف بینوا او صدیق الله رشتین.

پوښتنه: څرنګه چې حبیبی صاحب په پښتانه شعراء کې د شاعرانو تذکری کښلی دی. په دې هکله خپل نظر وکړئ.

ځواب: دا کتاب ځینې نیمګړتیاوې لري او هغه دا چې په دې کتاب کې د شاعرانو په ځای یې د عاشقانو نومونه یاد کړی دي.

لکه اسلم خان او رابعه، ظریف خان او مابۍ، مومن خان او شیرنۍ اونور، د دې لړۍ دویم ټوک مالیکلی، دریم ټوک پښتو ټولنې او عبدالشکور شاد لیکلی، څلورم او پنځم یې عبدالله بختاني چاپ کړی دی.

پوښتنه: په پټه خزانه چې محترم مشر قلندر مومند صاحب پټه خزانه فی المیزان لیکلی دی، په دې هکله تاسو محترم څه خیال لری؟

ځواب: زه د قلندر مومند کورته تللی وم هغوی راته خپله لیکنه پټه خزانه فی المیزان ډالۍ کوله، خو ما انکار وکړ او ردمې کړه، مطلب دا چې د دې دالیک د پټې خزانی په هکله او دهغې تردید سم نه دی ځکه په دې کتاب کې د (۵۱)شاعرانو اشعار راغلی دي.

حال دا چې حبیبی صاحب شاعرهم نه و، نو دا اشعارچې سبکونه یې بیلابیل هم دي له کومه شول.

پوښتنه: ستا سو محترم په نزد دصحیح او غلط معیار څه شی دی؟

ځواب: صحیح دوه شرطونه لری او هغه دا چې روایت صحیح وي چې مقبولیت ولري او دیو پوه شخص له خوا تائید شی.

پوښتنه: ستاسو محترم په خیال د ادب تعریف څه دی ؟

ځواب: د دې پوښتنی له پاره دی زما کتا ب د ښکلا وږمې وکتل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: وایي چې پخوا پښتو ډېره محکومه وه ، نو د کومې جذبې او احساس په بنا تاسو دومره وځلوله.

ځواب: څرنګه چې پښتون قام د افغانستان یو پیاوړی غیرتي لوی قام و ، او دی هم. د دوی په هکله وړاند ینو افغاني درباروںو ډېر او بې کچه زیاتې کړې و ،نو د پښتون قام د حق د حصول او د پښتو د لوړتیا احساس و چې پښتو مو د علم ژبه وګرځوله او باید دا هم ووایو چې پښتو د افغانستان رسمي ژبه هم ده، او سیاسی رونق ورته په دولتي چوکاټ کې وزیر محمد ګل خان مومند ورکړ.

پوښتنه: د افغانستان اوسني بدلونونه په ادب څه اثر لری که نه ؟

ځواب: هو کله چې د غوایي کودتا وشوه ،نو د ادب دروازې وتړل شوې او کتاب خانې تالا شوې، خو د هجرت په حال کې بیا هم ډېر کار وشو.

پوښتنه: ستاسو محترم په فکر په بره او کوزه پښتونخوا کې ادب ته څومره کار شوی دی؟

ځواب: په بره پښتونخوا کې پښتو ادب ته ډېر کار شوی دی او په کوزه پښتونخوا کې هم، خو متاسفانه چې په کوزه پښتونخوا کې یو واحد مرکز موجود نه و او حکومتي ملاتړ یې هم نه درلود.

پوښتنه: تاسو محترم ادب او سیاست سره څومره لازم از ملزوم ګڼۍ ؟

ځواب: زه ادب سیاست سره ډېر او بې حده لازم او ملزوم ګڼم. ما به پاچاخان ته همدا خبره کوله چې د سیاست له پاره علم، اقتصاد ،او کلتور یوه اساسی زیربناء ده ،نو حتمی پکې داتو کي شامل کړئ.

پوښتنه: تاسو محترم د زماني د غوښتني سره سم د نثر ضرورت زیات ګڼۍ که د نظم ؟

ځواب: نظم او نثر هر یو خپل مقام لري، خو زما په فکر د نثر ضرورت ډېر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: تاسو محترم په پښتو کې د شوي کارڅخه مطمين يې ؟
ځواب: پښتانه ليکوال او شاعران بايد لازيات کاروکړي او خپل جد وجهد ته د مرګ ترسرحده دوام ورکړي، ترڅو چې پښتو ژبه د نورو ژبو سره پوره پوره سياله شي.
پوښتنه: تاسو محترم دنوی کول يا نسل شاعرانو او ليکوالو ته څه پيغام لرئ ؟
ځواب: زما دنوی کول يا نسل شاعرانو څخه دا هيله ده چې پښتو د نورو ژبو سره سياله کړي او خپل راتلونکی نسل ته د ترقۍ او پرمختګ مشالونه ورپه لاس کړي. ډيره مننه صديق الله رشتين صيب(۳: ۸، ۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاورې جریدې سره مرکه

مرکه کوونکی: ع ، حصاري

پوهاند رښتین د شین اسمان هغه ځلانده ستوری دی چې لاتراوسه یې رڼا لکه د سهار سترګه هرې خواته خوره ده. دی د ادب په میدان کې پیژندګلوی ته اړتیا نه لري، نیږدې نیمه پیړۍ یې د پښتو ادب د خدمت له پاره خپل ژوند وقف کړی دی او په ډیره مینه د منزل په لور لاروهي.په داسې حال کې چې د ۷۷ کالو اوښتی دی، اوس هم قلم په لاس دهیواد او هیواد والو دردونه لیکي.او د پښتو ادب د بډاینې له پاره ارزښتناک اثار رامنځته کوي.
د خاورې جریدې یو غړي ورسره مرکه کړې ده چې د درنولوستونکو له پاره خپریږي.

پوښتنه: محترم استاد پوهاند رښتین تاسو چې په پښتو ادب کې لوړ مقام ترلاسه کړی دی او په دې اړه مو د نیمې پیړۍ څخه زیات خدمت کړی دی، څومره د خپل کار څخه راضي یاست، او کوم ارمان مو په دې اړه په زړه کې پاتی دی چې سرته رسیدلی نه وي او ځوانانو ته یې د سرته رسولو توصیه غواړی؟

ځواب: ماچې خپل ټول ژوند د پښتو ادب د خدمت له پاره وقف کړی دی اوله اویا (۷۰) څخه زیات کتابونه مې لیکلی دي، چې زیات یې چاپ شوی دي، او د نورو د چاپولو له پاره کار روان دی.
د پښتو ګرامر، ادب تاریخ، هنری نثر، شعرونه او سفرنامو......په باب مې کار کړی دی، داچې د ژبې تحقیق او څیړنه لوی کار دی مونږ چې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارکړی دی، پرې قانع یو، پښتو ته مو وده ورکړی ده له پاره ددې چې دغه کار دوام ومومي دژبې او ادب پرمختګ نورو ځېرنو او کارته ضرورت لري، اوترمرګه پورې دالړی جاري ده. پښتو په نړیواله سطحه خلکو پیژندلی ده ،انګلستان، امریکا ،ایران، چین، المان، روس، هندوستان ، پاکستان، افغانستان رادیوګانې په پښتوژبه خپرونې لری، پښتو مود افغانستان په اداري چارو او دولتي اداروکې وکاروله ،اودازمونږ لوی مقصد وچې پوره شو.

پوښتنه: ترکومه ځایه چې تاسو اثارمونږ مطالعه کړی نسبت نظم ته مو دنثرخوا درنه ده ،ددې کارعلت راته روښانه کړئ؟

ځواب: دیوې ژبې دپرمختګ له پاره چې څومره نظم اهمیت لري، له هغه څخه زیات نثرد اهمیت لرونکی دی.دنظم ویل ښه دي خوپه اندازه لکه چې ما یوځای کې ویلی دي، ځنګه شعرڅومره شعر، یوازې شعرژبې ته پراختیا نه شي ورکولای، دنثروخواته هم توجه وشی.ددې له پاره چې دپښتودنثر خوا پراختیا ومومي مادنثرخواته ډیره توجه وکړه ،اوپه دې اړخ کې مې ډیرڅه ولیکل.

پوښتنه: دپښتو دخدمت له پاره په لره اوبره پښتونخوا کې کارشوی دی تاسوکوم یو ښه ارزیابی کوئ؟

ځواب: پښتو ادب ته کوزه اوبره کارونه شوی دی، خوپښتو ټولنې زیات کارکړی دی، اودلته پښتو اکاډیمۍ زیات زیارایستلی دی. دلته دیوانونه چاپ شوی ترجمې هم چاپ شوی دي، په نوروبرخوکې هم څه کتابونه لیکل شوی دي، خوزیات اومنظم کار په افغانستان کې شوی هلته په نظراوعمل دواړو کې کارشوی دی، په دفترونوکې پښتورواج شوی، مکتبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو شوی، چې دلته دا کارنه دی شوی، دلته د شعر په برخه کې زیات کارشوی.نثرته دومره توجه نه ده شوی.چې باید دې خواته هم توجه وشی.
دافسانو او کیسو په برخه کې دلته ډېر کار شوی.
دلرو او برو لیکوالو له پاره یو مرکزیت پکاردی، چې په مشترک ډول د پښتو ژبې خدمت وکړی.
پوښتنه: په خپلو اثاروکې موکوم اثرخوښ دی ؟
ځواب: زما خپل ټول اثار خوښیږي، دهریو په لیکلو کې مې زخمت ګاللی دی، خود پښتو ژبې ګرامر تر ټولو مهم ځکه دی، چې دژبې د ځیرنو په باب اساسي رول لري، خوبیا هم وایم چې د پښتو ادب تاریخ او ګرامر.... هریو مې خوښیزي.
پوښتنه: داچې تاسو په افغانستان کې دنثرپه ټوټو لومړی درجه جایزې هم ترلاسه کړي دي، که وو ایې چې دغه استعداد مو څنګه پیدا او وروزلو ،په دی معنا چې زده کړه مو په منظم ډول ترکومه ځایه پورې کړی ده؟
ځواب: خپلې لومړی زده کړی مې دننګرهار په نجم المدارس کې سرته رسولی،اوبیا دلوړو زده کړو له پاره کابل ته لاړم ،اودکابل په عربي دارالعلوم کې مې زده کړه ترسره کړه،اوپه ۱۳۱۸ کال مې لومړی رسمي دنده پیل کړه، خوتردې دمخه مو په ۱۳۱۲ لمریز کال لومړی شعر په مطبوعاتو کې خپور شو ،اوپه ۱۳۲۷ لمریز کال مې یوې نثری ټوټې (نوی کال نوی زیری )ممتازه جایزه وګټله.ددې مسابقی په هیئت کې، محمدهاشم میوندوال ،سید شمس الدین مجروح او عبدالرحمن پژواک هم شامل وو.
پوښتنه: ستا په نظر بهترین شعرکوم دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـواب:بهتـرین شـعرهغه دی چـې مقصـدیت ولري،یوسـپیڅلی هـدف اومقصـد ولري،شعرونه مخکـې لـه چـا پـه بایـد اصـلاح شـی،چې پـه تـول برابروي،بیادی چاپ شی،دشعرچاپیدل په هرصورت باید په اندازه وي.
پوښتنه: تاسوچې دپښتوژبې او ادب له پاره دومره خدمت کړی دی په دی لارکې زمونږ ځوانو لیکوالانو او شاعرانو ته څه توصیه او لارښوونه کوئ ،چې ستاسو غوندې مشرانو په نقش قدم لاړشی؟
ځواب: زما توصیه ددوی لـه پـاره داده چـې دژبـې کمبود پـوره کـړي یعنـی دنـوی عصـرپه تناسب نـوي لغـات جـوړکړی،ددې لـه پـاره چـې پښـتو ژبـه پرمختـګ وکـړي دپښـتو بنیـادي کتابونـه بایـد ولوستل شـي،لغات راټول شی،داسې لغات اوس هم په ولسونو کې ویل کیږي چې راغونډشوی نه دی او پـاتې دي همـدا ډول دپښـتو ژبـې تـدریس تـه بایـد زیاتـه پاملرنـه وشی.دانسان فطرت هیڅکله هم نه مړیږي،خوبیا هم دپښتو تاریخ مکمل نه دی لیکـل شـوی، دی تـه بایـد پـه پـوره ډول کاروشـی،که زمـا پـه وخـت کـې داکمـال پـوره نـه ونـه رسـید ،هیله لـرم چـې پـه راتلـونکی کـې داکارترسره شـی،ځوانان دی پـه یـوه مرکزیـت سـره راغونډشـی، او دژبـې او ادب لـه پوهانوسـره دی تماسـونه ټینـګ کـړي او مشـورې دی تـرې واخلي،پـه هرکارکې دی دمشرانو سره مشوره کوی،او بیا دی کارونه سرته رسوي.(۲: ۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوهاند رښتین د بهرنیو پوهانو په نظر

دارواښاد پوهاند رشتین په علمي ادبي، فرهنګي، سیاسي او ملي هر اړخیز شخصیت باندې ډیرو بهرنیو او کورنیو پوهانو او نامتو شخصیتونو په مختلفو وختونو کې په خپلو لیکنو، ویناوو، اشعارو او پیغامونو کې ځرګندونې کړې، چې دا څپرکی همدې موضوع ته ځانګړی شوی او په دوو لویو برخوویشل شوی.

لومړی برخه یې پوهاند رښتین د بهرنیو پوهانو په نظر:

په دې برخه کې اکثره دهغه بهرنیو پوهانو نظریات راغلی چې د پوهاند صاحب په ژوند یې په خپلولیکونو او پیغامونو کې ځرګند کړی دي.

فاضله رښتینه رب دې مه کموه !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسې لـه خـوا دوې شـمارې ۳۴۱-۳۴۲ راورسـیدی. زه ډیر ممنـون او شاکریم.زه به ستا او ستا دټولنې دکوم کوم احسان شکرادا کړم شم.رب دې ستا مساعي د ټولنې په حق کې مشکوری کړي. پښتو مړه وه تا ژوند ئ کړه، رب دې تا ژوندی لرینه.

د پــــښتو ځـــلانـــــده لمـــــره
رب دې تـــــاکړي بهـــــــروره

(c) ketabton.com: The Digital Library

درست پښتون دی منت باردی
ای زما دزړګي سره
په وجود باندې دې ویاړي
پښتون ټوله لروبره
وفا خواست کوي له ربه
چې رښتین کې منوره
بریالی په دواړو کونو
بریالی او نیک ثمره

پرون دې مکتوب مبارک راورسید چې موجب د ډیرفرحت وګرځید.
والسلام ابوالوفا (۱۳۳۱ش)
ادبي لیکونه ،پوهاند صدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۳۴ مخ

## د. ا. س ګراسیموا !

پوهاند رښتین هغه شخصیت وچې دافغانستان دمعاصرفرهنګ په وده اوپرمختګ کې یې ارزښتناک او اوچت رول لوبولی دی، پوهاند رښتین دافغانستان دفرهنګ له پاره نه هیریدونکی خدمتونه کړی دي.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۲ مخ.
دپښتوټولنې مشرښاغلی رښتینه !
زه غواړم چې تاسوته دمجله کابل او ددوکتابودپاره چې ماته لیږل شوی وو ډیرتشکرووایم. تاسې خبریې چې زه دپښتودخوږې ژبې په بابت کې ډیرشوق او ډیره مینه لرم هروخت چې مجله پس له لوی سفرله افغانستان څخه زما کورته راورسیږی،زه ډیرخوشحالیږم.زه امید کوم چې هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقبل کې په ښه شان زما و کورته ورسیږي.سره ددې چې اوس دان آربرپه ښارکې په بل سړک کې اوسم.
ستاسې د پښتو دښه ګرامردوهم جزء به کله چاپ شي؟
سلامت اوسئ صاحبه او بیا ډیرتشکر.
هربرت پنزل – سپرلګ ستریټ – ان آریرمیشیګن – امریکا .(۱۳۳۴ش )
ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۴۱ مخ

پوهاند رښتین د پښتو ټولنې مشر !
ډیرشکرکوم چې ستاسې په لیک سرلوړې شوم، ستاسې پښتو ګرامر راورسید ، زه پوره یقین لرم، چې دغه کتاب به زما دپاره دپښتو په مطالعه کې ډیرسودمن واقع شي. ماته اجازه راکړئ چې تاسې ته په یوه بله مسئله کې رجوع وکړم.تاسې به خبریاست ،چې ستاسې په باره کې (ددنیا د ادبیاتو په انسایکلوپیدیا ) کې چې دلته خپره شوې ده څوکلمې ویلې شوې دي.
اوس په سودا کې یم چې دغه مقاله کې خطایي نه وي راغلې نوله تاسې نه څوپوښتنې کوم.
۱- ستاسې د زیږیدنې نیټه کومه ده ؟
۲- ستاسې اوسنی شغل څه دی ؟
۳- ستاسې مهم آثرونه کوم کوم دي؟
۴- زه به ډیرخوشحاله شم که په دې صورت کې له ماسره کومک وکړئ.
داکترمون لورنتس – برلین. (۱۳۴۳ش )
ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۴۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی ډاکتررښتین !

ستاسې دنفیس کتاب پښتوګرامریوه نسخه چې زما دپاره مورالیږلی ده ، ما وکتله اوزه پرې ډیرخوشحاله شوم.تاسې دغه کتاب زما دپاره رالیږلی و خو هغه دبرتش موزیم ماموړینو دځان دپاره واخیست. مادهغه کتاب رسید تاسې ته دررواستاوه.

ګ. مردیت اونس دختیځ پیژندنې څانګه ، برتش موزیم ،لندن(۱۳۴۳ش)

ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۲۱ل ، ۴۳ مخ.

ښاغلی پروفیسررښتین !

کله چې مونږ په نوي ډیلي کې سره ولیدل نوماتاسره وعده وکړه چې زه به تاته هغه مقاله چې په نوي ډیلي کې مولوستې ده ،په کابل کې به یې درکړم.څنګه چې ماپه کابل کې وخت پیدانه کړ،چې تاوګورم. زه به په منی کې کابل ته درځم او کوښښ به وکړم چې تاوګورم.اوس مې په خپله مقاله دوهم وارنظراچولی دی.زه امید لرم چې ستاسې مینه ورسره ډیره ده ، غواړئ چې ترجمه یې کړئ او داکاډمی په مجله کې یې خپره کړئ.

ستاسې ملګری پروفیسرهلمت هومباخ – غربی المان(۱۳۴۳ش)

ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۲۱ل ، ۴۳ مخ.

استاد پوهاند رښتین دپښتواکاډمی مشر !

ستاسې ښه تحفه دپښتوګرامر راورسید. زه دپښتوژبې له زده کړي سره ډیره مینه لرم.ستاسې دکتاب رالیږلو څخه ډیرتشکرکوم.

زه بیا په دې خبره ډیره خوشحالی ښکاره کوم ،چې تاسې دپښتوژبې ګرامرچې په پارسي لیکل شوی دی،ماته رالیږلی دی.دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب ماته پس له ډیر انتظارنه راورسید. ماهم تاسې ته دخپلو کتابونو مجموعه دراستولی ده. امید کوم چې فایده به ورنه واخلی.

دکتوریوسف عزیزالدین دعراق دالمجمع العلمی سکرتر - بغداد (۱۳۴۳ش)

ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۴۴ مخ.

ښاغلی پوهاند رشتین !

ستاسو ښه کتاب د پښتو مصدرونو لارښود راورسید او راته به دفعل دزده کولو د پاره بیشکه ډیر مفید او ګټور وي.زه به دا بخش او ستاسو د ډیرو کلونو په دوام لرونکې مهربانۍ او سخاوت باندې دزړه متشکریم. امید کوم چې تاسو او زما په کابل کې نورو دوستان ټول تکړه یئ.

په درناوی

جارج مارګن سترن – اوسلو - ناروی (۱۳۴۴ش)

ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۴۴ مخ.

ښاغلی پوهاند صدیق الله رشتین !

دروړونکی ددې خط میرمن ساموکروتکینا زما پخوانې شاګرده ده اوس دقاموسونو په نشراتي مؤسسه کې دشرقي ژبو دشعبی مشره ده.

درته به معلومه وي، چې پښتو روسي لومړی لوي قاموس چې مالیکلی دی.اوس ترچاپ لاندې دی. که ستاسو اجازه وي نو میرمن ساموکروتکینا به په پښتوټولنه کې یو کنفرانس ورکړی، چې تاسې ته ددغه قاموس محتویات او خصوصیات دروښیي هغه کتابونه او مجلې چې پښتوټولنې په دې شلو کلوکې رالیږلی دي،دقاموس په تدوین کې راسره ډیره مرسته کړی ده ، نو ستاسې ددې مهربانې څخه ډیرممنون یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل صمیمانه سلامونه تاسې ته او د پښتو ټولنې محترمو غړو ته وړاندې کوم.
م اسلانوف ، مسکو ۲ نومبر (۱۹۶۵ع – ۱۳۴۴ش )
ادبي لیکونه ، پوهاند صدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۴۴ مخ.

ګران پروفیسر رښتین !
څو ورځې پخوا ستاسې دوه کتابه یعنې ژبښودنه او پښتو کلی مې واخیستل ، د دې کتاب د پاره ډېر تشکر کوم. زه تر اوسه لږ پښتو کتابونه لرم او تاسې ښه پېژنی ، چې بې کتابونو کار نه کېږی. زه ستاسو کتاب ژب ښودنه په چکي ژبه ترجمه کوم او غواړم چې په انګریزی ژبه یې په پراګ کې خپور کړم. ما یو کوچنی کتاب د افغانستان په باب کې ولیکه او د غه کتاب اوس چاپ کېږي. زه به بیا تاسو ته یو کتاب هم لیږم. زه جورنال کابل ته ډېر اړتیا لرم که ممکن وي ما ته یې را ولیږئ. ستاسو نیک مرغي او بری غواړم.
داکتر بچکا – پراک ، چکوسلواکیه. (۱۳۴۴ش )
ادبي لیکونه ، پوهاند صدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۴۵ مخ.

ګیرس روسي پوهاند په خپل کتاب (پښتو ادبیاتو تاریخ ) کې لیکي :
((رښتین یو ښه نثرلیکونکی او په نثر کې د بدیعی اثارو خاند دی ، د ژبې او تاریخ په برخه کې زیاته څېړنه لری ، دده د هند سفر یو په زړه پورې منلی اثر دی ، چې په نثر کې یو غوره او تازه اثر باله شی. ))
جرګه مجله ، پوهاند رښتین د پښتو ژبې او ادب ځلانده څېره ، ۱۳۷۰ل د سنبلې میاشت ، ۲۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانه استاده صدیق الله رښتین صاحب !
ستاسې لیک د پښتو کلی دلو مړی ،دویم او دریم ټوک سره راورسید او ستاسې څخه یو ځل بیا تشکر کوم. په دې برخه کې ستاسې مرسته زمونږ دزیات تشویق سبب کیږی.زمونږ د پښتو انجمن کلاسونه په ابتدایي مراحلو کې دي.زیاته هیله لرو چې په راتلونکو کلونو کې دژب پیژندنې او ژبپوهنې داصولو سره سم د پښتو ژبې په تدریس پیل وکړو ،اوس زه دستی په پارسی ژبه د دستورزبان پښتو په لیکلو او تالیف بوخت یم. او دا کار د هغو ګرامرونو چې تاسې او پوهاند میرحسین شاه لطف کړی دی او دځینو نورو کتابونو په کومک ترسره کوم.
داکتاب به په عین حال کې مختصر او دژب ښودنې په اندازه وي،دژب پیژندنې برخې به ولری او کوښښ به وکړم،چې داسې کلمې پکې راشي،چې پارسی ژبې ته ورته اصلي پښتو وي.او په ضمن کې به شریک کلمات هم ولري.په آخر کې به د پښتو پخواني او نوي ادبیات خصوصاً دخوشحال خټک برخه پکې هم زیاته کړم،ترڅو چې لوستونکې ددې مهمې ژبې سره په ښه توګه اشناشي.
له تاسې او نورو دوستانو څخه هیله کوم چې په دې کارکې راته دبریالی توب دعا وکړئ.
په ډیر احترام
علی اکبرجعفري ،تهران–ایران(۱۳۴۵ش)
ادبي لیکونه ،پوهاند صدیق الله رښتین. ۱۳۲۱ل ، ۴۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګران پروفیسر رښتین !
ما عزم درلود چې د عشق آباد او کابل د راستنیدو سره سم درته لیک ولیکم، ما په عشق آباد کې ستا له وینا او دوستۍ څخه معنوي او علمي استفاده وکړه، د پښتوژبې او ادب سوال ترا وسه پورې زما په مغزو او فکر کې دی او هیڅکله مې له خیاله نه دی وتلی. د دې لیک په ملتیا د هغه لیک یوه کاپی درلیږم، چې ما په همدې مناسبت داکترن ،بامیټ ته لیکلی دی او ستا سو مطالعې ته یې وړاندې کوم. زه په کلکه سره د تاسو نه هم هیله کوم چې ده ته شخصاً په دې موضوع کې یو لیک واستوئ.
زه یقین لرم چې دې به د پښتوژبې او ادب د رعایت په برخه کې زموږ عزم او ټینګار ته پوره توجه وکړي. دا سې امکان شته چې زه به د پسرلي په میاشت کې اروپا ته د تګ په لاره کې له کابل څخه تیرشم. که ممکنه شوه نو زه بیا ستا د لیدلو شوق لرم.
داکتر رام راهول – د جواهرلال نهرو پوهنتون د نړیوالو څیړنو ښوونځی ډیلی – (۱۳۵۱ش)
ادبي لیکونه ، پوهاند صدیق الله رښتین. ۱۳۲۱ل ، ۵۱ مخ.

استاد محترم رښتین !
د نوی کال په نسبت تا سې او ستا سې ملګروته د مینې ډک سلامونه او تبریکونه وایم او ستا سې روغتیا او برې غواړم. ډیر شکر کوم، چې د کابل مجله په پرله پسې ډول ماته استوی. د غه مجله او هغه نور کتابونه چې ماته مو رالیږلی دي، زما د کار د پاره ډیر ارزښت لري. د افغان پیژندنې د محصلانو سره یوځای یې لولم او ښه فایده او ګټه ورځنې اخلم. هیله لرم چې د غه دوستانه روابط به همیشه د پاره ټینګ وي. د عشق آباد سفر په باره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې ستاسې مقاله په ډېره خوشحالی ولوستله. په عشق آباد کې ستا په لیدو ډیر خوشحاله شوم آرزولرم چې بیا سره ژرترژره وګورو. د دې لیک سره یو ځای دوه عکسونه چې په دوشنبه کې مو اخیستی وو، دراستوم.

په ډیر احترام

ډاکترمانفرید لورنتس – برلین (۱۳۵۱ش)

ادبي لیکونه، پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل، ۵۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوهاند رښتین د افغانستان او کوزې پښتونخوا د پوهانو په نظر

په دې برخه کې دافغانستان او کوزې پښتونخوا د نوميالیو لیکوالو څرګندونې، خاطرې او دعقدیت پیرزوینې د پوهاند صاحب په ژوند او له وفات وروسته ټولې په مختصراولنډه توګه بیان شوی دي.

زما ګرانه ورور رشتینه !

نن په پوسته کې ستا کتاب د پښتو ادب تاریخ را ورسیدئ، سترګې مې روښانه شوی زه تا ته تبریک وایم، چې دا سې یو مفید اثر دی لیکلی دی.خدای زده چې ډیر خوښ شوم.رب دی عمر اوږد کا ، چې پښتانه ستاله زحمته ګټه یوسی.
وروره !له پښتو ټولنې څخه ستا په انفکاک ډیر خپه شوم.ته به وایی چې ته نوولی لاړی؟ وروره ! دا د پښتو ټولنې بد بختی ده، چې یاران ټول سره متفرق شول، خیر:
خدای به تللی یاران بیا سره را ټول کا
توري خاوري به په سر د رنتبول کا
زما غزیزه ! هرچیرې چې یی، تمنا لرم چې ته به د پښتو خدمت وکړی، پښتو غریبه څوک نه لری.خدای دی تاغوندې زلمی ژوندی لری. نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیږم چې اوس دی صحت ښه نه دی، زه له خدایه غواړم، چې تاته کامل صحت عطا کړي، ځکه چې ته د پښتنو د کهول یو څراغ یې!

ورو‌ره د پښتو ټولنې په تشتت غمجن شوم او بیا خوښ شوم، چې ته د مطبوعاتو په شق کې پاتې شوی او د بانديې ونه وتی! د دنیا سیر او تحولات کله په زړه پورې مینان هم بیلوي، زه که څه هم له تاسې څخه لیری یم، خو زړه مې ستاسی سره دی ستا کتاب مې وکوت ډیر ښه دی، د پای فهرستونه یې ډیر غنیمت دي. زه خو اوس له مطالعې او کتابه لیری یم، امید لرم چې ته به د غه لار نه پریږدی، زه خو اوس تش لاډ و شوم.

وروره! داخو کرښې مي تاته د دې د پاره وکښلې، چې د پښتو ستر ګور خلق ستا قدر کوی، مه مایوس کیږه. د دنیا ډګردونی پراخ دی چې هیڅ. عمل بې نتیجې نه پاتې کیږي! ستا کار او زحمت قدر لري، زما نه هیریږی، د خدای هیر مه سی!

ستا ورور عبدالحی حبیبی

اول قوس **۱۳۲۵** ش قندهار

ادبي لیکونه، پوهاند صدیق الله رښتین. **۱۳۶۱**ل، (**۵-۲**) مخونه

ښاغلی فاضل رشتین صاحب خدای دې روغ جوړ لره!

مونږ له ډیر وخت نه په دعاګانو اموخته شوی یو او په مکتبونو کې هم راته اول ځل دعا خولې ته راځي. دا زمونږ زوړ عادت دی، مګر دومره ښه ده چې زه د غه شان دعاګانې هغه چاته کوم، چې د هغوی صحت او حیات د پښتنو د پاره مفید وي او یو کار پرې جوړ وي.

له دې خوا خیریت دی او تر او سه ژوندي پاتې یو، مګر دیر غابنونه راته چیچل کیږي. کومه اجتماعي فایده چې زمونږ په نظر کې ده، هغه لاس ته نه راځي او خلق ویده دي، مګر هغه کسان چې زمونږ خبرې د ځان د پاره ښې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼي، وينې دي او په زړه کې يې راته اچوي.کاشکي د دغه نفرت او حسادت په عوض کې د څه اجتماعي مفاد اميد هم واى.
په هرصورت مونږ اوس خپلې ماليخوليا مجبورکړي يو ،چې څه په زړه کې لرو ،هغه ښکاره کړو او خپل هغه مسئوليت چې د نن ورځې تفتيشونه يې پوښتنه نه کوي اوزمونږ په ژوند يې څوک پاڼه نه اړوي تريوه حده رفع کړو ،مګرګوروچې داکارترکله کولاى شو.هغه څه چې يورياست يې مقابله نه شي کولې،يومديريت به يې څنګه وکړي.زه اوس له ډيرومشکلاتوسره مواجه يم اوکه رشتيا ووايم نودنورو مطبوعاتو په تناسب لږ غوندې افراطي شوى يو.خير دا قصه به پريږدو اوتاته به عرض وکړو ،چې اتحاد مشرقي خوستاسي ملګروپه قلمي مرسته يوڅه قدر ژوندى شوى و.يوزه خوهيڅ نه شم کولى اونه زما له لاسه څه کيږي.په دې وختوکې که دښاغلى خادم صاحب مرسته له مونږ سره نه واى.نو اخبارخوبه دپخواومهموليکوالوله آثارو بيخي محروم شوى و.ځکه چې ستاله خواهيڅ رانغله.دتيرو ورځودپاره خوته قوى ځواب لرى.چې يوډيرمهم کار درپه غاړه و.اوس چې په خيرکابل ته راغلى،ولې دى اتحاد مشرقي هيرکړي دى ؟
رشتين صاحب ! په مشرقي کې د ډيرو خلقومينه اومحبت ستاسې په نسبت وينم اوستا غوره مضامينو او آثاروته دلته تلوسه او تنده موجوده ده. اتحاد مشرقى ستاله قلمي ملګرتيا ډيره استفاده کړى ده اوهميشه موستاسې لورته انتظاراوسترګې وي.نومونږ مه هيروه اوددې ځاى علاقه مندان خوشحاله ساته !

په احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي ليکونه ، پوهاند صديق الله رښتين. ۱۳۲۱ل ، (۷-۸) مخونه

ګل پاچا الفت – جلال آباد (۱۳۲۲ش)

په مونږ ګرانه رښتينه روکيه !

خط دې په داسې حال کې چې زه د نارو غتيا په کټ پروت وم راورسيد ستا ليک د مشرقي د خلکو په شان لوخ لغړو ، په ما يې تاثير وا چاوه ، ليکلې دي وو ((د کابل مجله او پښتو ټولنه به نه هيروئی- او ريدلي مو وو چې د غلته د کلوب سره کومه مجله هم ملګري ده ، مګر په پته يې پوه نه شوو. چې څو تاسو خوځيږئ نو په هرات کې خو ادبي پارسی مجله راووته او مزار کې به هم راووځي ، هغه بله ورځ خبر نه شوې چې تجارو غونډه وکړه او د مجلې د نشر د پاره يې يو لک افغانۍ غونډې کړې. په کابل کې لطيفي له مرستون څخه د برګ سبز په نامه يوه فارسي مجله په ګستتنر چاپ راوويسته. مونږ ويده يو ، چيغې وهو ، نور وينښوو او په خپله حرکت هم نه کوو. خدای دې زمونږ عاقبت ته خير پيښ کړي !))
روکيه ! د کابل مجله او پښتو ټولنه که څوک پوهيږي ، د ګردو پښتنو او پښتونخوا مشترک دولت دی. دې دولت ته ترقي ورکول يا ورسره کومک کول په کوم رښتين يا کوم بينوا يا کوم يو بل باندې احسان بارول ، د دغه شخص په بی ذوقۍ او کوتاه بينۍ محموليږي !
د دې ځای د کلوب او مجلې په باب خو ترا وسه څه نه دي شوي. د دې ځای ژمی لخوا خو تيرشو. په ثور کې ټول خلک تالاترغۍ کيږي ، نو که ژوندي وو ، بيا بل ژمي کې د دغو شيو نو پوښتنه کوه ، هيله ده چې دا خبره به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسانۍ ترستوني تيره کړی، ځکه چې ته پښتون يې او پښتنوته نن دصبراوسکون تربيت او دسبا وعدی ورکولی شي. مقنع ځواب دادی، چې ته خو ښه ټينګ مسلمان يې نوچې مساجد شته. نوکلوب ته څه حاجت دی؟دمجلې په باب خبره داده چې دغه موجوده اخبارونه اومجلی چاسم کړل، چې لانورهم غواړي ! که ته وايې چې اتحاد مشرقي دکلوب اومجلې په باب ليکلي وو ،نوخبره داده چې اتحاد مشرقي خوهم آخراخباردي او بيا دهمدغوخلک چې ته تري شاکي يې ! دلطيفي په برګ سبزاو دمزاراو هرات په ادبی او مطبوعاتي پيشرفت مې شکرو ويست.
خدای دی توفيق ورکړي.مګردسيستان هديه او دميمنی تحفه چې اوله راوتلی ده او دويمه راوځي تاسونه دي ياد کړي !
اوريدلي مې دي چې په طلوع افغان او بيدارکې هم حرکت پيدا شوی دی.په هرصورت تا غوښتی دي، چې مشرقي دهرات او او مزار سره مقايسه کړی، مګرستا هيرشوی دي، چې هرات يومدني مرکزلري، چې په عصري اصولوتوسعه اوتعميرشو ! مګرجلال آباد پـه لوی لاس خلکوورانکړ ! په دې لس دولس کاله کې روسيه ،اروپا ،جاپان وران شوی وو ،بيرته آباد شول.ستاسوجلال آباد لاهماغسی کندوالی دی او دورانۍ ودانۍ نقشه يې لاهم نه ده معلومه او نه پکې ځوک کناراب قدری جوړولی شي.په هرات کې داتفاق اسلام روزنامه او دبلديې مجله څومره په ښه درنه بودجه منل شوې دي،اودلته يواتحاد مشرقي دی، چې نه لوئيږي او نه ورکوتی کيږي.هلته دمعارف رياست اودلته يې مديريت دی، مزارلاهم دغسې درواخله !
په عقرب کې ماسره چا تيلفونی خبرې کولی، ويل يې چې په مشرقي کې هرشي ډيروي راويې ليږه ! ماورته ويل دلته تبی ډيرې دي، ده پناه وغوښته ، ويل يې دخدای دپاره نه يې غواړم، زما توبه شه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرکانو کلی خوبه تالیدلي وي، د دری سوو کورونو څخه به زیات نه وي لکه چې ما اوریدلې دي سږ کال منی پکښې پنځه سوه مړي شوي دی.
داسې د مشرقي هر کلی دروا خله، که څوک زمونږ په چیغو وهلو اوژړلو هم قهریږي، نو ښه ده چیغې به هم نه وهو.

قیام الدین خادم

جلال اباد (۲۷ جدی ۱۳۲۷ش)

ادبي لیکونه ، پوهاند صدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، (۱۳-۱۴) مخونه

عبدالروف بینوا :

... د رښتین صاحب د ژوند زیاته برخه د پښتوژبې په ادبي څیړنو او علمي پلټنو کې تیره شوې او د پښتو او پښتونولی رښتین مین او صادق خدمتګاردی په تیره بیا د پښتوژبې په ګرامر او فقه الغة (فلالوجی) کې ښه لوی لاس لري او د استادی مرحلې ته رسیدلی دی.
ښاغلي رښتین سره چې څوک پوره اشنانه وي او زړه یې نه پیژني نود ظاهري کړه وړه څخه به رښتین صاحب یو سخت طبیعته او مهره انسان ورته ښکاره شي، خو ترکومه ځایه چې زه څیرشوی یم ښاغلی رښتین لکه څومره چې نا اشنا خلکو ته په ظاهره بې مینې او سخت زړی غوندې سړی ښکاري په هماغه اندازه اشنا یانو ته د پاک زړه خاوند دی او زړه یې ملګروته د مینې ځاله ده دا بیله خبره ده که څوک دده د مینې سره مینه و نه لري او دده سپیڅلې مینه په مینه استقبال نه کړی ، البته دا خبره رښتیا ده چې ښاغلی رښتین د تظاهر طرفدار نه دی بلکې غواړي لکه څنګه چې دی هغسې ځان وښيي.(۴: ۴۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکادیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد :

اروابښاد پوهاند رښتین دپښتوژبې دتحقیقي ادب یوتکړه سپورو ،ده دپښتوژبې دغناله پاره ډیرترخه او اوږده مزلونه وهلي او پښتوته یې سترفرهنگي سوغاتونه راوړی دي.
زه دپوهاند رشتین مرینه دپښتو ژبې او ادب ستره ضایعه بولم.
اروادې ښاده وي-داروابښادپوهاند رښتین دادبي زیاراو کارستاینه او لمانځه دده حق دی.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، **۲۰۵**مخ.

گرانه وروره رشتین صاحبه !
بختوریم چې پس له ډیرې مودې نه مې ستا یوتوته لیک واخیست،رښتیا ده چې هغه لیک داسې نه ولکه دانورعادي اومعمولي لیکونه ،هغه دپښتنوپه غم ژړا او پښتنوته دوینښیدو چیغې وی،زه یې تل دځان سره ساتم او خواخوږو پښتنوته یې لولم ،ښه ده چې دکابل غوندې ځای کښې هم دخوارو پښتنو غم خوری.
وروروگله ! رښتیا ده پښتانه خدمت اوخادم ته اړدي،خوډیره دخوشالی خبره ده چې دیوې ډلې ځوانانوپه ککری کې دپښتنودیوالي اوویښیدوفکراو اراده لیدل کیږي.زه اطمینان اوتسلي درکوم چې پښتانه به دزمانې رفتاریواو راویښ کړي اودا باسیند دغاړې نه واخله ترامو پورې به یو پښتون شی.
ځکه چې دا داوسني عصرړومبنۍ تقاضا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږه وروره ! نورخوسکون او چوپتیا چوره ګناه ده.دیو مکمل او پوخ پروګرام ضرورت دی. باید ټول پښتانه امیراوفقیر د پښتونوالي په پاکه نامه سره یو شي او کاراو همت وکړي.
ویښنه ځلمیه ! زه هیڅ بدل شوی نه یم.سپین مسلمان او بیا پښتون یم. په دې نامه به ژوندی او مرم به.
زما کتابونه خو قرض درته پاتې دي.دا دوه کاله دې راله هیڅ کتاب نه دی رالیږلی.خدای دې درته یاد کړي، چې زما قرض خوراکړی.په هرصورت له خدای څخه دې روغتیا ،بری اوبرم غواړم.کله کله مو یادوه.
دځواني مرګ محمد عوض خان په مرګ چې تا کومه همدردي ښکاره کړې وه زه او زما کورنۍ ډیرتشکرکوو.
نوردی په خدای سپارم.
میراجان سیال کوډاخیل – مومند (۱۳۴۷ش)
ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۱۰ مخ

دپښتوټولنی فاضل اولوی مدیرصاحبه !
له پخوا څخه دکابل مجلې سره شوق اوذوق لرم،ټول مضامین یې د سرنه ترپایه پورې لولم، اوتل دمحترمولیکوالو دځلاندوافکاروځنې چې په دې مجله کې یې ښکاره کوي ،ډیرخوند اوفایده اخلم،په نتیجه کې داراته ښکاره اومعلومه شوه،چې ددې مجلې لویه برخه اواصلی هدف هغه شی دی،کوم چې دپښتنوغایه اومقصد دی.رښتیا اوسپیڅلی خبره ده اوشاید هرچاته به معلومه هم وي،چې پښتوټولنې په دې موضوع کې،چې ویده پښتانه یې راویښ اوخپل مرام ته یې ملتفت کړل،پوره اوکافي خدمتونه کړي دي،چې دادقدروړخدمتونه به یې پښتانه هیڅکله هیرنه کړي،اونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیریدونکي دي.نوکه مونږ وو ایو ،چې پښتو ټولنه د پښتنو د پاره یو علمي او اجتمـــاعي مرکزدی، او پـــه خپلـــه (رښـــتین) د دې وګړو محـــور او سترغمخوردی، البته دا خبره بـه د حقیقتـه څنې لیـرې نـه وي.بلکـه عـین حقیقت او واقعه به وي.

محمد اکبرشینواری له عربی دارالعلوم څخه (۱۳۳۱ش)

ادبي لیکونه ،پوهاند صدیق الله رښتین. ۱۳۲۱ل ، ۲۰مخ

ښاغلی محترم رښتین صاحب !

ګران پاکټ دی چې د سیپی، پـه شـان لـه ښکلو مرغلرو ډک و د پښـتو معلم پـه لاس راورسید.شکردی چې روغ یاست.نه پوهیږم چې د کندز د سیند او بـه او د چاردرې شنی ونی مو څنګه ترپام ښی شوی دي، څکه هلته مو چې کندز تـه تشریف راوړی و خوسترګې موترې پټولې، که باوروکړئ د سږ کـال پسـرلی چې بهترین پسرلی و درست ستاسې په سودا راباندې تیرشو.په هرګـل مـی یادولئ.خوارمان چې تاسوله انبارانبار غمونو یوځل هم نـه وزګاریږئ چې د قعغن د طبیعي ښکلا ننداره وکړئ.

محترمـه ! ستاسـی خدمتونـه کـه څـه هـم د پښـتوژبی پـه لارکـې د هیریدانه دی،خوبیا هم تاسې تـه لاډیـرې هیلـی لـرو ،مثلاً د اتحـاد جریـدې ته هم وګورئ یعنی د اتحاد پښتوبرخې ته هم کله کله توجه وفرمایئ ،بده بـه نـه وي ،څکـه چې د اتحـاد پښـتو برخـه ډیـره ضعیفه ده څکـه چې مـدیر یـې غیرپښـتون دی.او د پښـتوبرخې ترتیبوونکی یې د ادبیـاتو دنړۍ نـه لیـری پروت دی،نو په دې صورت د پښتوترقي پـه اتحـاد کـې یـوه ناشدني آرزو ده .که فرصت وشو ننګرهاري ته می سلامونه وو ایاست

څـــوبه ګورمه ستا لارته شـــرمنده شوم انتظارته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خمیازی شوی دا سې ستړی　　امـــید نا ست دی ستا دیدارته
ساه می غوټه شوه مری کې　　غـــم مې نه پرېږدي ګفتارته
ارمـــانونه دې ټول شو ي　　کړی عرضونه ستا دربارته
لکـــه سوی شمه نا ست یم　　ســـتا دمړې شمعې مزارته
تـــه نوکاشکی دیدن راوړی　　دخــــپل وصل امیدوار ته
پسرلی ،کندز (۷-۲-۱۳۳۱ش)

ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۲۱ مخ

راته ګرانه رښتین صاحبه !

السلام علیکم: زمونږ پـه دې کتـاب کـې ډیرکـټ کـوټ شوی دی ستا سو موجودګي خوډیره ضروري وه، ولې هغه ونه شوه، مهربانی وکړه ددې خط په لیدوراشه زه یې ستادکتونه بغیرنه شایع کوم.

فقط ستا پاچا خان ، ۱۳۶۱ل کال

ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۶۱ل ، ۵۴ مخ

خوږه وروره رشتینه قلم دې نورهم تیزشه !

ســتالیک راورسید ،دیو ســنجیده اوپــه کارســتړي ادیـب خیـالات پکــې ځلیدونکي ښکاریدل.

وروره ! مونږ بې لاسو پښویو، ستاسودترقی اوکامیابۍ دعـاکوو ،زمونږ پــه ځلمـوکې هـم ستاســوله برکتــه دژونـد آثاررښـکاره شـوي دي.اوس پــه خوبولـوځیروکې دنــوې غزونـی آثاررښـکاری. دمحکومـو پښـتنوځلمي ستاسو سره همدردی لري.دپښتون په وحدت اومرکزیت کې درسره ملګري دی. کاروان تګ ته تیاردی، خومشرغواړي.زما اشعاربه څه وي،چې تـه یـې داوریدو خواهش کوی،زما یـوه دکابـل سفرنامه وه، هغـه هـم سی آیـی ډی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپ کیدلو ته پرې نه ښوده. زما په منظومه سفرنامه کې ستا په حقله هم څه شته غرض کوم:

بحث چې په (ی) و ،لراوبرته یې ماخیال وکړ
یــــو محمد نوراوبل رشتین پکې کمال وکړ
کــــــله به خادم په دعوه خپله استدلال وکړ
کـــله پکتیا نی به په بل اړخ کې جنجال وکړ
کـــــله به الفت په اختلاف کې منځګړی شو
ولو نه به یې دواړه سره یو کړه جوړ به پړی شو

هسی خونږدې دهري ورځې په رویداد کې ستا ذکردی،خو په یو شعرپکې دادی:

مــــا چې د خادم او درشتین علم ته پام وکړ
زړه مې د پښتون وپاکې خاورې ته سلام وکړ

کــوم وخت چې مونږ د کابل نه راوتو:

مــــونږ ســــره تــــردې لکه د سورې لګیدلی و
کوزشوبګرامې کې چې رښتین زمونږ ملګری و
خـــدایـــږو په پالنه کې زمونږه سترې شوی و
دی پــــــه حــــوصله کــې د فولادو لکه پړی و
ده پــــــه ډیــــرا خــــلاص درخصتی معانقه وکړه
مــــونږ یــــې د کــــړاو او د پالنې شکریه وکړه

په آخرکې به دا وایم چې زه ستاسو د کامیابې د پاره دعا کوم.

امیرحمزه شینواري (۱۳۲۷ش)

ادبي لیکونه ،پوهاندصدیق الله رښتین. ۱۳۲۱ل ، (۳۱-۳۲) مخونه

جناب حضرت صبغت الله مجددي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

درشتین صاحب تخلص دهغه دنوم ترجمه ده. څنګه چې یې نوم رشتین و ،هغسې په خپله هم صادق و ،پوهاند رشتین دسمندر مثال لري دهغه دخدمتونو خېړل دا معنی ورکوي لکه سمندر چې څوک په کوزه کې بندوي،دهغه خدمتونه دلمرپه شان روښانه او ښکاره دي،هغه په دې لاره کې خپل ژوند دژبې. ادب او فرهنګ خدمت ته وقف کړی ؤ او رشتین صاحب دپښتوژبې او ادب د پاره سترخدمت کړی دی اودافغانستان معارف ددوي له کتابونو څخه پوره استفاده کوي دهغه خدمت دافغانستان دخلکو لپاره لویه سرمایه ده اودهغه خدمات به هیرنه شي !

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۰مخ

سید شمس الدین مجروح:

پوهاند رشتین یوملي انسان و ،په خپله ژبه باندې عاشق و ،یعنې دپښتوژبې ،پښتني کلتور،خپل وطن اوملت سره یې عشق درلوداو ښه مبارز ؤ.پوهاند رشتین دپښتود ادیب ،نویسنده اوعالم په حیث د پښتنولپاره سترخدمتونه کړی دي.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ۱۰۹مخ.

استاد قتیل خوږیانی:

دپښتود ادب دهسک ځلانده ستوری اروابښاد پوهاند رشتین د پښتني فرهنګ اوثقافت په نړۍ کې هغه ستره علمي اوفرهنګي ضایعه ده چې وختونه به تیرشي خوداتشه به ډکه نه شي.

پوهاند رشتین په هغه وخت کې دپښتود تعمیم او ترویج لپاره خدمت کړی دی چې چا په زړه وره توګه دپښتو او پښتون نوم نه شو اخیستلای.

له الفت او بینوا خادمه خلاص شو

لوی استاد راځنی واخسته ورزګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغـــو تختې لانه وې وچې شوې
چـــې يې بيل کړلو رشتين په خپله لار

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۱۰
ښاغلی قدرت الله حداد :
پښتوژبې ته درشتين صاحب لوی خدمت دده ګرامردی.
ده پـه پښـتو ګرامرډيرکاروکړ اوهغـه يـی تکميـل کـړاو وروسـته بيـا ډيـرو ژبپوهانودرشـتين صـاحب لـه ګرامرڅخـه اسـتفاده کـړی ده.او کـه چاپيـا ډاکټری اخيستی ده نودرشتين صاحب دګرامرڅخه يې ځينی برخې اقتباس کړې دي اوخپل کتاب او اثريې پرې تکميل کړی دی.
دمرحوم رشتين يوعالي صفت اوخصوصيت داوچې لکه څنګه چې يی نـوم رشتين ؤ دی خپله هم يو رشتينی شخصيت ؤ.ده هيڅکلـه دمسـامحی څخـه کار وانخيست. خپله عقيده يې په هروخت کې پـه ډيـره ميړانـه بيـان کـړې ده .درشتين صاحب دا خاطره به دافغانستان ملت هيڅکله هيره نه کړي اوهغـه داچې ده دکمونيستی نظام په دوران کې دحکومت او دولـت سـره هـيڅ ډول همکاری ونکړه.
دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۱۱مخ.
ښاغلی خالد پښتون:
مرحوم رشتين صاحب يومنل شوی ملي شخصـيت ؤ اودخپـل ملي فرهنـګ بلـه او روښـانه ډيـوه وه.هغـه ژب ښـودنه اوګرامرچـې رشـتين صـاحب پـه پښـتوژبه ليکلـی دی او دپښـتو ژبـې د زده کـړې لپـاره پـه پوهنتونونـو او کورسونوکې ورڅخه استفاده کيږي هغـه تراوسـه پـوری پـه خپـل قـوت سـره پاتې دی اوزمونږ دژبې اوفرهنګ لپاره ډيرغنيمت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داروانباد پوهاند رشتین دکاربله ساحه دپخواني پاچا د دورې داساسي قانون دمسودې مطالعه وه.دی دهغه ۲۸ نفری کمیسیون غړی ؤچې خپل کارېې په ډېره ښه توګه ترسره کړ.
اروانباد پوهاند رشتین صاحب په خپله عقیده کې راسخ او رښتین انسان ؤ او لکه څرنګه چې نوم یې رشتین ؤ.په واقعي معنی دخپل ګران وطن دملي منافعو په ساتلو کې دفرهنګي بریاؤ په خوندي ساتلو او خوندي کولو کې د واقعي تنویراو دروشنفکری غورځنګ د ادامې لپاره یې ډېرخدمت کړی دی.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۳مخ.
محترم مینا پاسنۍ کرباسي:
باید با تاسف گفت: ما که درین سن و سال هستیم. زمانی که سربلند کردیم تا چهره و شخصیت های بسیار بسیار مهم خود را بشناسیم، تباهي آمد ،روس ها آمدند وبعداً پناگزین گردیدیم.
متاسفانه به نسبت کمبود و سایل. کتاب.معلومات از شناخت چهره های برجسته وطن خودت تاحدی محروم ماندیم. من وقتیکه در بارۀ پوهاند رشتین معلومات حاصل کردم دانستم که در وطن ما چه رنګ شخصیت های بزرگ مثل پوهاند رشتین زندگی داشتند که ارمانهای خود و ملت راچه درقالب شعر.چه درسطورنثروچه هم درګفتارو بیانیه ها بدون نظرداشت این و آن بیان داشته اند که واقعاً برای ما نسل بعد از ایشان اندرز و آموزش است:
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۴مخ.

پروفیسورشاه جهان – پیښوریونیورستی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند رشتین د ادب په دنیا کې د پېژند ګلوی محتاج نه دی. د پوهاند رشتین په شان عالمان د یو ډېر اوږد تاریخي عمل په نتیجه کې پیدا کیږي او دومره اوږد مزل به کول وي، هله به د رشتین د پایې عالم زیږیږي د پروفیسر رشتین کارنامې به تر هغه وخت پورې ژوندې وي ترڅو چې پښتو ژبه او پښتون قام ژوندی وي.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۵مخ.

ښاغلی محمد صابر خویشکی:

پوهاند رشتین د ادبیاتو د پوهنځي دلومړنیو او منلو استادانو څخه و. دنوموړي تدریسي ژبپوهنه. د پښتو ادب تاریخ او ادبیاتو تاریخ د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي دزده کړولپاره خورا درانه آثار وو. چې دادی تر دې دمه دده ژبني ،تاریخي او ادبي آثار دهیواد په پوهنتونونو کې تدریسیږي.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ،۱۱۷مخ.

ښاغلی بدیع الزمان داودزی:

پوهاند رشتین یو داسې ځلانده ادبي ستوری و چې د هغه ادبي کارنامې به نه صرف په افغانستان بلکې دلته زمونږ په دې سیمه کې اودنړۍ په نورو ځایونو کې هم د تل دپاره ژوندۍ وي.

هغه چې په عملي توګه د پښتو ادب کوم خدمت کړی دی هغه زمونږ د پښتو د ادبیاتو د تاریخ یوه درنه برخه ده چې د راتلونکو نسلونو او د پښتو ادب سره د ذوق لرونکو خلکو رهنمایي به کوي.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۸مخ.

اروا ښاد پوهاند ډاکټر محمد طاهر بورګی:

پوهاند رشتین صاحب خپله ځواني ،خپل عمر او د ژوند سرمایه ټوله دوطن د اولاد د علم او پوهې دزده کړې په لاره کې صرف کړې وه ده د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنظره لویدلې ژبې پښتولاس نیولی ؤ.او غوښتل یې چې دا ژبه دنورو ژبو سره سیاله او په یو صف کې یې ودروی. ده دخپلو هلو ځلوپه مرسته بری ترلاسه کړدده بری په دې کې ؤ چې دده په خپله وینا ، ده هغه وخت د پښتو ژبې لاس ونیو چې نورو په پښتو ملنډې وهلې او خپله پښتانه په خپله ژبه پښتو شرمیدل.دا ځکه چې پښتو دخوارانو.کوچیانو.زیارویستونکوبې سوادو له ښارونو وتلواو دغرواو رغودخلکوژبه وه او کوم پښتانه چې په ښارونوکې اوسیدل او په ماموریت او یا تجارت بوخت وو. هغوی هم له پښتولری تښتیدل ،خودپوهاند رشتین او دځونورو خدای بخښلو دپښتوژبې مینه والوپه زیار او هڅوپښتوله دې حالته راووتله. دپښتو په ویلو نور نوپښتانه نه شرمیدل. دسواد خاوندانو به هم په پښتوخبرې کولې او یوبل ته به یې په پښتو ژبه لیکونه لیږل. پښتو دنورو خویندو ژبو په شان یوه ژبه شوه.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۹مخ.

پوهنوال غلام دستګیرړنګ:

چې طبیب دخپلې ژبې وي حبیب شي
خوله مرګه وروسته هرچاته قریب شي

پوهاند رشتین پښتوژبې ته یوعلمي رنګ ورکړ،دا ددې لپاره چې دا ژبه نوره هم دفصاحت او بلاغت اړخ پیداکړي.

پوهاند رشتین لومړنی شخص وچې په کابل پوهنتون کې یې دپښتوژبې مسئولیت په غاړه واخیست او ددې ژبې دغنا او بډاینې سبب وګرځید.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۱۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسور پریشان خټک :
پوهاند رشتین صاحب لکه دکاڼي دروند په خپل ځای په خپله ځمکه او په خپل مقام ټینګ ولاړو او دکابل په پښتوټولنه کې یې سره دنورو درنو عالمانو ډیربنیادي کارونه کول چې دهغونه به مونږ دلته دپیښورپوهنتون په پښتواکیډیمۍ کې استفاده کوله.
پوهاند رشتین یوډیربارعبه او ځلند شخصیت درلود. خبرې به یې په دمه او سوچ کولې. څه چې به یې وې هغه به دکاڼي کرښه وه. په اول ملاقات کې به یې دخپل علمي تبحراو شخصي درونډوالي نقشونه په ذهن راکښل ،دنوروملګرونه په ډیرو خویونو کې یوبیل شخصیت ؤ ، بنده به یې په لږ ساعت کی په خپل احترام کولو آماده کړو او دیوربښتینی مدبرپه حیث ددې جوګه و چې له هغه څخه پرقول او عمل کې ډیرڅه زده کړي.
ماچې په افغانستان کې درشتین صاحب کوم علمي شخصي او سیاسي حکمتونه ولیدل نو دهغه دسترشخصیت ټول اړخونه راته معلوم شول.
زه په دعوې سره ویلی شم چې ما ډیراوچت شخصیتونه ددنیا د یوسرنه تربل سرپورې لیدلی دي خو دپښتوادب کوم بنیادونه چې رشتین صاحب لګولي دي او دیوعالم په حیثیت چې دکوم شخصي درښت مثالونه هغه پیش کړي دي هغه بیخي بې بدله دي او زه رشتین صاحب هیڅکله هیرولی نه شم.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۰مخ.
الحاج عبدالغفورویاند :
پوهاند رشتین هیڅکله دخپلو شخصي اوذاتي ګټودپاره دپښتوڅخه نه دی تیرشوی. خپله خوښي اوخپل عزت یې دپښتوژبې په ژوندي کولو اوعلمي کولوکې لیده ،هماغه و چې دپښتوژبې د خدمت په لارکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیرا وچت مقام خاوند شو.ترڅو چې پښتووي پوهاند رشتین او پښتوژبې ته دده خدمتونه به ژوندي اوتل به دهغو کسانو په دماغ کې چې رښتینی پښتانه او د پښتوویونکي وي پاتې وي.

پوهاند رشتین د پښتوژبې او ادب لوی استاد ؤ.یوه ورځ پوهاند رشتین او دده څو ملګري چې زه هم پکې وم د لوی پښتون تاریخي شخصیت او د پښتوژبې د تعمیم علم بردار خدای بخښلی وزیرصاحب محمد ګل مومند لیدو ته دهغه کورته لاړو.د معمول سره سم هلته د پښتوژبې په حقله خبرې پیل شوې،یو ملګري د مرحوم وزیرصاحب نه دیوه شي په اړه داسې پوښتنه وکړه:

((بابا فلاني شي ته په پښتوکې څه وایې؟)) هغه په ډیر اخلاص مخ مرحوم رشتین صاحب خواته واړاوه او ویې ویل: هلکو: ما داکارهغه وخت کاوه چې صدیق الله خان نه و،اوس چې صدیق الله خان شته تاسې د پښتو په حقله دهرمشکل د حل د پاره دصدیق الله خان نه پوښتنه وکړئ.

زما ددې تذکرنه مقصد داؤ چې د پښتوژبې پوه او د پښتو د تعمیم علم بردارهم استاد رشتین ته دلوی استاد په نظرکتل او په پښتوکې یې دده پوهه منلې وه نو ځکه یې د خپل مکلفیت بارده په اوږو واچاوه.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۱مخ.

ډاکټرخورشید عالم:

د ډیرغورخبره ده چې پښتو رشتین صیب و او که رشتین صیب پښتو وه.

اروابناد پوهاند رشتین د پښتني تاریخ یو نوموړی بچی ؤ په خپله هم یو تاریخ ؤ.هغه یو محقق ،عالم ،مفکر،سیاستدان او یو داسې نومیالي ادیب ؤ چې زه نشم کولای دهغه په باره کې هغه څه ووایم چې هغه یې مستحق دی.هغه د عظمت یو مینارؤ ،زه چې دغه مینارته ګورم نوتوپی مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرنه وغورځیږي، دعظمت ددې مینار ستاینه زما کارنه دی ځکه چې زما
دقلم توان دومره نه دی خوچې پښتونخواکې ګورم نومونږ په حیثیت دقام
دخپل تاریخ.خاورې اوژبې قرض داریو ،خوپښتو ،پښتونولۍ پښتون قام
او پښتون تاریخ او خاوره د اروابناد پوهاند رشتین قرض دارې ده زه نه یم
پوه چې مونږ به حیث دقام خپل تاریخ ته څنګه مخامخ کیږو دقرض داری
خو جنازه هم نه کیږي مونږ به داروښاد پوهاند رشتین قرض څنګه خلاصوو
دابه دپښتنې ایمان سر بې ایمانی وي چې ددې تاریخ تسلسل ختم شي.
زما په تش سلام به اروابناد ته څه خوشحالي ورسي !
که زمونږ زورسره همت مل نه شي.نو ژوند به راته یو پیغور شي او پښتون
سره هغه دی چې په توره نه پریوځي.خو په پیغوراروم‌رو پریوځي دا اوس
دنوی کول کاردی چې فیصله وکړي.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۲مخ.
ښاغلی محمد نواز:
ښاغلی رښتین صاحب صرف یو شخصیت نه وبلکې یوه اداره وه چې مونږ
پکې خپله پښتو پښتونولي موندلی شوه او پښتون قام ته ددې ادارې نه
داستفادې حاصلولو دپاره دقام دقلمکارانو پوهانود ډیرمحنت ضرورت و.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۲مخ.
ښاغلی پرویش شاهین:
ماته به چې کله هم چیرته په پته دکابل چاپ رساله اوکتاب په لاس
راتللو.ددغې په رڼا کې مې خپل ادبي سباوون شتمن کولو.
خوچې کومه رساله به مې هم لوستله ،رشتین به هلته ضرورحاضرؤ، کوم
کتاب له به مې چې پاڼې اړولې،رشتین به هلته موجود ؤ، اول سرکې پرې
زه تیروتی وم.زما خیال ؤچې دا رشتین کوم انجمن دی.اداره ده. پراجیکټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی .ډیر خلک ددوی په اداره کې کارکوي او دی یې د (رشتین) پراجیکټ د سیوری لاندې چاپوي خوچې وروستو د مطالعې په سبب پوه شوم چې (نا) دابل څوک نه لیکي ،داخوپکې یو سړی دی چې لیکي یې او چاپوي یې.او دغه وخت کې یې زما په زړه او مازغو رشتین صیب ډیرلوی او ژور اثر وغورځولو.

کومه رساله ده .کومه موضوع ده . کوم کتاب دی.څه عجیبه نابغه دی.هرڅه لیکي او ډیرښه یې لیکي.ادب دی، که تاریخ دي.که نقد یې لیکلی دی که ګرامریې لیکلي دی.که سمونه کوي.که سفرنامه لیکي.که موسیقی ته لاس اچوي.که ژبپوهنه راپرځوي.که د کلیو او سیمو په جعرافیه نظر اچوي.که زاړه ټکي او لفظونه راګیروي اوجاج یې اخلي.که سنسکریټ ته ځي او که زند.اوستاکه پهلوي څیړي.که د پښتنو په شجرو او خیلونو نظراچوي او که د عربی او اردو ژبو په ملغلرو بحثونه کوي.که د فلکلور په ښاریه ننوځي او که د شعر په ښکلا کې غوپه کیږي.هرځای کې ګړندی هم دی او بریالی هم .او سم نیغ په برابرګو درخیژي.

د پوهاند رشتین هڅه اومرام د پښتو ژبې د تاریخ فرهنګ او قدامت د سرهسکولوو ترڅو دادکار او د مقام ژبه اوچته شي.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۳مخ.

ښاغلی سلیم راز:

زه دومره ویلی شم چي اروابناد پوهاند رشتین صاحب د پښتوژبې او ادب دخپل عصر دهغو څو بنیاد اېښودونکوکې ؤچې نن یې پښتو ادب دیو مضبوط عمارت په شکل درولی دی او دنوي کول لیکوال یې دنوروچتولو او ښایسته کولو په عمل کې مصروف دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رشتین صاحب خونه یوازې په خپله ترآخروخته علمي او ادبي مبارزه جاري وساتله بلکې په خپل کورکې یې هم د پښتو دغه مشال قایم او دایم وساتلو چې د مرګ نه پس یې هم تسلسل جاري دی.اوزما په نزد دا ډیرلوی کاردی.
یقین لرم چې د علم اودانش دا سلسله به نه یوازې درشتین صاحب نوم ژوندی وساتی بلکې پښتو ژبه.ادب اوتاریخ به هم مخ په وړاندې بوځي چې د پښتني وطن ګوټ ګوټ په رڼا اود پښتون اولس زړه.ذهن اونظربه معتبر ،معطراومنوروساتي رښتیا ده چې رشتین رشتین و.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۴مخ.

الحاج عبدالله رشتین:
په مونږ دریو وروڼوکې پوهاند رشتین دلوړ فکراودماغ خاوند و.هغه دیوتیز ذهن لرونکې و.که زه ووایم چې هغه نابغه ونوپه دې کې به کومه مبالغه نه وی شوی.
پوهاند رشتین دخپلې لوړې پوهې او تیز ذهن په برکت دخدای پاک دپیرزوینې او دقرآن پاک په فیض اوبرکت دعلم او پوهې په آسمان کې لکه لمروځلید.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۶مخ.
الحاج فضل الله رشتین:
پوهاند رښتین ټول عمر پښتو او پښتنو ته خدمت وکړ، هغه پرته له دې بل هیڅ کار نه دی کړې، شپه او ورځ د پښتو ژبې اوخپلو خلکو په خدمت کې بوخت و... باور وکړئ چې هغه به ډیر ساده خوراک کولو د هغه جامې ساده وی، د هغه ژوند ډیر ساده و ،هغه یو متواضع شخصیت او سپیڅلې پښتون و، سبا ستوري مجله، دویمه ګڼه ۱۳۷۹ کال ۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفيسرجهانزيب نياز:

مړه هغه چې نه يې نام نه يې نشان وي
تـل تـرتـله پـه ښه نام پايې ښاغلی

رشتين صاحب نه مري.که ديو کوره لاړ خوپـه زرګونو پښـتنو زړونـوکې ځـان تـه کورجوړکړی دی.دټـول عمرلپـاره زمـونږ دلارې مشـالونه دي.هغـوی پـه خپلوويناومونږ ته ليکلي دي.

پښتوټينـګه که پښتونه چې هم ژبه ده هم توره
ته هم دې يې پښتون کړی ته هم داکړه مشهوره

ترکومه چې دپښتون يوبچی هم ژوندی وی درښـتين صـاحب دنوم انګـازې به په فضاکې خوری وي.

رشـتين صـاحب پـه پښـتو عـاشق و،پښـتودهغه ليلی وه اوهغـه يـې مجنـون و.داسې عشق چيرې هم نه فناکيږي،دا ابدي عشق دی دا هغه غمی دی چې ورژی خـو تخـم پـه ټولـه دنيـا کـې خپـورکړي اوديوګـل پـه ځـای يـې زرګونـه ګلونه ګلونه تازه شي اوماحول په خپله خوشبويی معطرکوي.

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۲۷مخ.

اوراښاد خان عبدالولی خان:

اروانبـاد پوهانــد رشــتين يــو رښــتينی پښــتون ؤ،هغــه خپــل ټــول عمردپښـتوادب دتـرويج اوپـه پښـتون قـوم کـې دشـعورد پيداکولولپاره تيرکړ،پښتوادب ته دهغه خدمات به ترقيامت پورې هيرنه شي.

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۳۳مخ.

سناتوراجمل ختټک:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربښتین صیب په اخلاص او ایمانداری، ربښتینولی، پښتون ولس لپاره خدمت کړی دی.ربښتین صیب دیو نغري.دیوې کورنی، دیوې قبیلي، دیوې سیمې نه ؤ.بلکې دهرې کورنی، قبیلې اوبیا په مجموع کې دټول پښتون قام دسرتاج و.

دعلامه پوهاند ربښتین بابا یاد ، ۱۳۳مخ.

قاضی محمد امین وقاد :

ټولو منلی ده چې پوهاند رشتین دخپل وخت هغه بادیانته ،پوه عالم ،باهمته.دقوم اوملت ربښتینی خدمتګارؤچې له خپل بصیرت، ذکاوت،علمیت او همت سره یې دې ټولنې ته ډیرخه ورکړي دي هغه دځان سره نه دي وړي،بلکې دې ټولنې ته یې پریښي دي.که پښتوورکه شی نودپوهاند رشتین صاحب په اثاروکې به یې پیدا کوو ،او که غلطی پیدا شي نو دهغه له آثارو به یې اصلاح کوو.

دعلامه پوهاند ربښتین بابا یاد ، ۱۳۳مخ.

ښاغلی نورالبشرنوید :

پوهاند صدیق الله رشتین دافغانستان د ادب دا ستاذانو استاذ و ،هغه د افغانستان سپین ږیری زوی و.ټول عمریې پښتون قلم دپښتو دادب او تاریخ لپاره دټول افغانستان دشناخت په دود په رپیدلو لاسونوکې نیولی و او مونږ نن رشتین صاحب درپیدلو لاسونه حرفونه داسې وایولکه چې هغه دخپلې خاورې په مخ دسانحې حرفونه لیکلي دي.

ای دپښتنو وطنه !

دپښتنو مسکنه

دغیرتونوزانګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ستا په غیږکې زنګیدلي بچي
ستا په سینه دي روزیدلي زامن
ستا دعظمت په انکارې ولې دي
زما پښتویې ولې پرېښودله
هغه پښتو چې ما لیکلې هم ده
اوما ویلې هم ده
اوما ښودلې ده
هغه پښتو چې ما دمورد پیو په شان په ځان یو قرض لاره
زه ما شوم وم ،زه ځلمی شوم.زه بوډا شوم
او زه مړ شوم
خودغه قرض ما ادانه کړو
زه د ډالرو قرضداری نه مرم
دریالوبوج مې نه ماتوي
په ما کا لدارې هم راپورې نه دي
خوزه دخپلې ژبې پوروړی ومه
زما بچو !
زما افغانانو !
زما شاګردانو !
ماله زما دژبې پور ادا کړئ
ما له زما دخاورې موررضا کړئ
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۳۵مخ.

پروفیسررسول امین:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند رشتین دهغو شخصتیونو څخه ؤچې هغه دچا په پښنوکې ونه لوید.دچا په پښنوکې یې سرټیت نه شو ،دافغانستان په سرېږې چاسره سودا ونکړه.دافغانستان په سربانډې دچا په خدمت کې ونه درید کله چې په کابل کې دکمونستانو رژیم راغی نو دمادروطن او پدروطن په نامه جبهه جوړه شوه اوده ته یې دعوت ورکړچې په دې جبهه کې شامل شي.دوي غوښتل دپوهاند صاحب دعلم دفکر ،دذهن دلیک څخه په خپله ګټه کاروا خلي مګرپوهاند صاحب یوازینی سړی و چې هغوي ته یې ولیکل چې په داسې جبهه کې چې هلته دافغانستان دافغانانو په سرسودا کیږي هلته نه کښینم.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۳۶مخ.

سناتورغلام نبی چنکوري:

پوهاند رشتین ټول عمرکتاب اوقلم ته وقف کړی و او دایې مسلک او شغل و.

چې پری غم غلطوم دری مې محرم دي
یــــوقلــم دویم کتاب دریم اشعار خپل

اروانښاد پوهاند رشتین په دې نظرو ،چې دقوم خدمت دهرچا وجیبه ده څودتعلیم یافته او تیزفهموخلکوذمه واري ډیره درنه ده.

خــدمت دې څــــومره په مــــــا پور دی
چې ژوند پرې ورکړم نوبه څومره باقي شمه

دپوهاند رشتین درنه وضعه.په سړه سینه اوریدل.په حوصله ویل په مخصوص انداز لیدل کتل او درانه کیناستل او پاڅیدل ډیرخوندوروو.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۳۶مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر راج ولیشاه خټک:
کوم کارچې پوهاند رشتین صاحب کړی دی هغه دا چې د پښتو تهذیب یې ژوندی کړی دی او که دا نه وې نو خدای خبر چې د پښتون به څه حال و. رشتین صاحب د قلم په واسطه علمي سفر منزل ته رسولی دی.
کاظم شیدا وایي:
چې په غرونو لارشي صافه
قافله د رومی تر کافه
دغه علمي لار رشتین صاحب صافه کړی ده او ده د پښتو ژبې او ادب د پرمختیا لپاره په افغانستان کې ترهرچا زیاتې هلې ځلې کړی دي دا د پنځو ستورو څخه یو ځلاند ستوری و.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۳۷مخ.

سرمحقق عبدالله بختانی:
پوهاند رشتین خپل ټول ژوند د پښتو ژبې خدمت ته وقف کړی و. دا خدمت په تعصب نه ؤ. بلکې ده د خپلې ژبې خدمت کولو. څوک چې خپلې ژبې ته خدمت کوي هغه تعصب نه ګڼل کیږي.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۳۷مخ.
ښاغلی همیش خلیل:
کوم کارچې پوهاند رشتین پښتو ژبې ته کړی دی. هغه یقیناً ډیر درونند کاردی. څوک چې د ژبې لپاره دومره ډیر کار وکړي هغه هیڅکله مړګ نه لري بلکې د هغه نوم د تل لپاره ژوندې وی.
د ادب په محبت کې لاثاني و

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښـــتو دښـــيرازۍ ارماني و
د ادب پـــه حواله تورو تياروکې
دوطـــن په افق ستوری کارواني و
ځـــکه تا خپلو شعرونوکې زه ستايم
خـــدای ګواه چې ستا دفکرهمنوايم
ستـا قلم ودوخت مړي ژوندي کړي
ځکه ستـا دغه اعجاز باندې ګوايم

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۳۸مخ.

ښاغلی انورالحق احدی:

پښتوژبه چې په قانون کې ملي او رسمي وګرځيده .په دې برخه کې پوهاند رشتين صاحب ډيرزيار ايستلی دی او ډيرکاريې کړی دی.پوهاند رشتين صاحب دملت جوړولو په کاروان کې ډيرستر او مهم رول لوبولی دی.
دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۳۸مخ.

سيد صابرشاه صابر:
پوهاند رشتين د افغانستان د پښتو ادب په تاريخ کې دخان بابا وزيرمحمد ګل خان مومند نه پس. نه ساری لري او نه ثاني.که پوهاند رشتين نه وی نو خدای مکړه داسې نه ده چې ګنی پښتو به په افغانستان کې نه وه خو دانن چې پښتوژبه پـه څومره تيزۍ سره مخ پـه وړاندې روانـه ده پـه دې کې دپوهاند رشتين لوي ،قوي ،اوبنيادي لاس ضروردی.
دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۳۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی فدامحمد فایض:
استاد رشتین په داسې وخت کې د پښتوژبې او ادب تاریخ لیکلو ته ملا وتړله چې دده د مخه څوک په دې لارنه وو تللي دا منډه د ه مات کړه په پښتوژبه کې لا چا ژبپوهنه ،ژبښودنه سمه نه پیژندله، ددې ډګرلومړني قدمونه استاد رشتین کیښودل نوروېې پیروي وکړه،اروابناد رشتین پرپښتون قام او افغاني ټولنه ډیرحقوق لري.د استاد رشتین په څیرشخصیتونه ددې وړدي، چې پوهنتونونه یې په نومونو ونومول شي.علمي ادبي اوفرهنګي ټولنې یې په نومونو جوړې کړای شي. دهغوی آثارچاپ شي.دهغوی دآثارو دلوستلو او څیړنوزمینه برابره شي او دهغویاد ژوندی وساتل شي.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۰مخ.

پوهاند ډاکترمحمد رحیم الهام:
زه دپوهاند رشتین صاحب شاګرد وم ماله دوی څخه ډیرڅه زده کړی دي.
پوهاند رشتین یوثابت قدم انسان ؤ،دروغ یې نه ویل داخلاص او اخلاقی جرئت خاوند و ،چې دا دده دعلمیت پوره نخښه ګڼلی شي.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۲مخ.

استاد محمد آصف صمیم:
پوهاند رشتین دپښتوادب هغه ګلبڼ ترخپلې وروستۍ سلګۍ پورې په خپله مینه ،وینه او ژمنه سمسوراوښیراز وساته چې (دده په خپله وینا ) ددې عصرخوشال خان (محمد ګل مومند بابا ) دمیوه یی نیالګیو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اینبودو جوړکړ، د پنځګونو ښوالو لومړنی او پیاوړی ښوال (علامه حبیبي) د بې دبنسټګرپل پسې و اخیست، استاد خادم پکې د شعراو ادب کیاری اوکوراړي جوړکړل، استاد الفت ورته دخپلو مغزوله سینده دژورو فکري، ابتکاري اوفلسفي رموزو لښتي ورتیرکړل، استاد بینوا پکې دعقل او سد دبندونو په ماتولو درندی بی سدی او متحد دمفاهیموښایسته او ډولي خیابانونه وایستل او پای کې زمونږ رشتین خدمتګاریې وهری ګلونې او هرګلبوټې ځانګه دخپل رسا پښتون سوچ له بوخڅې نه دوریښمینو ټوکیو په رنګونو وګاڼله ،ویې رنګوله او دهرې ځانګې اوشګوفې په ښکلا کې یې دزړه دوینو رنګ ورکړاو دهرې ځانګې په اغزی کې یې دنظم اونثرګل غونچې وټومبلې او د پښتانه کول اوپښتني ټولنې دمغزوپه خوږ بویی کې.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۲مخ.

ښاغلی سرمحقق زلمی هیواد مل:
پوهاند رشتین دافغانستان یونومیالی فرهنګي شخصیت ؤ او د پښتو نامتو څیړونکې اوژبپوهاندو.
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۳مخ.
ښاغلی محمد جاوید خلیل:
د پوهاند رشتین عالمانه خبرو او دروند خوی به ډیرخوند کولو که د ژوند په هرډګربه ترې څه پوښتنه وشوه نوډیرپه زړه پورې ځوابونه او دلایل به یی ورکول.ګویا په خپل ذات کې یوه ډکشنري وه، یوه انسائیکلوپیډیا وه .یوانجمن و.یوه اکیډیمي وه هغه د پښتو ژبې او ادب خدمت خپل فرض ګڼلی و.دامینه دافرض یې ترآخري عمرپورې برقراروساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۳مخ.

ښاغلی میا روښان خادم:

مرحوم پوهاند رشتین په پښتوژبه او پښتون قام مین شخصیت ؤ او دغه مینه یې حقیقي وه ځکه دخپلې دغې مینې د اثبات دپاره یې عملي کارکړی، کتابونه یې لیکلي او دپښتوژبې دعلمي پانګې په پیاوړتیا کې یې پوره ستره ونده اخیستې ده او په خپل دغه روش یې ځانته په افغان ملت کې سترځای جوړکړی او دهرفرهنګپال او په خبره پوه شخص په زړه کې ځای لري.

رشتینه ستا په مرګ سره طوفان وخوځیده
ویده پښتون لـه کته پرآسمان وخوځیده
زمونږ په کلي کورکې ولی ویردی او ماتم دی؟
چـا وویلی پـنځم لـمرله آسمان وخوځیده

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۳مخ.

ډاکټرحفیظ الله خوږلن:

دپوهاند رشتین صاحب نوم دپښتو او پښتوټولنې سره داسې غاړه غړې او پیوند شوی دی چې دیوبل څخه نه بیلیدونکی ښکاري او کله چې دپښتو او پښتوټولنې نوم یاد شي ورسره جوخت دمرحوم پوهاند رشتین نوم په ذهن کې را ژوندې شي.او کله چې بیا درشتین صاحب نوم واخستل شي نو دپښتو او پښتوټولنې نوم ورسره په ذهن کې بریښنا کوي.

دغه ویاړ درشتین صاحب ته دهغه دصادقانه خدمتونو په بدل کې ورپه برخه شوی دی چې دپښتون کهول خوږې ژبې ته یې کړي دي.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۴مخ.

ډاکټرمیراحمد اکبر:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتوژبې مشهورمتل دی چې (سل دې ومره خو د سلو سره دی مه مره ).
درشتین صاحب پوهه او زړه ورتیا به په ګوتو شمارو افغانانو کې پیدا شي.په رښتیا چې پوهاند رشتین په پښتو او افغانیت ټینګ شخصیت و ،وطن وربانديې ګران ونو ځکه دوطن په ناخوالوډیر ودردید.

په هجرت بې وطنۍ کې ډیرغمګین شوم
چې خبرزه د پوهاند صاحب رشتین شوم
چا په غوږ کې راته وویل داهم لاړ
ماویل څوک؟سم دغصې نه ورته شین شوم
ما ویل هرافغان زما دزړګي سر دی
څوک که پورته دپامیریا دخیبردی
ای (اکبره ) مات ګوډ شعردی ورنه جارو
دارشتین صاحب مومند دننګرهارو

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۴۵مخ.

ښاغلی محمد معصوم هوتک:
مرحوم پوهاند رشتین دپښتوژبې او ادبیاتو دژوندي کولو دغورځنګ یوسترسالارو.دده علمي جدوجهد دومره دی چې نسلونه نسلونه به دده دآثاروڅخه استفاده کوي.دده علمي هلوځلو اوخدمتونو ته ټول پښتانه په درنده سترګه ګوري.

یولوی ویرمو وکورته له ناورینه سره ولاړ
محفل دپښتوژبې درشتینه سره ولاړ
دپوهې او ادب پرګدۍ ناست یوسترمرشدو
له وعظو له ارشاد اوله تلقینه سره ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـالار د قـافلو و د پښتو د خو ځښتونو
لـه علم ولـه وقار اوله تمکینه سره ولاړ
سرونه پـرې زنګـيږي لارويان د ادب ژاړي
يو سترو يـاړ رانه ولاړ خوله تحسينه سره ولاړ
خـاطـريې لټاوه پکې اهونه وو درونډ غم و
يـو قـصرد ادب لـه شاه نشينه سره ولاړ
پیړۍ پکار دي چې د رشتين خلا ډکه شي.

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۴۵مخ.

ښاغلی سلطان جان کليوال:

استاد رشتين د پښتو ژبې د سم لوستلو او سم ليکلو د پاره د پښتو ژبې ګرامر ترتيب کړاو پـه دې توګـه يـې وکـولای شـول چـې د معيـاري پښتو دليکلو په ډګر کې تربل هرچا مخکې شي او خپلې ژبې تـه تلپـاتی خدمت وکړي، سربيره پردې اروابناد پوهاند رشتين د پښتو ژبې د زده کړې د پاره د اسې نـوې لارې پيدا کړې چې د غيرپښتوژبې کسانو د پاره هم د پښتوژبې زده کړه آسانه کړی.

څـپې دغم دی را روانی د پښتو په کلي
چې دا ستا دمرګ خبرراغی ددو په کلي
که ستوري نشي او د ستوروځای ژرونه نيسي
بيـا به پښتو ګرځي سرتوره د پردو په کلي

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۴۵مخ.

ښاغلی عبدالباري جهاني:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروا ښاد پوهاند رشتین خپل ټول عمر د پښتو ژبې خدمت ته وقف کړی و ،هغه د پښتو ژبې د ادب، ګرامر او کلتوري څېړنو او تحقیقاتو په ساحو کې برجونه درولي دي.

پوهاند رشتین د پښتو ژبې د ګرامر په برخه کې خصوصاً داسې تحقیقات وکړل چې د ډېرو داخلي او خارجي پوهانو پام یې دغې په زړه پورې او په ضمن کې نیمګړې پاتې موضوع ته واړولو.

مونږ په خواشینۍ سره ویلای شو چې دا ګړۍ د ګوتو په شمیر پښتانه د هغه سره سیالي کولای نه شي او ځای به یې د تل لپاره خالي وي.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، **۱۴۲**مخ.

ډاکټر سلمی شاهین:

پوهاند رشتین یو همه ګیر شخصیت و.د علم غر ،د مینې چینه، د صبر انتها ، د پښتو خواخوږی، د اخلاص مجسمه.د اصولو علمبردار ،نه ستړی کیدونکی ،خواریکښ د لفظ په حرمت پوه ،ادیب، شاعر ،محقق ،مولف په یو ذات کې څه څه نه و.

هغه د کتاب او قلم نه پرته په دنیا کې بل هیڅ کار نه و کړی ،هغه خدای پاک د پښتو په خدمت کې لګولی و ،هغه د خپل قلم آخري څاڅکې سیاهي او د خپل زړه آخري څاڅکې وینه هم د قلم په خدمت کې لګولې ده.د هغه قلم وچ شوی نه دی.

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، **۱۴۷**مخ.

ښاغلی ببرک میاخیل:

پوهاند رشتین خپل ټول ژوند د پښتو ادب د خدمت لپاره وقف کړی و.هغه پښتو ژبه په داسې سترو سترو کارناموو یاړله چې که د پښتو ژبې او ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ليكوال او څېړونكى ژوندى وي د دغه ستر انسان د استرې كارنامې به له ياده ونه باسي.
پوهاند رشتين يو داسې ګنج او خزانه وه چې په زړه كې يې هر ډول ادبي ملغلرې پرتې وې هغه داسې يوه ستن وه چې په خپل ټول معنوي قوت يې زمونږ د ادب مانۍ پرپښو درولى وه.
دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۴۹مخ.

ډاكټر زرغونه زيور رشتين:
پوهاند رشتين بابا د پښتو او پښتونولۍ يو سمبول، د پښتو ژبې ادبي اتل او قهرمان په پښتو مين يو رښتني خدمتګار و.
ارواښاد پوهاند رشتين به څوک نه پيژني !پوهاند رشتين داسې يو شخصيت و ، چې نه د خپل قام نه د خپل تاريخ ،نه د خپلې ژبې ،نه د خپلې خاورې مقروض له دې دنيا تللى دى، خو تاريخ پښتو ژبه، پښتنه خاوره او پښتون قام دده قرض دارى دى او ښايي چې د هغه حقونه ادا كړي.

خدمت دى څومره په ما پور دى
چې ژوند پرې وركړم نو به څومره باقي شمه

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۵۱مخ.

الحاج حبيب الله رشتين:
لوى استاد علامه پوهاند رشتين د پوره عزم او ارادې خاوند و.ثبات دده د ټول ژوند رازو ، صداقت، راستى، ايماندارى دده په وجود كې اغږل شوى وه .هغه د يو رښتينى خدمتګار په حيث د وطن دوستى په روحيه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اود پښتونولۍ په جذبه د پښتوژبې ادب،د پښتون قام دآینده سمون او جوړښت لپاره بنيادي اوتعميري بنسټونه کيښودل.
دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، **١٥١**مخ.

استاد سعد الدين شپون:
د پوهاند رشتين د پښتو ليکلو په طريقه منکر اعتراض کولی نه شي زما هيله داده چې که رشتين صاحب دنثر په ليکنه و درومي دلرې پښتونخوا په وينا (دابه ورله ښه شي).
دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، **١٥٢**مخ.
ښاغلی نورالحق علومي:
پوهاند رشتين داولس په ذهني،کلتوري،اقتصادي اودژوند دنوروبرخو په لوړتيا او پرمختيا کې لويه ونډه درلودله اودټول اولس دآبادۍ، ترقۍ اونيکمرغۍ غم او فکرورسره و.هغه دخپل ملي لرغوني کلتورغنا ،ځلااوجلال غوښت اوتل به يې دا سپارښتنې کولې چې هيوادوال دی نظم او ثبات وساتي چې دټولو قومونوژبې او کلتورخوندي پاتې شي.
دهغه آرزو داوه چې موجوده شرايطوکې دې ټول ملي پوهان،اديبان اوبادرده شخصيتونه لاس يوکړي دبدمرغه سياستونواو کرغيړنورقابتونوخلاف دې متحد شي او دا هيواد دې دنورې ورانۍ اوفرهنګي چپاول څخه وژغوري.
دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، **١٥٣**مخ.
ښاغلی محمد عارف غروال:

د پښتو په لوی جهان کې لکه غرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادب په شنه آسمان کې لکه لمرو
ولولويې ويده زړونه ويښول چې
دی زمونږ له اتڼکلونو څومره لوړو
په قلم کې يې وزورژبه کې شورو
ځلاند ستوری دافغان دسترتبرو
میړنی دزمانی و ،ننګيالی و
د پوهانو عالمانو سرلښکرو
په رشتينه لارولاړ رښتين استاد و
د (غروال) دميړني اولس زيور و

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۵۴مخ.

استاد نصرالله حافظ:

بيا يوه رښتينې ډيوه مړه شوله
بيا مو دماتم په کلي شپه شوله
يو رشتين راته پاتې وپه مينه کې
تل به پرې دستړو زړه دمه شوله
تا باندې وه ګرانه دوطن خاوره
ځکه دې دعمر بستره شوله
لاړه چې يو يو ورنه دميني يار
دادنيا حافظ ته غم کده شوله

دعلامه پوهاند رښتين بابا ياد ، ۱۵۵مخ.

محمد اياز (ملنګيار):

چې يې کړی په رشتيا خدمت دقام وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد یې پاتې په دنیا کې به مدام وي
د پښتو ژبې صدیق ادیب رشتینه
په پښتو کې به دې یاد به خاص وعام وي
که رشتین شیرخان دې مل شو په سفر کې
په دنیا کې دژوندیو دا انجام وي
پښتون قام دملنګیاره سره وایي
دعا ګاني به زمونږ دخولې کلام وي

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۵۸مخ.

ښاغلی خیرمحمد احمدی:

ترعمره چې روان شریک په لارؤ دخپل قام
ښاغلی اومنلی وفادار ودخپل قام
انځوریې ارمانونه دخپل قام کړل په قلم
رشتین خو(احمدی) یولوی فنکارو دخپل قام

دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۵۹مخ.

ډاکټرورمه رشیتن:

پرانستې کتاب
دخپل ځان د پېژندنې په تکل کې
ما بس لوستی یو کتاب دی
تری زده کړې مې پښتو ده
هم پوه شوې په مطلب یم
ماخپل ځان په کې موندلی
پېژندلی مې پښتون دی
خپل وطن مې پېژندلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم له میني یې خبرشوې
دوطن په پاکه خاوره
قرباني مې ترې زده کړې
(حبیبي) مې دی لوستلی
بینوا مې پیژندلی
دخادم دجذبې لاره مې موندلې
دالفت په مطلبونو پوهیدلې
ماترې لیدې رښا ګانې، مشالونه
لوی پښتون مومند بابا دی نوموړی
پوهیدلی په فکرونوتکلونو
د بابا فخرافغان خپل
ما دا هرڅه دي زده کړی
له پرانستی یوکتاب نه
دا (رشیتن ) کتاب رښتیا دي
چې شهکاردی دتمام افغانستان
دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، ۱۲۳مخ.
پوهاند ډاکترزیور
...څومره چې پوهاند رښتین دپښتوژبې اوادب لپاره په مسلکي توګه کارکړی او علمي، ادبي، ژبني ، فرهنګي آثاریې رامنځ ته کړي دي چې هغه له هیچا څخه پټ نه دي هغومره بل چا نه دي کړي.
لوی استاد پوهاند رښتین دپښتوژبې په ادب پوهنه او ژبپوهنه کې لکه دعربي ژبې سیبویه ،خلیل او اخفش غوندې بنسټ ایښودونکي او مخکښ بلل شوی دی. چې ددوي دغه فکري مدرسه تراوسه د تطبیق وړ ده او وي به.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـوی اسـتاد پوهانـد رښـتین پښـتنوا و د پښـتوژبې او ادب تـه دیوشاعرادیب ، مورخ،ژبپوهان، نقاد ، څیړاند ،ژورنالیست په توګه په صداقت ایمانداري، میني، رښتینولۍ، پښتونولۍ خدمت کړی دی د اروا ښاد علامه لوی استاد په علمي، ادبي، ژبني، فرهنګي او نورو خدمتونو په هکله ډيرې زياتې ليکنې کيدلای شي خوزه دلته یوازې دده په ادبي خدمتونو او نوښتونو باندې يو څو خبرې کول غواړم.

ده د پښتو ادبياتو په دواړو برخو (نظم او نثر) کې دومره ډیر آثار او ليکنې کړي دي چې هريو اثرباندې غړيدل او څه ليکل په دې لنډ وخت کې به اسانه کارنه وي.

د استاد په ادبي، تخليقي او تحقيقي آثاروکې يوازې د (خوږې وږمې) نومې اثرپه نظم دی نورټول اثار يې په خواږه نثرليکلي دي ښه قوي شعرونه يې ډيرخوښ وو خودکمزوري او بې مطلبه شعرطرفدارنه و ځکه په يوه ليکنه کې اروا ښاد فرمايلي دي: (( ښه شاعران دقوم سترګې دي، خدای پاک دې دا قوم بې سترګونه کړي)) او دی د پښتوژبې دنثردبرخې په کمي او ضرورت ښه پوه شوی و ، نوځکه يې په دغه ميدان کې ډيرمهم او ارزښتناک کتابونه او رسالې وليکلې.

پوهاند صاحب دلومړي ځل لپاره د پښتو ادب تاريخ په **۱۳۲۳**هـ ش کال ليکلی او ادبي تاريخي دوري يې ډلبندي کړي دي چې له ده څخه دمخه په پښتو ادب کې چا داکارنه دی کړی.

بله داچې لوی استاد دادب تاريخ دليکلو لپاره ترهرڅه دمخه د پښتو ادبي تذکرې ضروري ګڼلي، چې بيا ددې تذکرو څخه دادب تاريخ جوړ شي. نو هماغه ووچې اروا ښاد د پښتانه شعرا په لومړي ټوک کې دلسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنو شاعرانو معرفي اوبيا د پښتانه شعرا دوهم ټوک ليکل په ادب پوهنه کې ډيرسترکاردی.

ده د پښتو نثردورې هم ډلبندي کړي چې د پښتو د نثرهنداره يې ښه بيلګه ده. چې د غه کارزمونږ د استادانو او محلصينولپاره ډيرارزښتمند او په زړه پورې ګڼل کيږي.

د نثرپه ميدان کې دلوی استاد لوړ صلاحيت پخه تجربه دهيرولو نه ده.

د پښتو په هنري او ادبي نثرکې دده قلم پياوړی ، رسااو بې جوړې دی.

زمونږ د پښتو په معاصرو ادبياتو کې د هنري ادبي نثرد مخکښانو له ډلې څخه استاد رښتين ديو منلي سوچه روان سبک خاوند دی. دده نثرپه موجوده وخت کې په رښتيا سره سم بې عيبه له خارجي اغيزې نه خلاص دی.

دده د نثرژبه خوږه سپيڅلی، مطلبي او ګټوره ده چې ګڼ شميرنثرونه يې دادبي پارچو، تاريخي، اجتماعي انتقادي نثرونو په بڼه خپاره شوي دي.

پياوړي استاد په خپلو هنري ، ادبي نثرونو کې ډيرې ښکلي په زړه پورې پښتني تشبه ګانې، استعارې کنايي يې (د پښتو قصی) او (د ښکلاوږمه) د (ژوند پلوشې) کې د مضامينو په رنګينولو سره خوند او رنګ لازيات کړی دی، ديو ليکوال په قول د ښکلاوږمه په کتاب کې اروابناد پوهاند صاحب په نثرکې شاعري کړی ده. په هنري ادبياتو کې ډرامه ليکل په فني توګه دده (پښتني ميرمنې) ښه او ژوندی مثال دی.

د ځينو ليکوالو په نظرپوهاند صاحب د ژبپوهنې او ځينې نوربيا هغه د ادب پوهنې د څانګې غښتلی ليکوال بولي خودا به ګرانه وي چې څوک دې داپريکړه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په بیلا بیلو علمي، ادبي برخو کې خپل د قلم نیلی ځغلولی دی.

دژبې او ادب په هره برخه کې یې هراړخیز (همه جانبه) کار کړی دی او دا هغه وخت سړي ته معلومېږي چې د دوی ټول اثار ولولي او مطالعه یې کړي.

نوي ابتکارات چې پوهاند صاحب د ژبني او ادبي اصطلاحاتو په برخه کې کړي دي څرګند او ښکاره دي.

په ادبیاتو کې د ادبي سبک او ادبي مکتب موضوع ډیره مهمه مسئله ده چې استاد د دې موضوع تو پیر په ښه شان ښودلی دی. او (د پښتو ادبي مکتبونو) په نامه یې په زړه پورې رساله لیکلې او چاپ شوې ده.

که و وایو چې په بره پښتونخوا کې پوهاند رښتین د سفرنامو په لیکنو کې بابا دی، نو مبالغه به مو نه وي کړې، د لوی استاد رښتین په سفرنامو کې د هند سفر، د ننګرهار ننداره، د بدخشان ننداره، د قطغن سفر، د خوست لیدنه، الیشنګ او الینګار ننداره د عشق آباد سفر، د شوروي اتحاد سفر، د مصر سفر، د پیښور سفر او نورې مشهورې دي.

د ادب پوهنې په مهمې څانګې (ادبي تنقید) کې: کره کتنه، ژوره کتنه، نوې کتنه، کره کتنې ته ژوره کتنه او داسې نورې علمي اصطلاحګانې رواج کړې دي.

په مسلکي توګه د دکډرونو په روزلو کې پوهاند صاحب د ادبیاتو د پوهنځي لپاره درسي کتابونه هم لیکلي دي، او دیو منلي او پیاوړي استاد په توګه پېژندل شوی شخصیت و چې د پښتو ژبې او ادب د پرمختیا او پیاوړتیا لپاره یې ډیر شاګردان روزلي، د علم او ادب په ډګر کې خدمت ته چمتو کړي دي، چې د هغوي له ډلې څخه، خالد روښان، میرحسین شاه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکترمحمد حسن کاکړ، سلیمان لایق، پوهاند حبیب الله تږی، پوهاند ډاکترالهام، سعدالدین شپون، محمدصدیق روهي، ډاکترسیدال شاه پولاد، ډاکترعبدالحکیم هلالی، ډاکتردولت محمدلودین، ډاکترنورزی، ډاکترزیار، ډاکترزیور، ډاکترزرغونه، شریفه او نور...... نومولی شو.

همدارنګه پوهاند رښتین په ډیرو سختو شرایطو کې په ګردیزاو فراه کې (وړانګه)، (سیستان) اخبارونه تاسیس کړل او چاپخانې یې په کار اچولي دي.

پوهاند صاحب د کابل مجله د هیواد اخبار، دزیري جریده هم چلولې ده. دوړمې مجله هم د دوي له علمي فیض څخه مستفیده وه.

څنګه چې لوی استاد پوهاند رښتین په پښتوژبه حاکم او برلاسی و، نو کومې ترجمې چې له اردو، عربي، فارسي څخه په پښتو کړي دي په هغوکې د ترجمې رنګ نه ښکاري. په ترجمه کې هم د پوره صلاحیت او استعداد خاوند و، د دې ټولو خبرو څخه زما مطلب دادی چې د ژبپوهنې او ادب پوهنې په ډګرونو کې داسې موضوع نه ده پاتې چې هغه دې پکښې د قلم نیلی نه وي ځغلولی.

د تاریخي پیښو، اجتماعي مسایلو، سیاسي، ولسي، فرهنګي او نورو برخو کې کره لیکنې د ده د آثارو پوره جوت مثالونه دي.

د پوهاند رښتین د هم دورې پوهاند د دوی د پوهې معیار په مختلفو ساحو کې ډیر عالي او لوړ ذکر کړی دی. د مثال په توګه، کله چې د پښتو ادب تاریخ چاپ شو او پوهاند حبیبي ته ورسید نو هغه سمدستي پوهاند رښتین ته داسې ولیکل، په قلم دې برکت شه داسې ګټور کتاب دې لیکلی، دی چې پښتو ادب کې د داسې کتاب زیات ضرورت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه یووخت چا د محمد ګل خان مومند څخه دیوې کلمې د جوړښت او معنا پوښتنه وکړه، هغه په ځواب کې وویل، چې اوس صدیق الله خان شته د دې خبرې مطلب دا دی، چې پوهاند صاحب دلغت پوهنې په ټولو برخو کې پوره پوهه درلوده دلغاتو په ریښې، معنا تفسیراو تشریح کې تاکلی مقام او پوهه درلوده.

په **۱۳۵۵** ش کال د کابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې محصلانو د پوهاند رشاد څخه داسې پوښتنه کړې وه چې په افغانستان کې په ژبه او ژبپوهنه کې کوم یو لیکوال پوره غښتلی دی؟ پوهاند رشاد په ځواب کې داسې ویلي وو: په ژبپوهنه کې دژبې د قواعدو، په ګرامري، لغوي او نورو څیړنو کې پوهاند رښتین غښتلی نومیالی پوه دی او په پښتو ژبه کې پوره نامي دی.

د معاصر غزل بابا امیرحمزه شنواري په خپلو اشعارو کې داروانښاد خادم صاحب او پوهاند رښتین صاحب په باب داسې ویلي دي:

ماچې د خادم او د رښتین علم ته پام وکړ زړه مې د افغان وپاکې خاوري ته سلام وکړ

په لندن کې د بین المللي شخصیتونو د پیژندنې په کتاب کې د پوهاند رښتین سوانح، آثار او شخصیت په هکله د معلوماتو بیان هم دده د نړیوال شهرت څرګندونه کوي.

څومره چې پوهیږم د پوهاند صاحب اړیکې په هیواد کې د ننه او بهر له خلکو سره په علمي، ادبي چاپیریال کې زیاتې وې. دوی به تل ادبي ټولیو، انجمنونو، د علم او ادب د خاوندانو سره نیغ په نیغه او یا د لیکنو له لارې اړیکې درلودلې. څومره به چې دوی خپلو ادبي ملګرو، دوستانو، شاګردانو ته لیکونه استول نو هغوي به هم د دوي سره متقابلې اړیکې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرزوینې جاري ساتلې وې ددوي د شاګردانو له ډلې د اوسني معاصرې دورې ادبي، انتقادي لیکوال ، ژورنالست سعدالدین شپون له امریکې څخه په یوه لیک کې ددوي په اجتماعي، تاریخي شخصیت داسې لیکلي دي:

(... دنورو پښتنو قدرخوکوم ، مګرستاسې لاډیرڅکه چې په دې تیره لسیزه کې د ....، ....، او نوروهمت مې وازمائیه او ستاسو هم دهغوي به بد نه وایم مګرتاسو چې په کوم پښتني غرورمحمدګل خان مومند میراثه محفوظه وساتله دهغې ثاني کم ولیدل شو. ماته ټول احوال معلوم دی اوکه جګې شملې ته چا جایزه ورکوله زما کاندید به تاسی یئ.
خدای موځاله ودانه او دتاریخي شهرت څلی اوجنډه موجګه لره.
ستاسو مخلص شپون.
په رښتیا سره پوهاند رښتین پوره دیودایرة المعارف حیثیت درلود. یوه مکمله ډکشنری وه، یوانجمن و، یوه اکاډیمي وه او په دې توګه د ۱۳۴۸ کال د افغانستان په علمي اوادبي چاپیریال کې دپنځوادبي ستوروپه ډله کې پیژندل شوی شخصیت د ی او دمعاصرادب په اسمان کې یودهغو پنځوځلانده ستورو څخه دی چې ترډیرو پیړیوبه یې پلوشې خپل قام، ولس ته دلارې مشالونه وي.
په هرصورت که نن لوی استاد ددې غم لړلې نړۍ څخه سترګې پټې کړي دي، خوپه معنوي توګه هغه تل ژوندی دی اوو ي به اوترڅو چې پښتو ژبه او ادب ژوندی وي، ادبي ټولنې او پښتني نړۍ اباده او ودانه وي نو دهغه یاد به تازه وی.

اروا دې دده ښاده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلـوی استـاد پوهانـد رښـتین یـاد ،فضـل الله رښـتین ،۲۰۰۰م کـال ،۱۹۹، ۲۰۲مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند رښتین د پښتو د خدمت په لاره کې د مضر احتیاط د یوالونه ونړول
پوهنیار محمد اسماعیل یون

دهیواد د ملي ژبې او ادب ستر خدمتګار پوهاند صدیق الله رښتین دژوند او اثارو او دهغه د ادبي خدمتونو د څرنګوالي په باب تر اوسه پورې ګڼ شمیر لیکنې خپرې شوې دي. په زیاتو لیکنو کې د استاد درغنده کلتوري کارونو ستاینه او یادونه شوې او دی د پښتو ژبې او ادب یوه ځلنده او ویاړمنه پانګه ګڼل شوې ده. استاد دا اتلولي او ستروالی په اسانۍ سره ترلاسه کړې نه دی، بلکې د خپل فکري نبوغ ترڅنګ یې د ځان تیریدنې او ژوند ځارنې د جرئت په زور د اویاړګټلی دی. زه غواړم د استاد شخصیت د ستروالي او بریالیتوب په همدې برخې چې ظاهراً خلکو ته څنګزنې ښکاري خو په حقیقت او واقعیت کې همدې برخې استاد په ټولنه کې د درنښت، ګرانښت او ستروالي پوړیو ته رسولی دی. څه ووایم.

ځینې اروا پوهان چې د شخصیت دودې بیلابیل پړاوونه یې څیړلي، دې پایلې ته رسیدلي چې نوم د نومول شوي (اسم د مسمی) له شخصیت سره په یونه یوډول اړیکې لري، دوی په دې نظر دي چې د نوم مانا د شخصیت په وده او اخلاقي جوړښت کې بې اغیزې نه ده. که چیرې د یو شخص د نوم مانا مثبته وي نو شخص کوښښ کوي چې د وخت په تیریدو سره په خپل شخصیت کې د خپل نوم د مانا څرک څرګند کړي. په اخلاقي شعوري او ناشعوري ډول خلکو ته دا په ډاګه کړي چې دده نوم دده له شخصیت سره سمون لري. که چیرې د یو نوم مانا منفي او بدرنګه وي نو دهغه نومول شوی ورر ورو دهغه له مانا سره روږدی کیږي او بیا د خپل نوم د مانا په عمل هم لاس پورې کوي او په نتیجه کې له دې شخص څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو منفي کرکټر جوړيږي. البته دا خبره سل په سلو کې پلې کېدونکې نه ده خو ترډېره بريده واقعيت ته نږدې ده.

پوهاند صديق الله رښتين يو له هغو شخصيتو نو څخه دی چې. نوم يې د مانا له مخې په مثبتو نومونو کې راځي، د هغه لومړی نوم د (صدق) يانې رښتيا له ريښې څخه جوړ شوی چې پوره صديق يې له خپل دويم نوم رښتين سره د مانا له پلوه بشپړ مساوي او مترادف دی. نو يو شخص چې د نوم د مانا له مخې دوه ځله مثبت او رښتين شي، نو داروا پوهنې له مخې سړی اټکل کولای شي چې هغه به د شخصيت له مخې څومره لوړ او ستر انسان شي.

استاد له کوچنيوالي بيا تر ستروالي د همدغو دوو نومونو له ماناوسره ولوبيده، لوی شو او ستر شو. د دې نومونو مانا بيا د قلم په روح او د ذهن په دنياکې شنه شوه او له ده څخه يې داسې يو شخصيت جوړ کړ چې د عمر تر پايه يې هيڅکله هم خپل شخصيت د تکلف او تصنع پر ناروغۍ اخته نه کړ، لکه څنګه چې رښتين و، همداسې رښتين پاتې شو. خدای پاک که له يوې خوا د استاد په ذهن او فکر کې ديو لوی نبوغ چينه شنه کړې وه او د صداقت ځانګړی امتيازيې ورکړی و، نو له بلې خوا يې د ده په زړه کې د داسې يوې مينې زړی کرلی و چې د هغه زرغونيدلو، پاللو او لويدلو د ده د صداقت او فکري قوت يووالي ته اړتيا لرله. استاد وايي ((خدای پاک د هر چا په زړه کې يوه مينه اچوي او هر څوک له يو شي سره مينه لري لکه څنګه چې خوشال بابا وايي: ( خدايه ته په زړه کې اچوې دامينې – چې په ښکار دې مبتلا کړم ته مې وينې ) د غسې يې زما په زړه کې هم يوه مينه اچولې ده او هغه مينه د (پښتو ) مينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد له خپلې دې معشوقې سره خپله مینه دومره پاللې چې د ذهن ټول ځواک او د زړګي ټول قوت یې همدې ته متوجه کړی و. هغه لکه د ځینو نوور په شان یو ګام پرشا او یو ګام مخکې لاړ نه شو، بلکې ګام په ګام پخپله لار پرمخ لاړ، یووخت یې بیا دومره واټن وهلی وچې ترشا یې یولوی ادبي کاروان راټوکیدلی و. دده مینه له پښتو او هیواد سره داسې یو حالت ته رسیدلې وه چې دهغو دخدمت لپاره یې دهیڅ ډول مضر احتیاط، سیاسي نزاکت او ځانساتنې خیال نه ساته.

دخپلې ژبې دخدمت لپاره د پښتو، په ځانګړي ډول د پښتو لیکوالو اندو داو چلندیو له بله توپیر کوي. ځینې دیو مضر احتیاط په جیل کې داسې راګیر وي چې دخدمت هرډول نوښت او جرئت ورته یو جرم او د نوروحق تلفي ښکاري.

دا ډله کسان پردې ذهني ویره او ناروغۍ هم اخته وي چې که چیرې په زغرده خپلې ژبې او کلتور ته کار وکړي، هسې نه چې څوک پرې د نشلیست او فاشیت ټاپه ولګوي نودوی دمقابل لورې دهمدې ذهني برید او تورله ویرې له دومره احتیاط نه کار اخلي چې خپلې ژبې ته یې ترګټې تاوان زیات وي.

یانې ((دمضر احتیاط)) ترپړاو رسیږي. په دې شلمه پیړۍ کې ترپښتون بابا وزیر محمد ګل خان مومند وروسته یوهاند صدیق الله رښتین یو دهغو ګوتو په شمار کسانو له جملې څخه دی چې د خپلې ژبې دخدمت په وړاندې یې د مضر احتیاط ټول ولاړ دیوالونه یو په بل پسې ونړول او په خپل اخلاقي، فکري او ادبي جرئت یې ځانته دخدمت لاره بیرته کړه. هغه د پښتو ژبې د کورنیو او بهرنیو دښمنانو، توطئه ګرو او مضر احتیاط کار و پښتنو په وړاندې لکه غرداسې ودرید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ذره .. هم له خپلو ژبنيو او ملي حقوقو څخه تيرنه شو او نه يې د هغو په سرله چاسره معامله او ((دادوگرفت)) وکړ. د شلمې پيړۍ له سياسي، ادبي او ژبنيو مسايلو سره د چلند په اړه د هيواد د ملي ژبې او ملي واکمنۍ له دښمنانو سره (دوه ځيرې) ډيرې زياتې مطرح او د بحث وړ دي، هم پرې په ليکنې او هم په ګړنې ډول نيوکې کوي، دا دوه ځيرې يو پښتنو بابا وزير محمد ګل خان مومند او بل د پښتو ستر خدمتګار پوهاند صديق الله رښتين دی. د هيواد د ملي ګټو او ملي ژبې د ښمنانو خپل ليکني او ګړنې تبليغ ته په اصطلاح داسې يو (پرداز) ورکړی چې آن پر مضر او احتياط اخته د ځينو پښتنو پر ذهنونو يې هم سيوری خپور کړی دی.

د مضر احتياط ناروغان نيوکه کوي چې که چيرې دوی (وزير صاحب او پوهاند رښتين) افراط نه وای کړی نو د دوی په وينا زموږ لړکي ورونه به نه را پاريدل، خو دوی هم لکه د نورو په شان د افراط پر اصلي مانا نه دي پوه شوي اول خو دوی افراط ندی کړی او بيا که د دوی په وينا دا يو افراط وي نو دا خو هم بايد وويل شي چې د دی کار زيږنده او لامل څه دی؟ د پښتو ژبې يو بل خدمتګار پوهاند ډاکتر مجاور احمد زيار نه چا پوښتنه کړې وه چې تاسې په ژبه کې افراط کوئ؟ هغه ورته په ځواب کې وويل: ((چې خلک تفريط کوي نو ځکه افراط کوم)) آيا دې ته افراط او تعصب ويل کيږي چې سړی په خپله ژبه ليکل او لوستل وکړي او له هغې څخه د پوهولو او را پوهولو ديوې وسيلې په توګه کار واخلي نو که دا تعصب او افراط وي نو بيا خو دنړۍ ټول ولسونه پردې افراط او تعصب اخته دي. د مرحوم استاد روهي په وينا ((که چيرې په خپله ژبه ګريدل تعصب وي، نو بيا خو په دنيا کې هيڅ څوک بې تعصبه نشته.)) د مضر احتياط ناروغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلږکیو د پاریدنې او دهغوی د حقوقو د مدعیانو د ناورسورو د مسئوولیت یوه برخه وزیرصاحب او استاد رښتین ته راجع کوي.

ترکومه ځایه چې دلږکیو د حقوقو د مدعیانو او دهغوی د قناعت خبره ده په دې باب باید وویل شي چې دهغوی مدعیان د خپل خصلت له مخې په هیڅ ډول امتیاز قانع نه دي.

استاد رښتین د یو تفریط په مقابل کې بغاوت کړی و ، هغه وایي ((زه چې کله کابل ته ولاړم نو په پل باغ عمومي کې چا پښتو نه پیژندله نو زړه کې مې یوه لمبه تاوه شوه او بیا مو کارونه پیل کړل)) هغه مجبورو چې د پښتون پاچا په کورکې وژل شوې او رټل شوې پښتو بیرته راژوندۍ کړي نو لو مړۍ هڅه یې داوه چې له قانوني او حقوقي سرچینو څخه خپل کار پیل کړي، خو پرقانوني او حقوقي سرچینو هم داسې کسان و اکمن وو چې له پښتو سره یې کینه اوج ته رسیدلې وه. د پښتو پر مختګ او رسمي کیدنه یې د بلې و اکمنې ژبې دله منځه تلو په معنی انګیرله.دی کار کې ورسره ځنې داسې پښتانه سیاسي مشران او اشخاص هم ورګډ وو چې د پردۍ ژبې په ساتنې او پالنې یې ځان مکلف ګاڼه یا یې مضرا حتیاط کاوه، یا یې ځان ساتنه او ورځ چاري کوله، خو بیا هم داسې یو شمیر کسان وو چې هغوی خپل ملي مسئولیت او رسالت پیژندلی و کله چې په شوراکې د پښتو ژبې او فارسي ژبې مسئله رامنځته شوه او خبرې ډیرتند پړاو ته ورسیدلې نو د پښتو ژبې مخالفینو استدلال کاوه چې دژبې درباري قدامت ،بډاینه او دآثارو شمیردې په پام کې و نیول شي نه داکثریت او اقلیت اندول. دا په افغانستان کې د پښتو ژبې دښیرازۍ او شاتګ حساس پړاو و. کله چې داثارو د شمیر په اندول یو نسبي توافق ته خبره ورسیده نو پوهاند رښتین یو پنډ کتابونو سره شوراته ورننوت ،هلته ښایسته ډیرفارسي کتابونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړل شوي وو کله چې د پرتلې خبره رانږدې شوه نو پوهاند رښتین د ایرانۍ فارسۍ او د ایراني لیکوالو لیکلي کتابونه یوې خواته کړل او هغه یې په قانوني توګه له محاسبې نه وکښل اووې ویل چې دا افغانستان دی ایران نه دی. کله چې هغه کتابونه له شمیرنه ووتل په افغانستان کې خودري ژبودومره کتابونه نه وو لیکلي ،که څه لیکل شوي هم وو نوهغه هم پښتنو په فارسي ژبه لیکلي وونو په ډول د پښتوآثاروتله درنه شوه او دوخت دولت مجبورشوچې دهیواد دملي ژبې په توګه د پښتوژبې قانوني حق اوحیثیت ومني او په اساسي قانون کې له پښتوژبې سره د (رسمي) ترڅنګ د (ملي) نومونه هم ولیکي.

دادپوهاند رښتین هغه اخلاقي، ملي، ادبي اوسیاسي جرئت وچې په مناسب وخت کې یې په ځانګړي حقوقي اوعلمي مهارت او قانوني حق سره د پښتوژبې حق په قانون کې تثبیت کړ. که استاد دلته له ډیرکم مضر احتیاط ،ځان ساتنې او ورځ چارۍ څخه کار اخیستی وای شاید دده لمن له سرواو سپینوډ که شوې وای خود پښتولمن به ډیره سپیره پاتې شوې وای، خودده په زړه کې رښتیا هم خدای پاک د پښتومینه اچولې وه.

پوهاند رښتین اوځینې نورملتپال چې په قانون کې دخپلوژبنیوحقوقو پرتثبیت بریالي شول نوبیا یې دخپلې ژبې ودې، پرمختګ او بډاینې ته ملاوتړله، دګڼوآثارو په خپرولو ،دپښتوپه دفتري کولو، په تعلیمي نصاب کې د پښتوپه شاملولواو دملي ترمینالوژۍ (نومونې) پرجوړلو یې لاس پورې کړ.

پدې لاره کې یې دهرمهال له چاروا کوسره ډغرې ووهلې، سره له دې چې پوهاند رښتین نه له پوځي پلوه ځواکمن و، نه له سیاسي پلوه او نه هم له اقتصادي او آن له اداري پلوه ، خویولوی حقوقي،ملي اوژبنی حق او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاتړیې ترشا ولاړ وا و ده خپله روحي قوه او فکري سپیڅلتیا ورسره ملګري کړې وه. نوځکه یې پرزیاترو چارو اکو خپل حق منلی و. استاد پدې موده کې د نورو ګڼو خدمتونو ترڅنګ یو ازې ملي نومونې (ترمینالوژۍ) ته دومره خدمتونه وکړل چې د شل کلن ناتارډول ډول ستمي او ملي ضد ناخوالو هم د هغو په له منځه وړلو زورونه رسید. اوس هم د کابل په ښارکې درښتین صاحب او نورو په لار ښوونه او زیار جوړې شوې ملي نومونې او لوحې لیدل کیږي.

زموږ له یو شمیر نورو پښتنو لیکوالو څخه دا استاد د ځانګړي شخصیت یو امتیاز دادی چې ده خپل ټول ځواک د پښتو د خدمت لپاره لګولی دی. له یو ځانګړي ضرورت پرته یې نورټول آثار په پښتو ژبه خپاره کړي دي او پدې ډول یې خپلې مینې ته خپل زړه ښه تش کړی دی.

سره له دې چې استاد پرځینو نورژبو هم پوهیده او کولای یې شول کره لیکوالي هم پرې وکړي. خودی پرهغه راز او ارزښت ډیر ښه پوهیده چې د پښتون لیکوال انرژي باید د پښتو د خدمت په لار کې مصرف شي. ځینې کسان چې په فرهنګي او ملي کارکې د یو ګام شاته او یو ګام وروسته پرناروغۍ اخته دي هغوی درښتین صاحب دې کارته هم د نیوکې په سترګه ګوري. او داسې وایي چې ولې یې د پښتو ترڅنګ فارسي ژبې ته کارنه دی کړی. دوی د فارسۍ ژبې خدمت پرپښتنو فرض ګڼي خو د پښتو خدمت یو عادي کار.

استاد صدیق الله رښتین خپلې ملي ژبې ته د راپیښو ناروغیو په وړاندې د یو سپر په شان ولاړ و، ترپایه یې د هیڅ ډول مضر احتیاط، سیاسي نزاکت، د وخت غوښتنو او نورو خبرو ترسیوري لاندې خپل شخصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرینښودہ دهغه شخصیت له یوې ملي مبدانه راپیل شوی و او په مستقیم ډول د حالاتوله بدلون سره سره دیو سترملي شخصیت تر پړاوه ورسید.

هغه دژوند تروروستیووختونویانې هغه وخت چې دناورغی پربستر پروت وهم په پښتوژبه خپلولیکنوته دوام ورکړاو یو شمیر پښتو مجلو او خپرونوته یې خپلې لیکنې او اصلاحي نظرونه لیږل. (دهوډ یالیوخویونه) په نوم داستاد یوه وروستی لیکنه دهیلې په مجله کې دچاپ لپاره زما ترګوتوشوه، ماچې کله داستاد دلیکنې دتوروپه لوستلوپیل وکړنوله یوڅه ستونزوسره مخ شوم. دا داستاد له وروستنیولیکینوڅخه یوه لیکنه وه چې هغه دناروغۍ په ډیرو سختوشرایطوکې لیکلی وه، دلیکنې کرښې کږې شوې وې، کلمې یې یوله بل سره نښتې وې، داسې څرګندیدله چې داستاد په زړه کې اوس هم دمینې ولولې څپې وهې خوګوتوکې یې نوردومره زورپاتې نه وچې هره کرښه اوکلمه بیله بیله او صفا ولیکي، استاد محمد آصف هم راسره دتوروپه لوستلوکې مرسته وکړه، هغه لیکنه په هیله مجله کې چاپ شوه ،خودکرښوله کږیدلوڅخه داسې ښکاریدله چې استاد نور له موږ نه خدای پاماني اخلي، اوس هم کله چې زه داستادهغه لیک په ذهن کې انځوروم نو همغه کږې کرښې رایادیږي اودې سره جوخت مې دهغه شخصیت هم ترسترګوکیږي چې دزمانې له ناخوالواو کړلیچونوڅخه ،بریمن راوتلی دی.

هوکې دده دلاس کرښې کږې شوې خودسرلوړي شخصیت لوړي یې هیڅکله کوږ نه شو. (۱: ۱۵۹، ۱۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهاند رښتین ځانګړې هلې ځلې

راز محمد وینښ

د پوهاند رښتین د کار، پوهې اخلاقو، خدماتو په باب ډیر څه ویل شوی ما هم په دغه برخه کې څه قلم ښورولی، او اوس یې په دې تلین کې هغو ځانګړتیاو ته د ګرانو حاضرینو پام را اړوم چې په هغه باب چا څه نه دي ویلي:

داؤد خان په ۱۲۳۲ هـ. ش کال کله چې د حکومت په کرسۍ له کښیناستو سره سم وغوښتل د افغانستان خوږ تاریخي نوم په (اریانا) بدل کړي. نو د دې کار د عملي کولو لپاره یې په پوره مهارت د غلام حسن خان صافي په خوله د وخت ډیر یاد مشهورو او پوه لیکوال لکه سراج الدین سعید، سید شمس الدین مجروح، محمد امین خوږیانی، الفت، خادم، جلالي، بینوا، مولانا ارشاد، د وړمې مجلې مدیر، محمد موسی شفیق، ارسلان سلیمی، پکتیانی، عبدالقدوس پرهیز، محمد ظاهر صافی او نور......

چې شمیرېې (۲۰) تنو ته رسیده د میلمستیا په پلمه کور ته راوبلل، سردار محمد نعیم میلمنو ته وویل: څه کیږي چې د آریانا ویاړمو په برخه شي او تردې وروسته د افغانستان د کلمې له تعصب نه تیر شو او د هغې په ځای د اریانا خوږه کلمه چې ننني بلخ یا بخدي یې مرکز غوره کړو؟ !

ټول رابلل شوي کسان چو په خوله ناست وو یوازې رښتین، خادم او چت شول او ویې ویل:

دا به سمه وي، خو که دا د غرو پښتانه چې د افغانستان نوم ورته ډیر خوږ او د اسلام مرادف ایسی پدې خبره خبرشي، خدای خبر چې هغوی په دی نزاکت پوه شی، ډیره ویره ده چې له دې خبرې به هیوادوالو او دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته لوی غم او فساد جوړشي. داؤد خان چې پوه شو چې خبره رسوايي او بحث ته وځي، ژربې د سردار نعیم خان په خوله لاس کښېښود ویې ویل: دادلوی احمد شاه ستر میراث دی. دا به پرېږدو ،که څه هم خلک ناست وو خو مجلس ډیرسوړشو او په پای کې میلمانه پټه خوله او چوپ وو تل د ملګرو له جملې یو ازی جلالي، رښتین او خادم ته یې شاباسی وو ایه او نور تروش وو.

ددې پیړۍ د دریمې لسیزې په پای کې د داؤد خان له حکومت نه لږ واندې ملي جریدې لکه: ولس، ندای خلق ، وطن ، انګار بند شول. داؤد خان په ۱۳۳۲ هـ کال کله چې د صدارت واګې ترلاسه کړې د سردار محمد نعیم په نوبت د ایران د خوشحالولو او دزړه ساتنې په خاطر یې یو ځل بیا د پښتنو په وړاندې سخت دریځ ونیو او لیکوال صلاح الدین سلجوقي یې د اطلاعاتو او کلتور وزیر وټاکه. سلجوقی لومړی خادم صاحب، د اصلاح ورځپانې له ریاست نه لرې او په ځای یې محمد علم غواص هراتی کښېناوه. غلام رحمن جرار یې له راډیو لرې او پرځای یې دکتور جاوید ودراو. نور محمد تره کی یې له اژانس څخه وویست پرځای یې عبد الحق واله وټاکه. حیدر ژوبل یې د کابل د مجلې مدیر او د پښتوټولنې مرستیال وټاکه رښتین صاحب یو ازنی شخصیت و چې له سلجوقي او سردار نعیم سره یې پښتوضد پاڅون په وړاندې ډغرې ووهلې.

رښتین صاحب ځان ټینګ کړ او خپل کار ته یې د سلجوقی د ناخوالو سره سره په شوق او مینه دوام ورکړ.

رښتین صاحب حیدر ژوبل ته هیڅ وخت ورنکړ چې ورسره وګوري او یا یې د مجلې په باب برابر کړی مطالب ولولي.

په پای کې حیدر ژوبل تنګ شو پخپل سر له مطبوعاتو څخه ووت. د پوهنې وزارت ته ولاړ. او هلته د عرفان د مجلې مدیر شو. داؤد خان خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه پلان عملي کولو لپاره يو سخت دريځ سړی دکتور سهيل هم چې دخپلې ډلې سره له ضياء قاريزاده. يوسف آينه، مايل هروی، طالع ،صديق حيا ، شيدا هروی،فکري، سلجوقي اونوروسره ملګری و.

کابل ښاروال مقررکړ. دوی دا پلان درلود چې پښتني ابښودل شوي نومونه او عناوين په بيلوبيلووجوهاتوناقص، باطل اولرې کړي.

لومړی يې دپاميرداخبارنوم په ((ښاری پاڼه )) بدل کړاودپاميرکلمه يې د دنيا دبام په معنی له دغه اخبارسره مناسبه ونه بلله.

رښتين صاحب په دې نادوده کارسخت او ډيرودرديده سملاسي يې يوه ملګري په وسيله چې بيمارنوميده او اصلاح دورځپاڼې سرمحرر ردعمل وليکه داسې چې داکاريې داخبارمؤسس په منل شوي حق تيری او د مطبوعاتي دود او قانون څخه مخالف وګاڼه او په اخبارکې يې خپورکړ. دی رد عمل په داسې حال کې چې سلجوقی دمطبوعاتو وزير او غواص يې مرستيال ود جرايدو په لروبرکې غوغا جوړه کړه. دولت دی ته اړشو چې نور دا پلان پريږدي.

د ۱۳۳۲ کال د داؤدی دولت په درشل کې چې خادم صاحب داصلاح ورځپاڼه پښتو کړې وه دپارسي ژبوغوغا زياته وه له هغې جملې يوعتيق الله پژواک وچې هغه وخت يې معروف تخلص کاوه. ده په يوه اوږده مطلب کې په پښتو او ددغې ژبې په کمښت او فقرداسې څرګندونې درلودې چې ګنې پښتو سل کاله هم داخبار، دفتر، درسی، پوهنتون جوګه کيدای نشي نوولې بې ځايه دپاړسوعلمي ژبې په مسيرکې ډبرې اچول کيږي !؟

لومړی رښتين صاحب داسې مدلل ځواب ورکړچې ليکوال يې خفاشی سره تشبه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بیا الفت صاحب ، خادم صاحب هغه ښه وکوته او سپک یې کړ، زه د رښتین صاحب د غه ځانګړتیا زیات د قدر وړ بولم او هیوادوال یې هم باید هیڅکله هیر نه کړی روح دی ښاد وي. (۲۱: ۱۷، ۴۲)

دښاغلي راز محمد ویښ دویمه وینا

درنو ګرانو او محترمو عزیزانو دوستانو حاضرینو اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته !

زه مریض او ناروغه یم صحت مې ددې جوګه نه دی چې چیرته لاړشم. خو رشتین صاحب زما ډیر حقدار دوست مهربان عزیزو. دوه پنځوس کاله سره یوځای وو. زه دافغانستان په مطبوعاتو کې په کار شامل شوی وم اول د حبیبی صاحب سره منشی وم او هلته په ابتدایی کار مصروف وم او دهغه سره کاتب وم. دغه زما دپاره یو فکري مکتب و. ځوک چې به دغه دفترته راتلل ما ترینه زیاته استفاده کړې ده.

رشتین صاحب هم په دغه وخت کې دلته و. پښتوټولنه کې و. الفت صاحب هم دغسې هریوه سره چې تاسې یې پنځه ستوري ګڼې. دپښتود ادب شملې یې ګڼې. ددوی سره مې په خپل وخت کې خاص کارونه کړي دي.

پنځوس کاله دمطبوعاتو او هم دمعارف له محیط څخه نه یم وتلی. زه په ناداری او نیستی، او هرقسم شرایط چې وو ماموریت زما دپاره افتخار و هرحالت چې وخدای تعالی راته صبرراکړ دي خلکو فضل او برکت په ما اثر کړی و او ورځ په ورځ دخپل کارڅخه په دغه ځای کې خوشحاله کیدم او خوشحاله وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوزیاته موده مې درشتین صاحب سره کارکړی دی.
دده علم او فضلیت تاسو دوستانو بیان کړ.مګرزما خوله وړه ده او ژبه مې دهغه توان نه لري. نارساده.

خوعمري مادیو مخلص په حیث دده سره عمرتیرکړی دی او دده محنت او منت له ما سره یوه لاربنودنه وه زه دده ځینی خصوصیتونه وایم.

دی ډیرصابرو. ډیرحوصلمن، سخت پرکاراو لوی پهلوان و دلسونفرو کاربه یې کاوه. پښتوټولنه په دغه وخت کې په دری نفروچلیده حتی په دوو نفرو، مولاناسیفي هلته و. ډیرپوه سړی و په اردو او عربي ډیرښه مسلط و، پښتوخویې خپله ژبه وه. ښې ترجمې یې کولې خو خدای دې وبخښي خط یې نه لوستل کیده. ده ته به رشتین صاحب داسې منشي پیداکاوه چې دده له خط سره اول بلد شي ښه ترجمه یې کوله. خودلیکوالۍ قدرت یې داسې نه و.

مګررشتین صاحب دده اثاربه نیم اصلاح کول. تاسې سیرت النبي څوجلده وګورئ چې دا په حقیقت کې رشتین صاحب ورته لیکلي دي. اوکتلي دي او اصلاح کړی. بله خبره داچې نه یوازې سیرة النبي بلکې ټول مضامین چې پښتوټولنه کې نوشته کیدل او نشریدل.

دابه ټول رشتین صاحب ټکي په ټکي کتل او اصلاح کول به یې زما په یاد شی چې ژواک اونورملګروهم دخپلې کامیابۍ اولیکوالۍ راز درشتین صاحب لاربنوونه اوله برکته ګڼله.

رشتین صاحب دسبا نه تربیګابه کیښناست اوکاربه یې کاوه پنځه دیرش کاله یې په پښتوټولنې کې کارکړی دی یوکال دوه کاله ځینی لرې شوی څه وخت له پاره نشراتو ته هم تللی او هلته مدیرشوی دی پوهنتون کې هم و. مګربیادوخت ضرورت دې ځای ته راوستلی، ډیرکارېې وکړ، ښه ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې سترې کړی په مینه یې کاروکړ خوډیرې نادودې یې هم ولیدلې. زه شاهد یم.

زه څومره چې دوی ته نژدی وم زامن یې نه وو. څومره چې زه رشتین صاحب پیژنم ، څومره چې الفت او خادم پیژنم. څومره چې حبیبي اوبینوا پیژنم. ژبه او ادب کې چې دوی څومره کارکړی ژبه خوداسې نه وه دومره کارچې رشتین صاحب کړی، نه سترې شوی او لکه په سنګرکې چې نه یې توره او نه ډال غورځولی وي.

سره د ډیرو نادودو ، مخالفتونو په سنګرکې کلک ناست و یو تعداد ځوانان د پوهنتون څخه راووتل او دغه ځوانان د ایراني مشرپه پلو خلکوله خوا په شاټپول کیدل دوی غوښتل چې پښتو ټولنه لغوه کړي. او ستوري ورک کړی.

رشتین صاحب بې له دې چې له چا سره جګړه وکړي په متانت او ثبات په خپل دریځ ولاړ او خپل کارونه یې سرته رسول.

خوښګه چې داکاډیمۍ رئیس صاحب وویل زه هم باید ووایم چې که رشتین صاحب نه وای نو نن به د افغانستان نوم اریانا و.

رشتین صاحب صدرنه و وزیرنه وخو هغه دصدراو وزیر کارونه کول یو وخت د پامیر اخبارچې دښاروالی له خوا نشریده د (پامیر) په نوم هم لانجه وه.

درشتین صاحب د کاراو کوښښ په وجه فرمان راغی چې هیڅوک نه شي کولای نومونه بدل کړي.

زه رشتین صاحب صدر بولم زه یې تاجدار بولم.

هغه داسې کارونه کړي چې بل چانه شو کولای، دده په اندازه ژبه ، خوله،خوصله ، ثبات زغم بل چانه درلود. ډوډی مارسړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شفیق صاحب ،ننګرهاری صاحب ،ستي صاحب چې رشتین صاحب ورته تخلص لری کړاو صداقت یې پرې کیښود داټول دده دوستان او ملګری و.

د دارالعلوم د دوران څخه یې له دوی سره ناسته پاسته وه دوطن ، او پښتو په خدمت کې هم سنګري و.

دا پښتو چې نن دې حد ته رسیدلی داددہ برکت دی په دې برخه کې هیڅوک دده جوګه سړی زه نه وینم.

زه دعا کوم چې خدای تعالی دی وبخښي او جنتونه یې په نصیب شه. (۲۱: ۳۴، ۳۶)

ښاغلی محمد زرین انځور:

اروا ښاد استاد پوهاند صدیق الله رشتین په افغانستان کې د پښتو دهغو مخکښو پیاوړیو لیکوالو له ډلې څخه دی، چې په خپلونه ستړی کیدونکی هڅویې د پښتو دراژوندي کولو ،ودې او پرمختګ نوی بنسټونه جوړ کړل. استاد رشتین د نوې پښتو هنري ادبي نثر له مخکښو څیرو څخه ګڼل کیږي او له همدې امله خود پښتو دمعاصرو ادبیاتو ،دنوي هنري او ادبي نثرپه وده او پرمختګ کې د یادونې او ستاینې وړ دریځ لري.

استاد رښتین او د پښتو دمعاصرو ادبیاتو ځلورنورستوري هریو استاد عبدالحی حبیبي، استاد ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم او استاد عبدالروف بینوا په داسې مهال کې د پښتوژبې او ادبیاتو پر هسک راڅرګند شول چې له بده مرغه دلیک ، تحقیق ، پوهنې او ادب دډګرټول اړخونه تش وو له همدې امله. دوی اړ وو. چې هرخواته لاس واچوي. په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کې لیکنې وکړي، هره تشه ډکه کړي، هرډول ناخوالې وزغمي، هم شعرولیکي، هم ادبي نثر، هم تاریخ ولیکي، هم دنوې ژبپوهنې او ګرامربنسټونه کښېږدي. هم ټولنیزې. سیاسي لیکنې وکړي، هم دکلاسیکو ادبیاتو دمتونو دتصحیح کاروکړي، هم ادبي تاریخونه ولیکي او هم ادبي تذکرې او دغه ډول نورو بیلابیلو اړخونو ته پاملرنه وکړي، هم درسي کتابونه ولیکي او هم نورخېړنیزژورآثار.

دبیلو بیلو علمي، ادبي ډګرونو کې دقلم دزغل په کارکې منډې تړې کړي دي او له همدې امله یې کارونه دلومړنیو بنسټونو په توګه خورازیات ارزښت لري.

سره له دې چې دغو لومړنیو پنځوستورو دپوهنې او ادب په نړدې ټولو برخو کې نه هیریدونکي خدمتونه کړي دي، خود ادبي عمرپه اوږدو کې یې هریو په یو یادوه برخو کې ترنوروټولو زیات ځلیدلی او بریالي شوي دي. زه داسې ګڼم چې اروابناد استاد حبیبي له نورواړخونوزیات دتاریخي او علمي ژوروخېړنواو دادبي تاریخ د دقیق لیکوال په توګه ، اروابناد استاد الفت دادبي هنري نثردیوپیاوړي قلموال په توګه ، اروابناد استاد خادم دتاریخي ، سیاسي مسایلو په کښلو کې ، اروابناد استاد بینوا ترنورو زیات دیو پیاوړي او مستانه شاعرپه توګه او اروابناد استاد رشتین دپښتو ګرامراو ژبپوهنې دیونومیالي متخصص په توګه د زیاتي پاملرنې وړدی. ددې خبرې مانا په هیڅ ډول دانه ده چې ددغه هریونومیالي لیکوال دادبي هڅونوراړخونه ګوندې دپاملرنې او ستاینې وړنه دي. زما په نظرد هریوه درانده لیکوال دګڼو ارزښتمنو کارونو په لړکې یې دغه یادې شوې برخې ترنوروځلندې ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد رښتین هم ،ددې په ځنګ کې چې شاعردی، ژبپوهاند دی، ادبي مورخ او نقاد او څېړونکی دی، د پښتو دهنري، ادبي نثرپه تاريخي څېړنه کې دغه نوميالی ليکوال ځکه د پوره ستاينې وړدی، چې په حقيقت کې دهمدوی په پرله پسې هلوځلو په افغانستان کې د پښتو نثرپه ورشو کې دهنري، ادبي ښکلاو بهيرونه دنند اروشول.

که موږ د پښتو په معاصرو ادبياتو کې دهنري ادبي نثرد مخکښانو او نوميالیو څېرولټون کوو ،نو کله ځنګه چې په کوزه پښتونخوا کې دمولوی احمد قاضی میراحمد شاه رضواني، منشي احمدجان ، استادراحت زاخيلي، ماسترعبدالکريم، استاد حمزه شنواری، سيدرسول رسا ، سيدميرمهدي شاه مهمدي،عبدالخالق عبدالاکبرخان اکبر،اسلم خټک، صاحبزاده محمد ادريس، رشيدعلي دهقان، اجمل خټک ، قلندرمومنداو يوشميرنورومخکښوڅېرو نومونه په لومړي سرکې راځي، داسې هم په افغانستان کې ترهرڅادمخه داستاد حبيبي، استادخادم، استاد الفت ، استادبينوا ، استاد رښتين ، برهان الدين کشککی، استاد عبدالشکوررشاد او يوشميرنورپه لومړی ګام کې دیادونې وړدي. (۲: ۲۴۴ ، ۲۴۷ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله او لنډیز

پوهاند صدیق الله رښتین د پښتوژبې او ادب ستر لیکوال ،محقق، ادیب، مورخ ،نقاد او له پنځو ادبي ستورو څخه یو ځلاند ستوری دی، چې شپیته کاله یې د پښتوژبې او ادب دا سمان لمن پخپلو روښانو پلوشو باندې ځلولې ده.

پوهاند رښتین په (۱۲۹۸) ل کال د مومندو په آزاده علاقه غازي آباد کې زیږیدلی دی ،دمولوی تاج محمد خان مهتمم صیب زوی او په قام دلوګر سلیمانخیل دی.

کله چې د هند آزادی غوښتونکو د شیخ الهند مولانا محمود الحسن په فتوی د هجرت بند وبست شروع کړ، نومولوی تاج محمد خان د ترنګزو حاجي صیب سره ملګری شو او د مومندو آزادې علاقې ته راغی.

پوهاند صاحب لومړی زده کړه په غازی آباد کې ترسره کړه بیا په ۱۳۱۱ ل کال د هډې په نجم المدارس کې داخل او ترفراغت وروسته په ۱۳۱۵ ل کال، د کابل په عربي دارالعلوم کې داخل شو.

د کابل د عربي دارالعلوم دفراغت څخه وروسته په ۱۳۱۸ ل کال دلومړی ځل له پاره په رسمي ماموریت په پښتوټولنه کې وګمارل شو او (۳۵) کاله په پښتوټولنه کې پاتې شو ،چې دوه دورې یې د ریاست چارې هم پکې سرته رسولې، وروستۍ دوره یې لس کاله وه او بیا په ۱۳۵۲ ل کال تقاعد ورکړی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتوژبه چې اوس کوم ځای او مقام لري دا ټول د پوهاند رښتين او دهغه د ملګرو برکت دی. دارواښاد پوهاند رښتين په هلوځلو اوس پښتو درا ډيو ګانو ،دفترونو ،ښوونځيو ،پوهنتون او دهيواد په اساسي قانون کې ديوې رسمي او ملي ژبې په حيث منل شوې ده.

پوهاند صاحب تر (۸۰) زيات اثار ليکلي او تر(۱۰۰۰) زياتې مقالې يې په لس زره مخونو کې خپرې شوي دي.

اوس که مرحوم په جسمي لحاظ له دې فاني نړۍ څخه تللی دی، خو په معنوی لحاظ هغه ژوندی دی ځکه دهغه افکار او نظريات ژوندي دي، علم يې د ځان سره خاورو ته نه دی وړی.

دارواښاد پوهاند رښتين دژوند وروستي کلونه دهيواد په روان ناورين او جنګونو کې تيرشول د دغه جنګونو پراساس هغه ته دزړه ناروغتيا پيدا شوه او په ۱۳۷۷ ل کال دليندۍ دمياشتې په پنځمه نيټه د (۷۹) کالو په عمر په حق ورسيد. (انالله وانااليه راجعون)

د دې رسالې په بله برخه کې دارواښاد پوهاند رښتين مرکې راغلی، دا مرکې اکثره مرحوم دخپل ژوند په وروستيو لسو کلونو کې چې روغتيا يې حالت يې هم د ډاډ وړنه و، دزړه تکليف او تشويش يې دواړه درلودل، تل يې دا خواهيش او غوښتنه وه ،چې دمطبوعاتو او خپرونو له لارې خپل علمي نظريات ، تجربې او د پښتوژبې دترقۍ او پرمختګ لارې چارې راتلونکي نسل ته ورپه ګوته کړي.

کومې مرکې چې پوهاند صاحب داخبارونو، جريدو ،او مجلو سره کړي او په دې رساله کې خوندي او بحث ورباندې شوی ،دا دي:

۱- له جرګې مجلې سره

۲- له روزنامه شهادت (اردو) ورځپاڼې سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- له سپیدې مجلې سره.
۴- له لیکوال مجلې سره.
۵- له (مخ په مخ) رسالې سره.
۶- له وفا جریدې سره.
۷- له (مرکه نامې) رسالې سره.
۸- له خاورې جریدې سره.
ددې ټولو مرکو نچوړ او مهم ټکي يې دادي:
۱- د پښتو ژبې دودې او پرمختګ په اړه:
پوهاند رښتین وايي کله چې موږ پښتو ژبې ته کار شروع کړو نو هغه وخت پښتو ژبه رسمي نه وه، پښتو ژبې ته سیاسي رونق په دولتي چوکاټ کې وزیر محمد ګل خان مومند ورکړی و.
په ۱۳۱۱ل کال وزیر محمد ګل خان له خوا په کندهار کې پښتو انجمن جوړشو، دغه انجمن په ۱۳۱۶ل کال د کابل ادبي انجمن سره یو ځای شو او پښتو ټولنه مینځ ته راغله کله چې موږ د پښتو ژبې د تحقیق او څیړنې کار پیل کړ نو په لومړی وخت یوازې موږ پنځه تنه پوهاند عبدالحی حبیبي، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، عبدالروف بینوا اوزه وم، وزیر صاحب محمد ګل خان مومند مونږ سره په دې برخه کې مرسته کوله.
دا زمونږ هماغه هلې ځلې وې، چې پښتو اوس په نړیواله سطحه خلکو پیژندلې ده. د امریکا، انګلیستان، چین، المان، روسیه، ایران، هندوستان، او نور... هیوادونه په پښتنو ژبې رادویي خپرونې کوي.
مونږ پښتو ژبې او ادب ته په ټولو برخو کې وده ورکړه، لکه، ګرامر، ادب تاریخ، ادبي څیړنې او نور راز، راز کتابونه مو ولیکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ چې کوم کارکړی هغه مود کوزې اوبرې پښتو نخوا دواړو له پاره کړی دی. که پښتانه شعراء دي دادب تاریخ یا نورآثار.موږ فرق نه دی کړی پښتو یوه ده.

۲-د پښتو ټولنې (کابل) او پښتو اکاډیمی (پیښور) د کارونو په اړه:
پښتو ټولنه په ۱۳۱۶ل کال مینځ ته راغله ، پښتو ټولنه لومړی په مطبوعاتو پورې تړلې وه، وروسته په وزارت معارف پورې وتړل شوه ،د پښتوټولنې لومړی مدیر پوهاند عبدالحی حبیبی و.
دویم عبدالرحمن پژواک و.
دریم بیا پوهاند عبدالحی حبیبی شو.
څلورم یې عبدالروف بینوا و.
پنځم یې زه وم.
شپږم یې ګل پاچا الفت و.
اووم بیا دویم ځل زه رئیس شوم.
اتم یې خیرندوال محمد صدیق روهی و.
د ۱۳۵۷ل کال دثوردمیاشتی وروسته پښتوټولنه له منځه لاړه او دافغانستان دعلوموااکاډیمی یوه برخه شوه.پښتوژبې ته په افغانستان او کوزه پښتونخوا دواړو کې کارشوی دی. خوزیات کارپښتو ټولنې کړی دی اوتر(۳۰۰) دری سوو څخه زیات عنوانه کتابونه یې چاپ کړي دي.
پښتواکاډیمی په پیښورکې هم ډیرکارکړی دی، داشعارو دیوانونه چاپ شوي ،ترجمې شوي، دشعر،افسانواوکیسوپه برخه کې پښتو ژبې ته ډیرزیات کارشوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر پښتو ژبې ته په افغانستان کې په نظري او عملي دواړو برخو کې کارشوی یعنی پښتو په مکتبونو او دفترونو کې رواج ومونداو دافغانستان ملي اورسمي ژبه هم وګرځیده، اوداکاردلته نه دی شوی.
پوهاند رښتین ادب او سیاست سره تړلی بولي وایې چې یوخت پاچاخان له ماڅخه پوښتنه وکړه چې دپښتنودترقۍ له پاره څه کول پکاردي نوماورته په ځواب کې وویل چې دیوقام دترقۍ له پاره څلورتوکي پکاردي.
علم، اقتصاد، کلتوراو سیاست تاسو په یوه پایه باندې ګاډی چلوئ ،یعني یوازې سیاست ته مولاس اچولی دی.
په دې باندې پښتون قام ترقي نه شي کولای، ددې څخه دمخه دهغوی علمي ترقي ضرورده، اقتصاد ژبه او کلتور ته یې وده ورکول پکاردي.
۳- دپروفیسورقلندر مومند (پټه خزانه فی المیزان) د ردولو په اړه:
پوهاند رښتین په خپلو اکثره مرکوکې دپروفیسور قلندر مومند پټه خزانه فی المیزان کتاب ردکړی دی پوهاند رښتین وایې: دپټې خزانې قلمی نسخه پوهاند عبدالحی حبیبی ته په لاس ورغلې وه هغه په ۱۳۲۳ ش کال چاپ کړه، پخواني کتابونه همدغسې یویادوه نسخې پیدا کیږي.
مغل چې دپښتنو ازلي دښمنان وو هغوی چې د پښتنو دتاریخ په هکله کوم آثار پیدا کړي دي هغه یې ټول سیزلی اوله منیځه وړي دي. پښتانه په خپلو ادبیاتو کې دې دورې ته مغلوا له وایي او مغلوا له دظلم معنا لري.
پوهاند رښتین وایې اعتراض خو په هرکتاب کیدای شي، مونږ د قلندر سره موافق نه یو، پټه خزانه یو پخوانی کتاب دی. بالکل درست دی محمد هوتک په دې کتاب کې پوره حوالې ورکړې دي.
د کومو کتابونو څخه چې لیکل شوی هغه یې ښودلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د قلندر صیب کورته تللی وم هغه راته خپله لیکنه پټه خزانه فی المیزان راکوله خو ما انکار وکړاو ردمې کړه.

ما قلندر ته ویلي وچې بل کوم تحقیق به دی کړی وای، اهمیت به یې زیات و د پټې خزانې څلویښت کاله شوي چې چاپ شوې ده، ته اوس وربانډې اعتراض ونه کوې، کله چې عبدالحی حبیبی ژوندی و نو دا کتاب به دې لیکلی و. په پټه خزانه کې به ځینې معلومات کمزوري وي غلطي هم پکې کیدای شي، پوهاند عبدالحی حبیبی شاعرنه و او نه یې د شعردعوه کوله، نو هغه به څنګه د غه شعرونه له ځانه جوړکړي وي، په پټه خزانه کې د (۴۹) شاعرانو حال احوال بیان شوی دی.

د پټې خزانې په برکت د پښتو ادب تاریخ دویمې هجری پیړی ته رسیږي، همدارنګه د غوریانو ژبه پښتو وه، شهاب الدین غوري او غیاث الدین غوري پښتانه پاچاهان تیر شوي، په پټه خزانه کې د بهلول لودي رباعي او د شیخ رضي لودي شعرهم راغلی دی د غه ټول معلومات موږ ته د پټې خزانې په برکت لاس ته راغلي دي.

**۴**- په افغانستان کې د روان سیاسي بحران په اړه:

پوهاند رښتین ځینې سیاسي مرکې هم کړي دي. هغه په هیواد کې د روان سیاسي بحران او جنګونو د حل یوازینی لار لویه جرګه بولي، د غه لویه جرګه باید په داسې ځای او ولایت کې جوړه شي چې هلته پوره آمن وي، د افغانستان ټول مشهور او لوی قومونه پکې برخه واخلي او پخوانی پاچا محمد ظاهرشاه یا دده پشان بل کوم خیرخواه کس د مشر په توګه وټاکي.

**۵**- ځوان او رتلونکی نسل ته توصیه او مشورې:

پوهاند رښتین د خپلو مرکو په پای کې داسې وایي.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل او پیښوردوا ړوته یو شریک کارپه غاړه دی، هغه شریک کار دژبې خدمت او تکمیل دی ځوانان باید په دې کارکې زیات کوښښ وکړي دنظم څخه زیات دنثروخواته توجه ولري ددوی له پاره یومرکزیت پکاردی ټول لیکوال باید یومرکزته رجوع وکړي، ځوانان باید ټول ددې مرکز سره تړلي وي، دژبې له پوهانو سره په تماس کې وي اودهغوی څخه دې مشورې او مصلحت واخلي اویوکاردې په خپل سرنه کوي.

هغوی به تل ددې خبرې دثبوت لپاره دامتل ویلو (چې وکاندي سلا ، نو یې ورکه شي بلا )

ددې رسالې دریمه برخه :

پوهاند رښتین دنوروپوهانو په نظرته ځانگړی شوی دابرخه لومړی په دوولویوبرخوویشل شوی.

لومړی برخه یې پوهاند رښتین دبهرنیو پوهانو په نظر، په دې برخه کې اکثره دهغه بهرنیو پوهانو نظریات راغلي چې دپوهاند صاحب په ژوند یې په خپلولیکونو اوپیغامونوکې څرگند کړي دي.

په دویمه برخه کې یې دافغانستان اوکوزې پښتونخوا دنومیالیو لیکوالوڅرگندونې، خاطرې او دعقیدت پیرزوینې دپوهاند صاحب په ژوند او له وفات وروسته ټولې بیان شوی دي.

په پای کې ترنتیجې او وړاندیزونو او مناقشې وروسته دټولو هغه مأخذونو فهرست هم وړاندې شوی، چې ددې رسالې په لیکلوکې ترې استفاده شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

۱- تر هرڅه لومړی د دې خبرې یادونه کوم ، چې په دې رساله کې که له ما څخه کومه تیروتنه او سهوه شوې وي نو د ګرانو لوستونکو څخه په ډېر درناوي هیله کوم ، چې خپل اصلاحي نظر دې له ما سره شریک کړي.
۲- د دې رسالې د هراړخیزه غني کیدنې په اړه به زما نورې هڅې دوام ولري تر څو د پوهاند رښتین تلویزوني ، رادیویي او نورې پاتې مرکې هم ترلاسه کړم او په دې توګه دا اثر نور هم بشپړ شي.
۳- د دې رسالې د هرې مرکې په پای کې پوهاند صاحب د ځوانانو او راتلونکي نسل له پاره یو لړ لارښوونې کړې دي د دغه ګټورو لارښوونو د عملي کولو له پاره باید ټول لیکوالان او په خاصه توګه ځوان نسل یې د عملي کولو په هکله مکلف او اړین بولم.
۴- څرنګه چې پوهاند صاحب د پښتوژبې په هره برخه کې په ځانګړي ډول د سفرنامو په برخه کې ډېر کار کړی دی ،که چیرې کوم لیکوال و توانیږي او دا سفرنامې سره راټولې کړي نو دا به لوی او ګټور کار وي.
۵- د تیرو درې لسیزو جنګونو په دوران کې د پوهاند رښتین شخصي کتابتون چور او تالاشوی که په دې برخه کې له چا سره د دې کتابتون د کتابونو په اړه معلومات وي نو د مهربانۍ له مخې دې د پوهاند صاحب له کورنۍ سره اړیکه ونیسي تر څو دا قیمتي اثار له ورکیدو وژغورل شي.
۶- په دولتي لګښت باید د ټولو سترو پوهانو ، ادبي او فرهنګي شخصیتونو او په خاصه توګه د پنځو ادبي ستورو مقبرې په اساسي او پاخه ډول ورغول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷-د معارف په تعلمي نصاب کې باید پنځه معاصر ادبي ستوري په مفصل ډول معرفي شي.
۸- د اروابناد پوهاند رښتین هغه اثار چې اوس بیخي ورک او د قلمي نسخو اهمیت لري باید د اکاډمیکو مؤسساتو له خوا په دویم ځل چاپ او خپاره شي.
۹- د پوهاند رښتین فرهنګي ټولنه چې د ځو کالو را هیسې فعالیت لري باید ورسره مالي مرسته وشي، ترڅو د غه فرهنګي مرکز هڅې نورې هم پراخه او ګړندۍ شي.
۱۰- د افغانستان اسلامی جمهوریت له خوا باید د علامه پوهاند رښتین په نوم یوه ادبي جایزه او علمي نښان تصویب او جاري شي.
۱۱- کوم کار چې پوهاند رښتین په خپل ژوند د خپلو اثارو د تدوین په اړه سرته نه دی رسولی ، او په ورځپاڼو ، جریدو او مجلو کې په متفرق ډول د هغه مضامین خپاره شوي ، باید هغه مضامین راټول کړای شي ، ترڅو دا قیمتي اثار د ورکېدو وژغورل شي.
۱۲- په کابل ښار کې دې کومه لوړه علمي او تعلیمي مؤسسه د پوهاند رښتین په نوم ونومول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناقشه

پوهاند صدیق الله رښتین چې نیمه پېړۍ یې د پښتو ژبې او ادب خدمت په ډېر اخلاص سره کړی او په دې لار کې یې د ډېرو ستونزو او کړاوونو سره هم مخامخ شوی دی ، اروانباد د پښتو ژبې درسمي کولو ، دفتري کولو او په تعلیمي نصاب کې د شاملولو لپاره په عملي او نظري دواړو برخو کې په زړه پورې ګامونه اوچت کړي ، چې د دې لوی کار د ثبوت او اعتراف په خاطر د هغوی د مرکو وړاندې کول یو اړین او ګټور کار بولو زه د دې مرکو یو څه برخه د مناقشې لپاره وړاندې کوم.
که دا سې پوښتنه مطرح کړو ، هغه کوم لامل وو ، چې تاسو د خپل تېزس موضوع د پوهاند رښتین نظریې د هغه د مرکو په هنداره کې وټاکله ، نو د دا سې احتمالي پوښتنو په ځواب کې باید ووایو ، چې په دې کار کې زما دوه موخې وې یوه دا چې د هغوی مرکې راټولې او دورکېدو څخه وژغورل شي ، بله دا چې په دې مرکو کې د پښتو ژبې او اد ب د ترقۍ او پرمختګ ټول بهیر بیان شوی او راتلونکی نسل یې خپلو مسوولیتونو ته متوجه کړی دی او دهرې مرکې په پای کې ، ځوانان اتفاق او اتحاد ته رابللي دي.
اوس که دا سې پوښتنه مطرح کړو ، چې له تاسو څخه د مخه نورو لیکوالانو هم په دې برخه کې څه کار کړی دی ، نو د دا سې پوښتنې په اړه باید ووایو ، چې د پوهاند رښتین د ادبي او علمي شخصیت په باره کې ګڼو لیکوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه په ادبي خدمتونو او آثارو څېړنې کړې دي ، خو دمرکو دراټولولو کار يې په لومړي ځل ما په خپل تېزس کې وکړ.
اوس که داسې پوښتنه مطرح کړو ، چې ددې مرکو مهم موضوعاتو کوم دي نو دداسې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايو ، چې ددې مرکو موضوعات ډېر مفصل او هراړخيز دي که هغه ټول دلته بيان شي ، نو کېداى شي ، چې دا مرکې بيا له سره تکرار شي ، زه يې يوازې دنمونې په توګه يو څو بېلګې تاسو ته وړاندې کوم:
زه به په اوني کې يو ځل حتمي دپوهاند صيب دليدلو لپاره دهغوى کور ته تللم ، هغوى به زما په راتلو سره ډېر خوښ شول ، ما به کوشش کاوه ، چې له هغوى څخه زيات معلومات تر لاسه کړم ، هغوى همېشه ، حوان نسل او دپښتو ژبې او ادب څېړونکو ته داتوصيه کوله ، چې په يو مرکز باندې راټول شئ شريک کار وکړئ ، يو له بل سره سلا او مصلحت وکړئ ، هغه به دپټې خزانې دشکوکو او شبهاتو دليري کولو په اړه ډېر پاخه نظريات وړاندې کول ، دپښتو ژبې او ادب دپرمختګ او ترقي لپاره يې مشورې وړاندې کولې او په دې لار کې چې اروانښاد او دهغه ملګرو کوم کړاوونه تير کړي وو ، هغه بۀ يې تشريح کول ، چې تفصيل يې په دې تيزس کې راغلى دى ، اوس که داسې پوښتنه مطرح کړو ، چې په دې مرکو کې دپوهاند صيب دشخصي ژوند او دهغه دآثارو په اړه څه داسې موضوعات هم شته ، چې ذکر يې لازم بولئ ، نو دداسې پوښتنو په ځواب کې بايد ووايو ، چې هو ، دپوهاند صيب دشخصي ژوند او آثارو په اړه مفصل معلومات په دې تېزس کې شته دى ، خو ما کوشش کړى ، چې دهغوى ديو ناچاپ اثر ، چې (پوهاند رښتين ژوند پيښې) نوميږي په دې تيزس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځخه پوره استفاده وکړم او هم مې دهغوی له آثارو او لیکنو دچاپ کال په برخه کې دنورو لیکنو سره پرتلنه کړې ده.
اوس که دا سې پوښتنه مطرح کړو ، چې ایا په دې تیزس کې دپوهاند رښتین ټولې مرکې خوندي شوي او که نه ؟ نو ددا سې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو ، چې دپوهاند رښتین یوازې اته مرکې ، چې په چاپي رسنیو کې نشر شوي ما په خپل تیزس کې راوړي دي ، له دې پرته نورې مرکې ، چې په رادیو او تلویزیون کې تر سره کړي ، دځینو تخنیکي مشکلاتو پر بنا په دې تیزس کې نه دي راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱. ازمون ،پوهنیار لال پاچا ، درښتین ژوند هنداره ،دافغانستان دکلتوري ودي ټولنه ، ۱۳۷۹ل کال.

۲. انځور ، زرین. دعلامه پوهاند رښتین با با یاد . پېښور. استاد رښتین او پښتو ادبي نثر. ۱۳۸۵ل کال.

۳. اظهر، عارف ، دمحترم پوهاند رښتین سره مرکه ، پښتو ادبي جرگه ، پېښور ، ۱۹۹۷م کال.

۴. بینوا ، عبدالروف ، اوسنی لیکوال ، لومړی ټوک ،کابل. دولتي مطبعه ، ۱۳۴۰ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. بيابـاني، سـارا ، پوهانـد رښـتين د پښـتو ژبـې او ادب څلانـده څېره(مرکه ) جرگه مجله ،کابل. قومونو او قبايلو چارو وزارت ، سنبله۱۳۷۰ل کال.

۶. حصـاري ، عزيـزالله ، د پښـتو ادب څلانـده سـتوری (مرکـه ). پېښور.خاورې جريده ۱۱-۱۲گڼه ۱۳۷۲ل کال.

۷. خليل ، حنيف، دادبي شخصيتونو سره مرکې ، مخ په مخ (رساله ) اپريل ،۱۹۹۵م کال.

۸. خليـل ، حنيـف، پوهانـد رښـتين سـره مرکـه ، وحدت ورځپاڼـه ، مارچ،۳۰ گڼه، ۱۹۹۸م کال.

۹. خليل، حنيف، پوهانـد رښـتين سره مرکـه ، وفـا جريـده ، ليـندۍ ، ۱۳۷۴ل کال.

۱۰. رښـتين، پوهانـد صـديق الله ، ادبـي ليکونـه ، يونيورسـتي بـک ايجنسي ، پېښور ، ۱۳۶۱ل کال.

۱۱. رښتين، پوهاند صديق الله ، د رښـتين ژونـد پېښـې ، ناچـاپ اثـر ، ۱۳۷۷ل کال.

۱۲. رښتين، پوهاند صديق الله ، څوک گـرم دي ، سبا ستوري مجلـه ۴-۵گڼه ، ۱۳۸۰ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳. رښتین ،فضل الله ، دلوی استاد پوهاند رښتین یاد ، دمقالو مجموعه ،پېښور. دانش خپرندویه ټولنه ،۲۰۰۰م کال.

۱۴. رښتین ، فضل الله ، دعلامه پوهاند رښتین بابا یاد ، مقالو مجموعه ، پوهاند رښتین فرهنگي ټولنه ، دساپي دپښتو څېړنو او پراختیا مرکز ، ۱۳۸۵ل کال.

۱۵. صمیم ،محمد اصف ، دپوهاند رښتین سره مرکه ،پېښور. سپېدې مجله ، دویمه دوره ، ۵گڼه ، ۱۹۹۲م کال.

۱۶. عابد ، عبدالله جان ، پوهاند رښتین سره مرکه ،پېښور. شهادت (اردو ورځپاڼه )۶مه گڼه می ۱۹۹۱م کال.

۱۷. کوټوال ، حسن ، داروانښاد پوهاند رښتین ژوند او اثار ،پېښور. هیله مجله ، ۳کال ، ۵گڼه ، ۱۳۷۰ل کال.

۱۸. ملاتړ، زکریا ، اروانښاد پوهاند رښتین دنظراو عمل په هنداره کې ،پېښور. سبا ستوري مجله ، لومړی کال ، دریمه گڼه ، ۱۳۷۹ ل کال.

۱۹. ناصر ، څېړنوال نصرالله ، نومیالی لیکوال ، تاریخ پوه او کره کتونکی اروانښاد پوهاند رښتین ، کابل مجله ۱۱-۱۲گڼه ۱۳۸۱ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰. نوید نورالبشر او هما محمد همایون ، دافغانستان نومیالي لیکوال پوهاند رښتین سره مرکه ، لیکوال مجله ، ډسمبر ، ۱۹۹۲ م کال.

۲۱. وینې راز محمد . د پوهاند رښتین ځانګړې هلې ځلې. پېښور ، لومړی کال. دریمه ګڼه. ۱۳۷۹ل کال.

۲۲. هاشمي، محی الدین ، دلیکوالۍ فن ، دانش کتابخانه ، پېښور. دوهم چاپ ، ۱۳۸۳ل کال.

۲۳. یون اسماعیل. پوهاند رښتین ژوند هنداره.جرمني. پوهاند رښتین د خدمت په لارکې د مضر احتیاط د بوالونه ونړول. ۱۳۷۹ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کورودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمد داود شینواری) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوهاند رښتین نظریې
# د هغه د مرکو په هینداره کې



پوهاند صدیق الله رښتین

ذکریا ملاتړ

۱۳۹۴ لمریز کال

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library